وَلَقَدْ وَصَّلْنَا لَهُمُ الْقَوْلَ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُوْنَ

# القول الجميل

فى

# ربط آيات التّنزيل

د سورتونو
آسان حاصل

ليكونكي

العبد مجتبى عامر بن عبد المتين عفا الله عنهما

خورونكي

مكتبة الجواهر

رابطه نمبر.....................

# (جميع حقوق الطّبع محفوظة)

الكتاب : القول الجميل فی ربط آيات التّنزيل

المؤلّف : مفكّر اسلام علّامه مفتی مجتبی عامر

حفظه الله تعالى ورعاه وأنجاه من ظلمات السّجن

الكاتب :

الطّبعة : الثّالثة : ۱۴۴۷ هـ ـ ۲۰۲۶ م

الهاتف :

د ملاويدو پته

مكتبه جواهر القرآن سليم خان صوابی .

۰۳۱۱۹۳۸۴۰۰۶،۰۳۱۲۷۳۴۸۸۰۲

سلمان UBLبينک جهانګيره

تاج کتب خانه ۰۳۱۲۹۲۱۶۸۸۷

مکتبه انوارالعلوم نزد حافظ صاحب مدرسه خار باجوړ ۰۳۰۴۹۶۹۶۸۰۰

مکتبه اسلاميه قيصر خان پلازه کالج چوک سواړئ بونير ۰۳۳۲۹۶۰۱۶۰۰

مکتبه الحسن محله عسيیٰ خيل نيو روډ منګوره سوات ۰۳۴۶۹۴۱۵۱۸۱

مکتبه حسينيه اينډ خوشبو محل شيوه اډه ۰۳۱۴۹۹۹۶۲۸۰

مکتبه مولوی عبدالحنان لوند خوړ ۰۳۴۴۹۱۰۷۸۲۹

ناشر

مكتبة الجواهر سليم خان صوابی خيبر پختونخوا

بسم الله الرّحمن الرّحيم

الحمد لله الّذی لا اله الّا هو والصّلوة والسّلام علی نبيّه الّذی لا نبیّ بعده وعلی اله واصحابه الّذين هم من امّة الّتی لا امّة بعده امّابعد :

الله تعالی خپل کتاب د مخلوق د هدايت دپاره يو درس او سبق راليږلي دي چی د هغي لوستل کتل وئيل او اوريدل د هدايت ذريعه ده چا چی هم د زړه په غوږو دا قران اوريدلي دي نو هغوئ ته الله تعالی هدايت نصيب کړي دي او دائی وئيلی دی چی :

انّا سمعنا قرانًا عجبًا يّهدی الی الرّشد فَامنّا به .

مونږ ناشنا قران واوريدلو چی لار خائی هدايت ته نو مونږ پري ايمان راوړو

د قران د خکلاو ځلا نه د قران دشمنان هم متاثره شوی دی او وئيلی دی چی : والله انّ لقوله لحلاوة ، وانّ عليه لطلاوة ، وانّ اسفله لمغذق وانّ اعلاه لمثمر ، وانّه ليعلو ولا يُعلی عليه .

قسم دي چی د دي د بيان دپاره يو خوږوالي دي او پدي کښي يو خکلي والي دي د دي ويخ کلک او ځانګي ئي ميوه داري دی او دا به غالب کيږی پدي څوک نه غالب کيږی ځني کم نظری خلق قران کريم ته اوګوری چی يو آيت کښي يو شان مسئله بل کښي بل شان نو دا قران ورته بي ربطه خکاری او وائی چی پدي کښي څه مناسبت نشته دي حالانکه د قران باره کښي داسي وائی : ولقد وصّلنا لهم القول لعلّهم يتذکّرون .

او مونږ پرله پسی جحت جحت لګيدلي بيان دوئ ته راليږلي دي چی نصيحت قبول کړی .

نو قران لړيدلي کلام دي ، او دا هم قابل توجه خبره ده چی د يو عقل مند بنده کلام کښي بي ربطی عيب ده نو بيا د الله په کلام کښي به څنګه راشی او که په قران کښي بي ربطی وي نو د قران دشمنانو به تري ولي متاثره کيدل او هغوئ به د سحر او کهانة په ځائي دا اعتراض کړي وي چی دا غير مربوط او ګډي وډي خبري دی خو هغه هوښياران اديبان د دي نه متاثره کيږی .

د قران ربط باره کښي ډير محنتونه شوی دی اکابرو عالمانو خواریٔ کړی دی خو پدي صدیٔ کښي د مولانا حسين علی صاحب رحمة الله عليه طرز ممتاز دي چی په عجيبه طرز قران لګوی او د هغوئ شاګردانو خواریٔ اوکړی ځمونږ د مشائخو او بزرګانو يو طرز وو حاصل د سورت وئيل يعنی په آسانه پښتو کښي سورت د وعظ او نصيحت په انداز يو مربوط تقرير په طرز پيش کول .

ځما په عظيمو استاذانو کښي دوه عظيم استاذان وو چی هغوئ به درس کښي د دي اهتمام کولو يو ځما د تفسير عظيم استاذ شيخ التّفسير والحديث علّامه محمّد حسين نيلوی دويم شيخ القران والحديث مولانا عبد الشّکور صاحب مدظلّه العالی ، علامه نيلوی صاحب پکښي تصنيف هم کړي دي چی نوم ئي خلاصة البيان من کلام الرّحمن دي او شيخ القران مولانا عبد الشّکور صاحب په درس کښي ډير په خکلی انداز د هغي بيان کوی .

بنده عاجز په درس کښي کله کله د خپلو استاذانو ملغلري ملګرو ته وړاندي کوی نو سورت کله کله په دغه طرز په آسان مربوط انداز سره پيش کړي شی خو د دي انداز هغه د خلاصی د شيخ القران پنج پير د سمط الدّرر په طرز وی او د هر سورت په آخر کښي لنډه خلاصه د علّامه نيلوی صاحب ده چی پښتو ژبي ته اړولي شوی ده . په جيل کښي په درس کښي پدي طرز ځني سورتونه اوليکلي شو نو ملګرو ډير خوښ کړو او ځمونږ يو محبوب ملګری محترم رور مولانا طارق جميل د باجوړ مشوره راکړه چی دا قلم بند کړي شی نو فائده به عامه شی نو د حريری خبره چی : فاَشار مَن اشارته حکمٌ په تحت د هغه وينا خکته غورځول ګران وو نو په جيل کښي په ناقصو اسبابو په کمزوری ذهن ، پريشان کن حالاتو کښي څه مات ګډ ټکی راجمع کړي شو او چونکه دا مطالبه د مولانا طارق جميل صاحب وه نو د هغي په مناسبت د دي نوم القول الجميل فی ربط آيات التّنزيل کيخودلي کيږی .

الله تعالی نه سوال کوم او منت او زاری چی دا ليک دِ ستړي اونه ګرځوی او الله تعالی دِ قبول کړی او د خپل کتاب د خدمت يو ادنی ذريعه دِ اوګرځوی او الله تعالی د دي ثواب ځما محترمو شيوخو او مور پلار رونړو خويندو ، رشته دارو او يارانو دوستانو ته اورسوی او الله تعالی ځما او ځما د ملګرو د جيل نه د خلاصون ذريعه اوګرځوی ، غلطی به ډيره زياته وی خو چشم پوشی د کريمو او شريفو اخلاق دی او په طريقه خبرول زبردسته اصلاح ده .

الله تعالی دي د نیکۍ په تول کښې د ناظرینو او خدمت کونکو ملګرو پدې سره اضافه اوکړی امین یاربّ العالمین .

العبد مجتبی عامر بن عبد المتین کان الله له عوضًا عن کلّ شيءٍ

سلیم خان صوابی

حالًا مسجون راجی الخلاص بعون ربّ النّاس

۱۱ اکتوبر ۲۰۲۰ء یوم الاحد ۰۸ : ۱۲

# فهرست

سورة الفاتحة ........ 14
سورة البقرة ........ 15
سورة العمران ........ 25
سورة النّساء ........ 34
سورة المائدة ........ 41
سورة الانعام ........ 45
سورة الاعراف ........ 49
سورة الانفال ........ 51
سورة التّوبة ........ 54
سورة يونس ........ 55
سورة هود ........ 59
سورة يوسف ........ 61
سورة الرّعد ........ 62
سورة ابراهيم ........ 63
سورة الحجر ........ 64
سورة النّحل ........ 65

سورة بنی اسرائيل ........ 67
سورة الکهف ........ 70
سورة مريم ........ 71
سورة طه ........ 72
سورة الانبياء ........ 73
سورة الحجّ ........ 75
سورة المومنون ........ 77
سورة النّور ........ 78
سورة الفرقان ........ 80
سورة الشّعراء ........ 81
سورة النّمل ........ 82
سورة القصص ........ 83
سورة العنکبوت ........ 85
سورة الرّوم ........ 86
سورة لقمان ........ 87
سورة الم سجده ........ 88
سورة الاحزاب ........ 89

سورة سبا ........ 91
سورة الفاطر ........ 92
سورة یس ........ 93
سورة الصّافّات ........ 94
سورة ص ........ 95
سورة الزّمر ........ 96
سورة المؤمن ........ 98
سورة حم سجده ........ 99
سورة الشّوری ........ 101
سورة زخرف ........ 102
سورة الدّخان ........ 104
سورة الجاثیة ........ 106
سورة الاحقاف ........ 107
سورة محمّد ........ 108
سورة الفتح ........ 109
سورة الحجرات ........ 111
سورة ق ........ 112

سورة الذّاريات........ 113
سورة الطّور........ 113
سورة النّجم........ 115
سورة القمر........ 115
سورة الرّحمن........ 116
سورة الواقعة........ 117
سورة الحديد........ 117
سورة المجادلة........ 118
سورة الحشر........ 119
سورة الممتحنة........ 120
سورة الصّف........ 120
سورة الجمعة........ 121
سورة المنافقون........ 122
سورة التّغابن........ 123
سورة الطّلاق........ 123
سورة التّحريم........ 124
سورة الملك........ 125

سورة القلم ........ 125
سورة الحاقّة ........ 127
سورة المعارج ........ 127
سورة نوح ........ 128
سورة الجنّ ........ 128
سورة المزّمل ........ 129
سورة المدّثّر ........ 130
سورة القيامة ........ 131
سورة الدّهر ........ 132
سورة المرسلات ........ 132
سورة النّبأ ........ 133
سورة النّازعات ........ 134
سورة عَبَسَ ........ 135
سورة التّكوير ........ 135
سورة الانفطار ........ 136
سورة المطفّفين ........ 136
سورة الانشقاق ........ 137

سورة البروج ........ 138
سورة الطّارق ........ 138
سورة الاعلی ........ 139
سورة الغاشیة ........ 139
سورة الفجر ........ 141
سورة البلد ........ 141
سورة الشّمس ........ 142
سورة الّیل ........ 142
سورة الضّحی ........ 143
سورة الانشراح ........ 144
سورة التّین ........ 144
سورة العلق ........ 145
سورة القدر ........ 145
سورة البیّنة ........ 146
سورة الزّلزال ........ 146
سورة العادیات ........ 147
سورة القارعة ........ 147

سورة التّكاثر ........ 148
سورة العصر ........ 148
سورة الهمزة ........ 149
سورة الفيل ........ 149
سورة القريش ........ 150
سورة الماعون ........ 150
سورة الكوثر ........ 151
سورة الكافرون ........ 151
سورة النّصر ........ 152
سورة اللّهب ........ 153
سورة الاخلاص ........ 153
سورة الفلق ........ 154
سورة النّاس ........ 154
سورة الفاتحة ........ 155

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة الفاتحة)

اي خلقو ! مدد صرف په نوم د الله حاصل کړئ

او داسي اووايئ چی ټول صفتونه د خدائتوب صرف د الله تعالی دی ځکه هغه خالق ، رب ، مبارک او اختيار مند دي نو د دي صفتونو تقاضا ده چی اووايئ چی صرف ستا بندګی کوو د بل چا نه او مدد صرف ستا نه غواړو نه د بل چا نه نو پدي لار د کلکيدلو دعا اوغواړئ چی مونږ. د هغه چا په لار کلک کړه چا ته چی ربط القلب نصيب شوي وو او د غضب او ضلال نه مو محفوظ کړه . امين .

مختصره خلاصه :- دا اووايئ چی په غائبانه حاجتونو کښي مونږ. صرف د الله تعالی نه مدد غواړو او آئنده کښي به صرف د الله نه مدد غواړو .

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة البقرة)

چي کوم هدايت تاسو په فاتحه کښي غوختلي وو نو هغه عظيم الشّان دستور او قانون په شکل راغلي دي چې څوک د ضد او عناد نه پاک شی او دا کتاب راواخلی نو هغه په دواړه جهانه کښي کامياب دی (۵) او څوک چې ضد او عناد اوکړی نو دنيا کښي به د ده نه د ده د علم طاقتونه واغستلي شی او آخرت کښي تباه او برباد دي په دواړه جهانه خوار (۷) او څوک چې د ګمراهئ شکار شو او دي کتاب او د دي کتاب منونکو سره دهوکي کوی مفاد پرست وی نو هغه که د دي خپل عمل نه واپس نشو نو دردناک عذاب به ورته اورسيږی او که نه په خپلو ګندګو کښي کلک پاتي شی نو د هدايت لار پري بنده ده او هغه خپل فطری هدايت ئی هم بائله (۱۷) که د دي روستو دوو ډلو کښي دي څه شک وی چې داسي هوښيار او عقلمند څنګه د فائدي ده څيز سره دشمنی کوی نو د دوی د وضاحت دپاره مثالونه اوګوره ... (۲۰) هغه انقلابی آواز چې کوم دا لاريب کتاب کوی او د هغي د وجي نه خلق ډلي ډلي شی هغه دا آواز دي چې اعبدوا ربّکم دا مسئله بالکل د عقل برابر ده لکه ځان او جهان ته اوګورئ نو ولي هغه سره شريکان جوړوئ (۲۲) او که ستاسو پدي دعوی کښي دا شک وی چې دا د الله د طرفنه نده نو څه په خپله دعوی د دي غوندي دليل راوړئ نو چې کله داسي نشی

کولئ او بیا هم د دي دعوي نه انکار کوئ نو خپل انجام اوګورئ او چی اومنله نو د هغوئ حال اوګورئ کوم مو په ځان پیرزو دي (۲۵) او که دا شک وی ستاسو چی دا څنګه د الله کتاب دي پدیکښي خو د بیکاره څیزونو تذکره ده نو دا خو ستاسو د پوهي دپاره دی چی په مسئله پوهه شئ خو د دعوي منونکی پوهه شی او ضدیان او عنادیان په ضد کښي اعتراضونه کوی ځکه چی انابت پکښي نشته او پلیتئ پکښي دی نو تاوان به ئی په برخه شی (۲۷) تاسو څنګه د دي مسئلی نه انکار کوئ او څنګه د غیر عبادت کوئ لږ خپل ځان ته اوګورئ د الله د احساناتو د لاندي یئ هغه درسره خه کړی دی د نیش نه ئی شته کړي د دنیا د فائدی څیزونه ئی ستاسو دپاره پیدا کړی دی (۲۹) او لږ خپل د پیدائش مقصد ته اوګورئ لوئی مقصد له پیدا یئ چی د خلافت دی او لوئی دولت د علم ئی درکړي دي او فرشتي ئی ستاسو بابا ته په سجده غورځولي وی (۳۴) او د هغه د اکرام کولو نه روستو د هغه نه کوتاهي شوي وو هغه ئی ورته معاف کړو نو هغه الله درسره دومره احسانات کړی دی نو ولي د غیر عبادت کوئ چی څوک د غیر د عبادت نه ځان بچ کړی او د اعبدوا په دعوی روان شی نو هغه کامیاب او نه منونکی د اور خاوندان (۳۹) نو اي خاصو خلقو چی د علم خاوندان یئ او د نیک سړی اولاد یئ تاسو خو دا دعوت د اعبدوا اومنئ او د کفر رهبری مه کوئ غلط صفتونه د ځان نه لري کړئ او ښکلی صفتونه د صبر صلوة او ایمان بالاخرة په ځان کښي راولئ په آخرت کښي دا اعبدوا پکاریږی رشتي او دولت پکار نه راځی (۴۸) تاسو لږ خپل حال ته سوچ اوکړئ ما درسره خه کړی دی نو تاسو هم خه اوکړئ دا

اته غټ احسانونه یاد کړئ او کله مو چی بی ادبئ کړي وه نو دوه عذابونه مِ درکړی نو اوس که انکار کوئ نو هغه الله یم خو خه دا ده چی د اعبدوا په دعوت عمل اوکړئ چی لا خوف لا یحزنون شئ (۶۲) او لږ خپل حال ملاحظه کړئ چی په کومو وجو د عزت د بام نه پریوتئ نو دي عربو له هم پکار دی چی تاسو ته نه ګوری او ستاسو په قدم قدم نه کیږدی ځکه ستاسو پلارانو هم وعدي ماتي کړي وي او د الله تعالی حکمونو کښي چلونه کول او د مال دپاره ئی بي ګناه خلق وژل او تهمت ئی بی ګناه لګولو سره د لیدلو د قدرت د الله نه ئی زړونه سخت شو چی د دي د وجی نه هغه پلیتئ ئی اولاد ته رامنتقل شوی نو د مشرانو نه په تحریف منافقت او په غلط تقلید او دین خرڅولو او بی ځایه د جنت دعوو کښي سوا شو که دا عمل ئی وی نو دوزخ ئی ځائی دي او که نه ځان ئی بچ کړو او اعبدوا ئی عملی کړو نو جنتیان به شی (۸۲) تش دا نه د دوئ دا هم پلیتی ده چی د کولو کار نه کوی او د نه کولو کار له پړانګان دی دا دنیا د محبت د وجي نه نو اوس پکښي د خوشحالئ ځائی پاتي نشو او څوک به ئی مدد اونه کړی (۸۶) او دا له څه صرف حکم نه منل څه چي اولته چا به ورته احکام بیانول نو د هغوئ دشمنی ئی کوله پخوانی انبیاء ئی نه منل او شهیدان کول ئی اوس لا دا هم وائی چی مونږ په علم پوره یو (۸۸) نو سره د دي نبی علیه السّلام د غوختلو او پیژندلو نه ئی سره د علم نه د ده دعوت داعبدوا نه د ضد او عناد د وجي نه انکار اوکړو نو زوړ غضب سره دا نوي غضب شو او رسوا به شی (۹۰) د دوئ د بیان حاصل واوره چي څومره خکلي بیان اوشو چی دعوت د اعبدوا د منلو دا د قران په حواله ورکړي نو

دوئ بهاني شروع کړی چی ولي ځمونږ وحی کښي څه نقصان دي چی بله اومنو نو ددوئ دي عملونو ته اوګوره او په خپله وحی ایمان ته اوګورئ ایمان دیته وائی ؟ (۹۳) په دلیل او په ترغیب او ترهیب بیان اوشو اوس هم نه منی نو اعلان د مباهلي ورسره اوکړه خو دوئ دیته چري نشی تیاریدلي دوئ ته ځان معلوم دي او په دنیا مئین دي نو څه الله تعالی ته معلوم دی (۹۶) دا دعوت د اعبدوا په تعلیم د جناب رسول الله صلّی الله علیه وسلّم اومنئ هغه د الله تعالی حق پیغمبر اومنئ نو دوئ زر بهاني شروع کړی چی دا وحی جبرئیل راوړی او هغه ځمونږ دشمن دي نو دا ځومره بے انصافی ده جبرئیل خو د الله په حکم هدایت او زیري راوړی د هغه دشمنی د الله دشمنی ده د صافو آیتونو نه انکار د فاسقانو کار دي دا انکار د دوئ زوړ عادت دي دا پیغمبر خو د دوئ والا مسئله بیانوی نو دوئ تری ولي انکار کوی او د الله کتاب شاته غورځوی (۱۰۱) دویمه بهانه دا کوی چی ته د سلیمان نوم اخلي او هغه ساحر وو نو دا ځومره ظلم عظیم دي سحر خو کفر دي هغه د شیطانانو کار دي او که دا وائی چی فرشتی په سحر راغلي وی او ته مونږ د نداء د غیر الله نه منع کوی او سحر کښي دا شته نو ولي مونږ منع کوي نو د فرشتو د حقیقت نه ئی خبر کړه چی هغوئ امتحان او عذاب له راغلي وي که د جادو خودلو له جادو زده کول د خلقو نقصان وو نو اوس هم وخت دي د نبی علیه السّلام په رسالت ایمان راوړئ او اعتراضونو نه ځان بچ کړئ دا به درله خه وی (۱۰۳) دوئ زر وائی ته مونږ د صحیح الفاظو نه منع کوي نو مومنان پوهه کړه چی هغه الفاظ چی پکښي بے ادبی او شرک وی هغه مه وایئ (۱۰۴) د دي خلقو کوشش دي چی

ستاسو په         د قران نه محرومه کړی نو ويخ اوسړئ او بيدار (۱۰۵) زر به اعتراض اوکړی چی کله يوه خبره او کله بله په خپل دين دي اعتماد نشته نو ورته اووايه چی څه د حکم پابند يم (۱۰۷) مومنانو ويخ شئ بيدار شئ تاسو د هغئ په شان نشئ ګنی نو کافر به شئ د دوئ دا کوشش دي خو تاسو الله ته توجه کوئ چی زړه مو مضبوط وی (۱۱۰) دوئ ستاسو د اړولو دپاره دا کوشش هم کوي چی جنت په ځان کښي بند کړی خو د جنت قانون دي (۱۱۲) او تاسو تسلی ساتئ دوئ خپلو کښي د يو بل دشمنان دی (۱۱۳) که چرته تا په دشمنئ کښي د جماعت نه اوباسی نو ملک د مولی پلن دي او خپی د طالب خپلی دی (۱۱۵) او دا اعتراض هم کوی چی ته د اولياء ګستاخ ئی او نيازولی نه مني د هغي ورته پنځه جوابونه اوکړه (۱۱۷) او که دا وائی چی ستا په رسالت دي مونږ سره الله خبري اوکړی نو دامخکښي خلقو هم وئيلی وو ستا د رسالت نخي موجود دی نو که دوئ نه منی نو په تا څه بوج ؟ (۱۱۹) خو ته چرته خپل بيان کښي د دوئ د خوشحالولو دپاره لچک پيدا نه کړی ستا هدايت کامل او صحيح دي د دوئ پسی تلل اتّباع د خواهش ده (۱۲۰) او پدوئ کښي هم چی کوم حق پرست دی نو هغه ستا په رسالت ايمان راوړی نو توحيد سره ورلره ستا رسالت منل پکار دی نو د آخرت د کاميابئ ذريعه به شی ګنی نو نشی کاميابيدلي (۱۲۳) مشرکان او يهود ټول د ابراهميت دعوی کوی نو د ابراهميت د حقيقت نه ئی خبره کړه چی صحيح ابراهيمی څه يم که تاسو ؟ ابراهيم عليه السّلام خو بيت الله توحيد له جوړ کړي وو او ځما د رسالت دپاره ئی دعا کړي وه او د ټولو انبياء متّفقه مسئله د توحيد ده او تاسو د دي

خبرو خلاف کوئ نو ځنګه دعوی د ابراهميت کوئ په نوم او نسبت کار نه کيږی کار به د الله په توحيد منلو او صحيح ايمان کيږی راشئ د صحابه غوندي ايمان او په اسلام ځان رنګ کړئ هله به کامياب يئ تاسو صرف د نوم فخر کوئ او حق پټوئ (۱۴۱) او د حق د پټولو يوه طريقه دا هم کوئ چی دا ځنګه پيغمبر دي کله يو طرفته مخ کوی کله بل طرفته نو د قبلي په حقيقت ئي پوهه کړه قبله ، پيغمبر قران د الله نعمتونه دی قدر ئی اوکړئ او که تکليفونه راځی نو صبر او صلوة وظيفه کړه او مرګ پدي لار کښي سعادت اوګنړئ او دا خو ده چی ايمان کښي امتحانات راځی خو امتحاناتو کښي کلک کامياب دي (۱۵۷) چی نور څه تری اونشی نو آخری بهانه دا کوی چی تاسو مونږ ته مسئلي کوئ په خپله پري حملي کوئ مونږ د بتانو د عبادت نه منع کوئ او خپله د صفا او مروه طوافونه کوئ پدي خو بتان پراته وو نو د دي په حقيقت ئی پوهه کړه د دوئ غرض پدي اعتراضونو صرف ستا حقه پيغمبری پټول دی نو چی حق پټوی نو لعنتيان دی که توبه ئی اونه ويستله (۱۶۳) ته خو الله تعالی دي حقي مسئلي د توحيد له راليږلي ئی پدي د عقل ثبوتونه موجود دی خو دا بي انصافه د الله سره نور برابروی او د هغوئ په نوم منختي کوی او داسي ئي په حل او حرمت کښي منی لکه د الله تعالی نو د عذاب په ورځ به افسوسونه کوی نو نن تري ولي ځان نه بچ کوی (۱۶۷) نو اي خلقو ! لکه ځنګه چی عقيده د شرک نه پاکول ضروری وو نو دغه شان عمل هم د شرک نه پاک کړئ د ځان نه حرمتونه مه کوئ او نذراني د غير مه منئ دا د شيطان تعليم دي چی دا دليل خائسته کړی چی دا ځمونږ د مشرانو طريقه

ده دوئ لکه د ډنګرو د داعی دآواز نه فائده نه اخلی نو اي مومنانو تاسو خو د غير د حرمتونو او د غير د شکرانو نذرانو نه ځان اوساتئ او چی څوک دا مسئله نه بيانوی او دنيا اسره کړی نو د هغه حال اوګورئ د دين نه ډير لري پاتی شو (۱۷۶) چی کله مو دا دوه مسئلي پخي کړی يو د لا اله الّا الله بل د محمّد رسول الله نو اوس دا دعوت په دنيا خورولو او حاکم کولو دپاره جهاد ضروری دي نو د جهاد دپاره په لسو مسئلو ځان سم کړئ (۱۷۷) بيا خپل ملک په قانون الهی سم کړئ چی بګاړ نه وی نو څلور غټی خبري د ملک په اصلاح کښي ضروری دی يو فوجداری مقدمات په قران حل کړئ څوک ظلم ته مه پريږدئ دويم مالی مقدمات هم په قران حل کړئ مالونه په شريعت تقسيم کړئ چی جهګړي نه وی (۱۸۲) او روژه ساتئ چی د لوګو تندو عادت يئ او جهاد کولي شئ او د حرامو نه ځان بچ کړئ او ملک د رشوت نه پاک کړئ ورسره فضول سوالونه اوکارونه مه کوئ چی کامياب شئ (۱۸۹) چی مو ملک سم شو اوس جنګ اوکړئ د جنګ په اصولو باندي او د هغي دپاره انفاق هم اوکړئ (۱۹۵) او عزتمندو ځايونو ته د فتح د سوال دپاره حاضری کوئ او جهاد سره دا ځايونه او اعمال محفوظ کيږی او دي اعمال يعنی حج او عمری سره به د جهاد تربيت هم اوشی ځکه د دي او د حج مناسبت ډير دي نو حج او عمره کوئ خو د الله دپاره نه کښي د دنيا دپاره چی دنيا له کوی بدبخته دی او الله له کونکی نيک بخته دی د حج د اجتماع سره د آخرت اجتماع يادوئ (۲۰۳) خپلی خبری د جهاد له راشئ خلق فسادونه کوی اعلی بدبخته د خلقو دين او مال بربادوی او د اعلی نيک بختو په قدم روان شئ خپل

ژوند الله له قربانوی د هغوئ په قدم روان شئ مومنانو په اسلام کښي مکمل داخل شئ او جهاد هم د اسلام حکم دي نو جهاد اوکړئ ، د اسلام د حقانیت صاف دلائل دی نو ولي اوړئ د څه انتظار دي د عذاب وخت کښي خو نه قبلیږی (۲۱۰) بنی اسرائیلو جهاد نه وو کړي نو څه ورسره اوشو کافر په دنیا مست دی دا د دوئ د حقانیت نخه نده دا خو د الله ویش دي چاله لږ چاله ډیر نو چی څوک د انبیاء په اتفاقی مشن توحید کښي اختلاف کوی نو دا ختم کړئ تش په دعوو جنت نه میلاویږی جنت دپاره به څه کول غواړی (۲۱۴) خو یو اهمه خبره ضروری ده چی لکه څنګه د جهاد دپاره د ملک اصلاح ضروری ده نو دغه شان ورله د کور اصلاح هم ضروری ده نو پدي اتلسو مسئلو خپل کور سم کړئ چی کله مو خپل کور سم کړو (۲۴۲) نو اوس د مرګ نه یره مه کوئ په جهاد کښي مرګ ندي نو بدنی او مالی جهاد اوکړئ او ځان له امیر منتخب کړئ په لږ والی او ډیر والی پرواه مه کوئ د الله نه دعاء د بری کوئ او د دشمنانو د شر دفع کولو او شرک ختمولو دپاره جهاد اوکړئ او دا حقه مسئله ده پدي ستا بعثت شوي د جهاد وجه د انبیاء تفضیل ندي بلکه دانبیاء د مشن نه اختلاف کول دی (۲۵۳) جهاد هسي ترقی نه کوی تر څو چی انفاق نه وی نو انفاق اوکړئ کافر ځکه ظالمان دی چي دا زبردسته مسئله د توحید نه منی دا څنګه په دلیلونو خکاره ده نو پدیکښي زور ته څه حاجت جهاد او انفاق خو د مسلمانولو دپاره ندي مسئله بالکل واضحه ده نو د وضاحت نه روستو څوک د الله تعالی دوستان شی نو الله تعالی هغوئ د تیارونه اوباسی او څوک د شیطان په لار روان شی نو شیطان ورته رنړا تیاره کړی که

مثال کتل غواړی د شیطان د دوست مثال اوګوره چی نمرود ته رنړا راغله خو ده نه منله او د الله د دوستانو دوه مثالونه اوګوره معمولی زړه کښي ارمان راغلي دي الله ورلره پوره کړي دي (۲۶۰) نو تاسو دا شک مه کوئ چی انفاق سره به مال کم شی بلکه تاسو په اصولو برابر انفاق اوکړئ نو الله یی زیاتوی مثالونه اوګورئ او چي په شرطونو برابر نه وی نو هغه پکار نه راځی د هغي مثالونه هم اوګورئ سوچ اوکړئ کوم مو خوخ دي (۲۶۶) نو اي مومنانو ! چی کله مو مثالونه واوريدل نو عمده او حلال خرچ کړئ د شیطان په لمسه پسی مه ځئ د الله په وعدو یقین اوکړئ دا په ځان موافق او برابر د خرچ توفیق د الله فضل دي او لکه څنګه چی د مال د خرچ کولو شرطونه وو نو دغه شان د علم د خرچ کولو هم دی دا ډیروالي دي نو چی څه خرچ کوئ نو ملاويړی خه خکاره وی او که پټ وی دا مه وایئ چی مونږ په کافرو رشته دارو خرچ کوو هغه مسلمانيږی نه توفيق د اسلام د الله کار دي خرچ د الله د رضا دپاره بے کاره نه ځی خو اهم ځائی په طلباء او مجاهدينو خرچ کول دی که شپه وی او که ورځ وی اجر به درته میلاؤ شی (۲۷۴) څومره خکلي بيان د انفاق اوشو چی الله تعالی د بي عوضه خرچ کولو ترغيب درکوی او دي بخيل سود خور ته ګوره د خلقو مالونو نه ناجائزه فائده اخلی او سود سره خوری که د خپل عمل نه منع نشو نو انجام ئي ډير خراب دي او د الله مخي ته پيشی ده (۲۸۱) نو د سودی معاملو په ځائی صحیح معاملي کوئ الله تعالی تاسو ته د صحیح معاملو طریقه خائی نو صحیح معاملات اوکړئ غلط پريږدئ (۲۸۳) نو خبره او مضمون پوره شو اوس ئی مختصره خلاصه واورئ چی

سورت کښي اهم مضمونونه هم دا وو چی اختيارات صرف د الله تعالی دی او د هغه د رسول منل مومنان هم دا اعلان کوی او د دي دپاره جهاد او انفاق څه د وس نه بهر نه دی نو دا اعمال کول ځان له فائده ده د انسان نه کمي کيږی نو دعاء ګاني کوئ الله ستا مدد ګار دي نو د بری فتح سوال تري کوی چی اي الله مونږ د مقاصدو منکرو ته مه ملامته کوي او فتح او بري راکړي امين يا ربّ العالمين .

(لنډه خلاصه)

د يهودو پشان د غوا بندګی نه کوو بلکه د هر باطل عبادت کونکو سره به په دينی او دنيوی لحاظ سره منظّم کيدلو نه روستو جهاد کوو.

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة العمران)

کله چی د یهودو د شرک او د غلطو اصلاح اوشوه نو اوس د غلطو پیرانو نصارو اصلاح اوکړه چی هغوئ د ال عمران (د عیسی علیه السّلام او د هغه د مور مریم بی بی) بندګی کوی نو اول هغوئ ته اووایه چی د الوهیت د تعظیم لائق صرف او صرف الله تعالی دي نه عیسی علیه السّلام او نه د هغه مور پدي مسئله وحی هم شوي ده او پخوانی کتابونو هم دا مسئله بیان کړي دي انکار کونکی د عذاب مستحق دی ولي دوئ د عقل نه کار نه اخلی چی په هر څه پوهه او د هر چا پیدا کونکي صرف الله تعالی دي نو ولي اله دِ بل څوک وي چري هم نه (۶) دوئ به زر وائی چی مونږ منو خو څمونږ یوه شبه ده هغه دا چی څمونږ په کتاب کښي عیسی علیه السّلام ته ابن الله وئیلی دی نو دوئ ته د شبهي اول جواب اوکړه چی کچرته دا لفظ په انجیل کښي وی نو تاسو ئي په مطلب نه پوهیږئ دلته ابن په معنی د محبوب دي خو د کږو زړونو والا کږه معنی اخلی او لم یلد ولم یُولد ته نه ګوری دعلم خاوندان چی په کوم ټکی نه پوهیږی د هغي علم الله ته سپاری او عقیده په محکماتو جوړوی نو تاسو د شبهاتو په وخت کښي د استقامت سوال کوئ د آخرت ورځ یقینی ده الله به خپله وعده رشتیا کړی (۹) چي کوم خلق د دي بیان نه روستو هم انکار کوی نو اور ئي ځائی دي آخرت پریږده دنیا کښي به هم

لکه د فرعونيانو تباه شی که تاسو ته دا ګرانه خکاری چی سپر پاور به څنګه صفر شی نو د بدر ورځی نه عبرت واخلئ (۱۳) دوئ د دنيا په ساز وسامان دهوکه دی ځکه ستا بيان نه منی چی ځمونږ نه به مفادات خراب شی نو دا خو څو ورځی ژوند دي آخرت ته ولي سوچ نه کوی چی ډير بهتر دي او په دي زبردستو صفتونو حاصليږی نو ديته شوق اولرئ (۱۷) او مسئله د توحيد خو د وحی نقل او عقل نه ثابته ده او دوئ چی کومه شبه کړي وه چی عيسی عليه السّلام ته ئي ابن الله وئيلی دی نو د هغي جواب بل اوکړه چی د هميشه نه دين اسلام ته د دي خلاف چی کوم عبارتونه په انجيل او تورات کښي ملاويږی نو دا باغيانو د ځان نه دننه کړی دی نو خه دا ده چی تاسو هم لکه ځما او ځما د ملګرو پشان اسلام ته غاړه کيږدئ (۲۰) خو دا بے انصافه چرته داسي کوی د دوئ خو دا کار دي انکار کول او حق پرست شهيدان کول نو دوئ څه په خپل عمل نازيږی هغه خو دوړه دی او څوک ئي نشی خلاصولي نه عيسی عليه السّلام او نه ئی مور او د دوئ لوئ مرض دي چي خبره د الله تعالی په کتاب نه فيصله کوی او سره د بد عمل نه د جنت دعوی کوی د قيامت ورځ راروانه ده هلته خبره د عمل ده نه د دعوو او د نسبتونو (۲۵) نو ته ورته مسئله د توحيد په خکلی انداز اووايه چی اي نصارو ستاسو دور حکومت ختم شو دا اختيار د الله دي چی چاله ئی ورکوی ځکه هر قسم انقلابات د هغه لاس کښي دی نو اي مومنانو ! تاسو به هله کاميابيږئ چی د داسي قسم کافرو نه مکمل بائيکاټ اوکړئ او د زړه نه هم د هغوئ مينه ختم کړئ الله په هر څه عالم او قادر دي نو حساب به درسره کوی پدي بائيکاټ کښي

د پیغمبر اتباع اوکړئ هغه څنګه بیزاری کوی تاسو سره به الله محبت اوکړی په غلطو وسیلو او د عیسی علیه السّلام په عبادت مینه نه ملاویږی مینه د الله تعالی په اتّباع میلاویږی نو د هغه اتباع اوکړئ (۳۲) او د نصارو د شبهي د ختمولو حتی الوسع کوشش اوکړئ اوس ورته مکمل شجره نسب د عیسی علیه السّلام بیان کړئ او د ټول خاندان عاجزی ورته بیان کړئ چی مور ئی څنګه پیدا شوه او د مور تربیت کونکي زکریا علیه السّلام چي الله تعالی ته څنګه محتاج وو بیا د مریم بی بی عاجزی چی څنګه د عیسی علیه السّلام پیدائش کیږی او که د هغه څه خوارق صادر وی نو هغه د الله په حکم دی او هغه د الله د عبادت دعوت ورکوی او الله تعالی څنګه محتاج دی بغیر د الله تعالی د حفاظت نه ځان نشی بچ کولي هغه سره الله تعالی د حفاظت او د بچ کولو وعده پوره کړه اوس څوک په هغه الزام لګوی یا غلط او یا د الوهیت نو الله به ورسره حساب اوکړی او منونکو له به بدله ورکړی (۵۷) دا زبردست مضمون د عبدیت د عیسی علیه السّلام بیان شو اوس که څوک وائی چي پلار ئی نشته مونږ ورته ځکه اله او ابن الله وایو نو دا بے عقله د آدم علیه السّلام پیدائش ته سوچ نه کوی نو که اوس څوک دي حق مضمون کښي جهګړه کوی نو اعلان د مباهلي ورسره اوکړه مباهله نشی کولي او جوابات د شبهی اوشو او د عیسی علیه السّلام د عبدیت دلائل بیان شو نو دا نتیجه معلومه شوه چی دوئ په غلطه دی او توحید مسئله حق ده که نه منی نو څومره ئی الله تعالی ته اوسپاره هغه پري پوهه دي (۶۳) د توحید دمسئلي سره سره چی اتّفاقی خبره ده دی اهل کتابو نصارو له د رسالت دعوت هم ورکړه ستا پیغمبری حقه

ده خو دوئ نه منی نو دا پيران دی او خلق پري دهوکه کيږی نو دا دوئ ګندګئ خلقو ته څکاره کړه چی نور خلق پري نه دهوکه کيږي دا خو داسي دی چی پير او مُلا ته د حلالولو او حرامولو ذمه وار وائی او په باطله انخلی د ابراهيم د حقيقت نه خبر ندی او هغه يهودی نصرانی حسابوی ته ئی د حقيقت نه خبره کړه (۶۸) او دوئ د مومنانو د ګمراه کولو کوشش کوی او د الله د آيتونو نه انکار کوی، حق په طريقو طريقو پټوی او د مومنانو د ګمراه کولو دپاره فريبونه کوی او په منسوخ شوی دين د کلکيدلو وصيتونه کوی او د علمی خيانت سره مالی خيانت کوی نو که دوئ وعده او ذمه واری پوره نه کړی نو پته به ئی اولږی او علمی خيانت کښي خاص کر تحريف په عجيبه طريقه کوی او په عيسی او مريم دروغ وائی چی مونږ ته هغوئ دعبادت وينا کړی او انبياء کرامو سره د کړي وعدي خلاف کوی چی ستا نه منی نو د ټولو انبياؤ او د الله د دين خلاف کوی ستا دين خو د ټولو انبياؤ د دينونو ترجمانی ده د دي نه اوړيدل خو خسران دي (۸۵) نو داسي خيانت ګرو ته چی خه ورته حق معلوم شو او نه منی نو دوئ ته به څه هدايت اوشی دا خو لعنتيان دی خو که توبه اوباسی او چی په کفر کلک شی نو چی په کوم مال او شرک نازيږی هغه ئي بچ کولي نشی بغير د محبوب څيز د قربانئ ايمان او جنت څنګه ممکن دی (۹۲) نو د دي قربانول پکار وو نو البته وائی چی مونږ به ستا پيغمبری منلي وي خو څمونږ يو شک دي چی ته څنګه ابراهيمی ئی د ابراهيم په دين کښي د اوښ غوخه حرامه وه نو دا ئی پليتی ده او کم علمی او په نيکانو بندګانو دروغ جوړول دی څکه که دا غوخه په شريعت کښي حرامه وه نو تورات کښي

اوگوریٔ نو دروغ وائی نو ظالمان دی صحیح ابراهیمی دین د ده دي هغه اومنئ (۹۵) نو زر وائی چی ستا د دین نه څمونږ دین ځکه خه دي چی څمونږ قبله مخکښي ده او غوره ده نو دا ئي هم پلیتی ده اصل حقیقت دِ اوگوری چی غوره او اول کور بیت الله دي ستاسو قبله صرف د بنی اسرائیلو وه او دا للنّاس ده ځکه دا پیغمبر للنّاس دي (۹۷) خو اصل حقیقت دا دي چی ولي د الله د آیتونونو نه انکار کوی او پدي اعتراضونو اوشبهو خلق د دین نه بندویٔ ستاسو دا پلیتیٔ الله تعالی ته معلومي دی . نو اي مومنانو ! تاسو د داسي پلیتانو په مشورو او خبرو روان نشئ گنی نو کافر به شئ او تاسو سره د قران سنت غوندی نظام موجود دي نو ځنگه بل خوا ځئ پدي منگولي اولگویٔ چی صراط مستقیم مو په نصیب شی (۱۰۱) نو اي مومنانو ! دا مسئله راوخلئ د دي د خورولو او حاکم کولو کوشش اوکړئ نو د دي دپاره جهاد بدنی او مالی اوکړئ خو د جهاد دپاره اهم ځیز تنظیم او جماعت دي نو د خپل جماعت بنیاد پدي خبرو کیږدئ چی جماعت مضبوط وی نو کار به کیږی نو اول اصل دا چی عقیده به د ټولو یوه وی دویم دا چی ستاسو قانون به قران او سنت وی پدي به ستاسو کورني اختلاف ختم شی رونړه به شئ او دوزخ نه به بچ شئ او دریم دا چی ارکان د جماعت دا خپله عقیده او منشور خور کړئ چی نورو له دعوت ورکړئ کوم خلق چی دا کوی د هغه مشن ترقی کوی کوم چی دا مشن پریږدی د غیر قانون ، شرکی رسمونه او بدعات راواخلی نو د هغویٔ پشان کیږئ مه هغه په آخرت کښي تور مخی بي عزته دی او د قران سنت خدمت کونکی سپین مخی عزتمند دی دا هم مضمون د حکمت موافق دی نو توحید له تنظیم

برابر کړئ (۱۰۹) او ستاسو اجتباء او خيريت پدي دي چی دا مشن خور کړئ او د مخالف فکر مه کوئ څه نشی کولي سوا د خلي د خبرو نه ،کوی به لګيا به وی (۱۱۱) او چا چی خپل کار پريخودلي دي نو ذليله شوی دی په اهل کتابو کښي هم چی کوم څه دی نو هغوئ حق منی او بيان ئی کوی دا نيکان دی (۱۱۴) نو تاسو په خپل تنظيم خرچ کوئ دا ستاسو د تنظيم څلورم اهم اصل دي ځکه دا مال چی په دين اونه لږ.ی نو آخرت کښي د اور د عذاب نه بچاؤ نشی کولي په دنيا چی اولګی نو څه فائده نشته دي التہ تاوان دي (۱۱۷) دي سره يو پنځمه خبره د جماعت دپاره اهمه ده چی جماعت او د جماعت منصوبه محفوظه وی هغه دا چی د غير د رازدارئ نه ځان اوساتئ د دوئ د دشمنئ نخي اوګورئ او صبر او تقوی وظيفه کړه نو د دوئ فريب څه نقصان نشی درکولي (۱۲۰) تاسو د دي اصولو پابندی کوئ خاص کر د پنځم اصل تاسو لږ. د احد نه عبرت واخلئ چی غير درکښي راغي نو د کلکو خپي په سستيدلو شوی خو د الله مدد راغي نو احد کښي لږ. د اصولو پابندی اونشوه نو ګټلي ميدان د لاسو نه لاړو او بدر کښي اوګورئ چی غير رازدار نه وو نو څنګه سره د لږ. والی او بے اسلحی کيدلو نه الله مدد کړي وو او دا د الله کار وو ستاسو پکښي هيڅ اختيار نه وو دا هر څه د الله په مدد شوی وو ځکه د هر څه اختيارات د هغه دی (۱۲۹) نو اي مومنانو ! د الله مدد حاصلول غواړئ نو کوم کارونه چی مدد بندوی هغه پريږ.دئ چی خاص کر سود دي مال لګول پکار دی دا نه چی په بل ظلم اوکړئ او نيک اعمال اوکړئ چی الله مو مدد اوکړی او په آخرت کښي هم کامياب شئ (۱۳۶) او د احد باره کښي دا خيال رانه ولئ

چی ګنی کافرو اوګټله دا خوهسي وقتی خبره ده تاريخ اوګورئ زمکه کښي اوګرځئ مکذّب چرته ندي کامياب شوي د قران نه دا تاريخ معلوميږی آئنده کښي همت مه بائيلئ کاميابی او فتح ستاسو ده (۱۳۹) او که زږه کښي دا شبه راځی چی احد کښي تکليف ولي راغي نو لږ بدر ته هم اوګورئ دا خو ورځي دی او پکښي حکمتونه هم ډير وو ولي بے همته کيږئ (۱۴۳) تاسو سره بے همتی نه خائيږی که ستاسو امير هم په ميدان کښي شهيد شی نو څه خبره ده هغه هم بنده دي مرګ په نيټه دي لږ مخکښي تاريخ د بهادرانو نيکانو اوګورئ چی هغوئ څنګه دعاء ګاني کړی دی او الله تعالی ورله انعام ورکړي دی (۱۴۸) تاسو چرته د کافرو په مشوره روان نشئ مدد به مو الله کوی او نمونه د مدد نه ګورئ چی د ابو سفيان جرآت اونشو او زړه کښي ئی يره راغله او د ميدان نه لاړو (۱۵۱) او لږ د معرکی اول سر ته اوګورئ چی الله ستاسو څنګه مدد کړي بيا خو چی څه اوشو نو د خپله لاسه اوشو خو چی څه شوی وو لاړل الله تعالی معاف کړی دی . لږ هغه نقشه اوګورئ چی پيغمبر څنګه آوازونه کول او تاسو نه کتل نو د هغه زړه خفه شو نو تکليف راغي بيا هم په هغه سخته معرکه کښي په پيغمبر فدايان وو او ځنی منافقان د ځان فکر ورسره وو او خله ئی غلطي استعمالولي نو سختئ سره د هغوئ هم امتياز اوشو او چی کوم د مخلصانو نه څه شوی وو نو هغوئ ته د معافئ اعلان دي (۱۵۵) چرته د تکليف د وجي د منافقو غوندي خبري د خلي نه اونه ځی په لاره د الله کښي مرګ کاميابی ده (۱۵۸) يو مهربانی په مخلصانو ګوره چی الله ورته خپل محبوب څنګه نرم کړو چی په زبان مبارک هم د خپلو يارانو نه ګيله

اونکړه نو اي محبوب دا ستا مخلصان ملګری دیته ورله معافی غواړه او کوه ورته او دلجوئی هم کوه مدد به ستاسو الله تعالی کوی (۱۶۰) منافقان څومره بي ادبه دی داسي کاواکي خلي خوزوی دوئ سره نرمی مه کوه دا دوزخیان دی پیغمبر خو په مومنانو د الله احسان دي د هغي باره کښي څنګه دوئ غلطي خلي خوزوی (۱۶۴) ستاسو زړه کښي دا راځی او منافقان هم دا خبري کوی چی احد کښي تکلیف ولي نو د هغي د حقیقت او حکمت نه ئی خبر کړه څوک د ځان نه مرګ نشی دفع کولي (۱۶۸) البته څوک چی په جنګ کښي شهیدان شوی دی نو د هغوئ باره کښي خله غلطه ندی استعمالول پکار د هغوئ مقام اوګورئ (۱۷۲) منافق خو د ځان فکر کښي دی څنګه به دا مقام حاصل کړی چی کوم مخلص دی نو هغوئ سره د زخمونو نه بیا روان دی او د خلقو پروا نه کوی نو آئنده کښي هم د شیطان په وسوسو مه ځئ او د الله تعالی د حکم خیال ساتئ (۱۷۶) احد کښي چی منافقان روستو شوی وی نو په دوئ الله تعالی ثواب ندي پیرزو او عام کافر هم چی څه کوی نو خپل نقصان ئی دی او په مهلت دِ دهوکه کیږی نه (۱۷۸) اوکه مومنان وائی چی دا ازمیښت ولي راغي نو د هغي حکمت باندي ئي پوهه کړه چی مخلص او غیر مخلص جدا شی (۱۷۹) دغه شان مخلصان او نفاق په دي وخت کښي هم معلومیږی بدبخته شومتیا کوی او داسي خلي خوزوی نو پته به ئی اولګی او دا دوئ زړه بے ادبی ده داسي دروغ وائی په الله تعالی ئي هم وئیلی دی او د پیغمبرانو تکذیب ئی کړي دي نو ته خفه کیږه مه (۱۸۵) جهاد کوئ مرګ به راځی او په دنیا مه نازیږئ اوکلک شئ امتحانات به راځی خو

صبر او تقوی وظيفه کړئ (۱۸۶) دا اهل کتاب خه د حق نه خبر دی خو حق پټوی دنيا اسره کوی نوعذاب به ورته ملاؤ شی (۱۸۸) د دي سورت اهم مضمون د توحيد وو (۱۹۲) پوری او دنبی عليه السّلام پيغمبری (۱۹۳) او جهاد (۱۹۵) او انفاق (۱۹۶) نو دا مضمونونه که اهل کتابو هم اومنل نو کامياب به شی نو اي مومنانو په توحيد او رسالت کښي تکليفونه برداشت کړئ او ميدان د قتال کښي په صبر کښي غالب شئ او په عام حالت کښي مرابطه کوئ چی کامياب شئ .

(لنډه خلاصه)

او د نصارو غوندی ال عمران (عيسی ، مريم) هم قابل د عبادت نه ګنړو او نه به ئی اوګنړو بلکه ضديانو سره به جهاد کوو .

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة النّساء)

کله هم چی تاسو د توحید دپاره جهاد کوئ نو د هغي دپاره خپله وړه او غټه معاشره سمول پکار دی چی ستاسو کور او ملک په شریعت برابر وی نو هله به بل له دعوت ورکولي شئ نو لهذا اي خلقو ستاسو پیداکونکی تربیت کونکی ذات ستا د تربیت دپاره او د خپلولئ د ساتلو دپاره حکمونه رالیږلی دی نو تاسو د هغه د خلاف نه ځان اوساتئ او هغه احکامات عملی کړئ چی په هغي کښي ساسو د کمزورو خاص کر یتیمانو او کونډو او عامو زنانو خیر دي د وړي معاشری دپاره شپاړس حکمونه عملی کړئ چي (۱) یو د هغي نه د یتیمانو د مالونو حفاظت کول او دویم د هغوئ د بدنونو حفاظت کول دی دغه شان د زنانو مهرونه ورکول د بي وقوفو د مالونو حفاظت کول او د هغوئ امتحان کول او د هر حقدار حق ورکول دی د تقسیم د مطالبي وخت کښي هم کمزورو ته خکلي جواب ورکوئ او د یتیمانو د مال د خوراک نه ځان ساتئ او میراث تقسیم د الله تعالی د مقرر شوی نظام مطابق اوکړئ د تابعدارئ نتیجه خائسته او د نافرمانئ نتیجه ذلت دي (۱۵) دا نه چی مونږ د زنانو د حق اووئیل نو دوئ اوس بے حیائی کوی نه بلکه ورسره د عزتونو خیال ساتئ که چرته څوک بدکاری اوکړی په قانون د شرعي سزا ورکړئ ، د نافرمانئ نه الله ته راګرځئ د مرګ نه مخکښي الله معاف کونکي دي خو دا نه

چی په ګناه زړه يخ کړئ بيا توبه اوباسئ داسي حالت کښي توبه او ايمان قبول ندي (۱۸) او په مال کښي زنانه نه ملاويږی دا ظلم دي د زنانو سره هيڅ قسم زياتي مه کوئ دا هم د هغوئ سره زياتي دي چی د هغوئ د رضا نه بغير کونده په نکاح اخلئ او يا ئی نکاح ته نه پريږدئ هغوئ سره خکلي ژوند کوئ که د بلي ښځی د کولو اراده کوئ او دا يوه د مهر د واپس کولو دپاره تنګوي نو دا ځومره اخلاقی جرم دي د هغوئ خو تاسو سره وخت تير شوي دي (۲۱) او چی کومو زنانو سره ستاسو پلار نکاح کړی وی نو هغه په نکاح اغستل ځومره د نفرت خبره ده دغه شان اووئيلي شو چی زنانه په ميراث نه ملاويږی په نکاح ملاويږی و دا ځنی زنانه په نکاح هم نه ملاويږی دا الله تعالی حرامي کړی دی د دي نه علاوه په اصولو روا دی او کچرته د وينځی سره د نکاح ضرورت راشی نو په اصولو سره هغي سره نکاح اوکړئ (۲۵) دا احکامات تاسو ته ستاسو د معاشري د اصلاح دپاره بيانيږی چا چی د الله حکمونه منلی دی او چا چی نه دی د هغوئ حالات درته هم بيانيږی دي سره ستاسو عزتونه محفوظ کيږی شهوت پسند خلق تاسو د دي معاشری نه اړول غواړی او الله تعالی په تاسو آسانتيا راولی نو دا احکام قبول کړئ چی د سزا نه بچ شئ او د عزت حفاظت سره سره مالی معاملات هم درست کړئ د بل چا مال په زياتی خوړل ظلم دي او سزا ئي سخته ده او که د دي احکامو د خلاف نه مو ځان بچ کړو نو عزتمند ځائی ته به داخل شئ او يو بل سره د ظلم او حسد نه ځان اوساتئ او که چا سره مو د مدد لوظونه کړی وی نو هغه لوظونه پوره کړئ او دا هم اهمه خبره ده چی د کور مشرت به سړی

کوی پدي کښي هغه سره حسد ندي پکار او که د ښځی د خاوند ورانه راشی نو په طریقه د هغوئ جوړه اوکړئ دا اصلاح د معاشري اهم عبادت دی نو دیکښي هم الله سره څوک مه شریکوئ او د مخلوق د حقونو خیال اوساتئ (۳۶) منافق مفاد پرست پدي اصولو معاشره نه جوړوی د دی نه ځان اوچت ګنړی اود الله حق او د مخلوق حق ورکولو کښي بخل کوی په دنیا مال لګوی خو د الله دپاره نه لګوی الله سره خو ذره هم نه ورک کیږی او د قیامت په ورځ به بیا د دوئ څه حال وی (۴۲) اي مومنانو غفلت د احکامو نه مه کوئ بیدار اوسیږئ ځکه چی بل طرفته علماء سوء یهود هغوئ هم کوشش کوی چی تاسو د الله د قانون نه واړوی دا ستا دشمنان دی الله به مو مدد کوی دا څومره نالائقه دی د دوئ د پلیتو ته اوګوره نو اي اهل کتابو ایمان پدي کتاب راوړئ او د قانون شرک پریږدئ ځکه ده شرک معافی نشته دي او کوئ شرک او ځان ته پاک پاک وایئ اوشرک خو په الله دروغ جوړول دی نو څنګه د پاکئ دعوی کوئ (۵۱) او دا دومره ضدیان دی چی ستاسو په ضد کښي د بتانو سجدي کوی د مشرکانو صفت کوی او که څه اختیار ئي وی نو تاسو له ذره نه درکوی ځکه چی ده صحابو سره حسد کوی نو دا فضل خو په ال ابراهیم شوي دی نو ولي حسد کوئ نو که دا احکامات څوک نه منی نو دوزخ به ئي ځائی شی او چا چی اومنل نو جنت به ئي ځائي شی (۵۷) کله مو چی هغه شریعت جاری کړو چی په هغي حاکم ته ضرورت نه وی نو اوس هغه شریعت هم نافذ کړئ چی حاکم ته ضرورت پکښي شته دي نو اي حاکمانو خپل ملک پدي اتو قوانینو سم کړئ چی نهم د کمزورو حق ادا شی اوله دا ده : چي حقدارو ته ذمه

واریٔ ورکړیٔ چی څوک ئی حق ادا کولي شی او فیصلي د الله په قانون اوکړیٔ مومنانو چی کله امیران داسي وی نو تاسو د هغویٔ اطاعت اوکړیٔ (۵۹) څومره بے انصافه دی دامنافقان چی د ایمان د دعوي سره بیا هم د الله په قانون فیصله نه کوی او د دي په مقابله کښي طاغوت له فیصله اوړی او چی د قران او سنت دعوت ورکړي شی نو دویٔ د هغي نه مکمل بندیږی او چی د دي عمل سزا ورته ملاؤ شی نو بیا بهاني کوی چی ځمونږ د خیر اراده وه نو د دویٔ د دي بد عمل نه مخ واړوه او د الله د قانون مقام ورته بیان کړه چی د پیغمبر بعثت څه له شوي دي دوی دا دعوی د ایمان فضول ده د ایمان شرط تحکیم د پیغمبر دي په رضا سره او تسلیم سره دویٔ دیته نه تیاریږی نو سختو حکمونو ته به څه تیار شی په اتباع کښي خیرونه دی او د نیکانو ملګرتیا ده (۷۰) نو اي مومنانو چی کله امیران نیکان دی نو د هغویٔ په تابعداریٔ کښي جهاد ته تیار اوسیږیٔ منافق د جهاد نه بهاني کوی چی تاسو ته تکلیف وی نو دي په غیر حاضریٔ خوشحاله وی او چی تاسو ته کامیابی وی نو دویٔ په غیر حاضریٔ خفه وی نو پکار دا ده چی د الله په لار کښي جنګ اوکړی نو په هر صورت که ګټه وی که تاوان نو اجر دي او تاسو داسي حالاتو کښي جنګ نه کویٔ بهادران شیٔ جنګ ستاسو لار صحیح ده او کافر د شیطان په لار لګیا دي نو ختم ئی کړیٔ (۷۶) او چی کله موقع لا د جنګ نه وی نو مالی او بدنی مشق کویٔ بے ځایه لافي مه وهیٔ او چی موقع راشی نو دنیا او د مرګ د یري نه جهاد نه مه روستو کیږیٔ دا دومره بي انصافه دی چی که فتح وی نو وائی د الله تعالی او که تکلیف ورته اوسیږی نود هغي نسبت امیر ته کوی دا په

حقیقت نه پوهیږی په حقیقت ئی پوهه کړه (۷۹) پکار دا ده چی ستا حق د رسالت اوپیژنی دوئ صرف د خلي لافي وهی او چی ځان له شی خلاف کوی او د دوئ علمی کمزروئ په قران بے اعتمادی ده او سیاسی کمزوری دوندي کول دی ته په دوئ نه ئی پرې خپله جهاد کوه او مومنان تیزوه ستاسو په بیان چی څوک تیار شی د هغي اجر تاسو له دي او چی مجاهد د جهاد بیان له راشی نو خیر راغلي ورته اووایه او مسئله د جهاد اوپیژنه چی توحید دي نو چی کله تاسو د منافقانو پلیتئ اوپیژندلي نو یو بل سره اختلاف کولو ته څه ضرورت دي بس دا قسمونه اوګورئ چی کوم د جنګ قابل وی نو هغوئ سره جنګ اوکړئ (۹۱) خو جنګ کښي احتیاط کوئ هسي نه مومن قتل کړئ او ورسره دا هم تحقیق کوئ چی شناخت د مومن صحیح اوشی او د جهاد نه کینئ مه قاعد او مجاهد برابر ندی نو دوئ ولي د بل به په قوم کښي کینی چی بیا په ګذار لګی دوئ د هلته نه راوځی ولي نه معذوره خیر دي (۹۹) او جهاد بغیر د هجرت نه نه کیږی نو هجرت اوکړئ او چی کله د سفر په حالت کښي یئ نو د سفر او خوف په حالت کښي هم د مونځ خیال ساتئ اګر که په قصر او تخفیف وی خو مونځ اهم دي چی زړه مو مضبوط وی او د کافر په وژلو کښي سستیا مه کوئ (۱۰۴) او چی کله کلی فتح کړو او په خارونو مو بادشاهی شوه نو قانون د الله نافذ کړئ د منافق خیال مه ساتئ دوئ د دي قانون نه ځان او تا اړول غواړی او د دي دپاره جرګی کوی نو دا د قران نه مخالف به په دوزخ دډوزه شی د غیر قانون د الله د قانون مقابله کښي شرک دي شرک د شیطان اتباع ده او دوزخی کیدل دی او د الله قانون عملی کول جنتی کیدل دی (۱۲۲) دین دا

د مالونو او خواهشاتو څيز ندي دين الله ته غاړی کيخودلو نوم دي لکه د ابراهيم او هغه د غاړی کيخودلو لائق دي ځکه متصرّف او عالم الغيب دي (۱۲۶) او دا غټه معاشره هم دي له جوړيږی چی ده کمزورو لحاظ اوکړي شی نو د کمزرو د حقونو لحاظ اوکړئ او دواړه معاشری د الله په قانون برابر کړئ ځکه هغه لا د کائناتو اختيار دي نو د قانون جوړولو هم دي هغه به درله دنيا او آخرت سم کړی (۱۳۴) نو اي مومنانو دا قوانين انصاف دي د دي بيان اوکړئ او خپل ايمان پري مضبوط کړئ منافق دورنګی کوی او مفاد ګوری اود کافرو سره دوستئ کوی حالانکه د هغوئ نه د بائيکاټ حکم راغلي دي خو دا ټګ مار دی او دا پليتئ پکښي دی نو تاسو اي مومنانو دکافرو سره دوستی مه کوئ ګنی د منافق غوندي به شئ دوستی خو لويه خبره ده الله په خله راوستل د کفر او شرک نه خوخوی بے د مجبورئ نه او بيا دوستی کول خو دوئ د خپلی خوخي دين کوی نو ذليله به شی او څوک چی ايمان صحيح کړی نو الله به ئی معاف کړی (۱۵۲) دغه شان اهل کتاب لکه د منافقانو هم په طريقو طريقو تاسو د دي قوانينو نه اړوی نو اعتراض کوی چی په يو ځل ولي نه راځی دا خو ډير خبيثان دی لګ تاريخ ئی اوګوره البته خه پکښي شته دي الله به ورله اجر ورکړی (۱۶۳) دا مضمون څه خيالی ندي ته حق پيغمبر ئي دا تا ته وحی کيږی لکه چی انبياء ته کيدله او دا د الله په علم راغلي دي چی دا مخلوق اصلاح له کافی دي خو ظالمان نه منی نو دوزخ غټ دي (۱۶۹) نو اي خلقو د دي عظيم الشّان داعی دا دعوت اومنئ او اي اهل کتابو غلوّ پريږدئ چی غير ته اله وايئ عيسی عليه السّلام هم د الله نيک بنده وو څوک چی د دي قوانينو

نه ځان غټ ګڼړی دوزخ به ئی ځائی شی نو اي خلقو دي سره به معاشره روخانه او رحمت به دربandي اوشی حاصل دا وو چی د کمزورو حقونه ورکړئ او دا احکامات ځکه بیانوی چی د ګمراهئ نه بچ شئ .

## (لنډه خلاصه)

اي خلقو ! د عنادیانو سره د جهاد کولو نه مخکښي اول ستاسو د خپل تنظیم او د اتحاد سخت ضرورت دي نو لهذا په توحید رسالت او آخرت د ایمان لرلو سره سره د امور انتظامیو په زده کړی کښي کوشش اوکړئ چی منظّم او متحد شئ او د مشرکانو سره په جهاد کښي بریالی شئ پدي طریقه به مسئله توحید په څلور قنجه د دنیا کښي خوره شی او د شرک زور به ختم شی .

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

## (سورة المائدة)

لکه څنګه چی د جهاد انتظام د برابرولو دپاره اصلاح د معاشري ضروری ده نو دغه شان د خوراک اصلاح هم ډيره ضروری ده ځکه چی حرام خورئ سره د الله مدد نه وی نو حلال خورئ چی الله تعالی درله مدد کوی نو د هغي د مسئلو زده کولو کوشش اوکړئ او الله تعالی سره کړي وعدي د حل او حرمت پوره کړئ د الله تعالی حلالو ته حلال اووايئ او حرامو ته حرام او منختی صرف د هغه په نوم کوئ د ځان نه حرمتونه هم مه جوړوئ او د غير په نوم منختي هم مه کوئ دا مسئلی د دي سورت نه زده کړئ (۵) او نيک اعمال کوئ خاص کر مونځ او طهارت کښي اوسيږئ چی د الله وعده پوره کول درته آسان وی او د دي مسئلو بيان کوئ مدد به مو الله تعالی کوی (۱۱) اوګورئ چا چی وعدي ماتي کړي وي نو هغوئ سره څه شوی دی د هغوئ دوه نموني شيږ سزاګاني اوګورئ نو دي موجوده اهل کتابو ته دعوت دي چي دي پيغمبر کوم نور نظام د حل او حرمت راوړي دي هغه اومنئ او غير ته اله متصرّف وئيل کفر دي او په نسب فخرونه فضول دی بغير د اتباع نه کار نه کيږی (۱۹) دا نمونه هم اوګورئ چا چی د الله په حکم کښي سستی کړي وه نو هغه حيران او پريشان شوی دی نو د الله په حکم کښي سستی مه کوئ (۲۶) او د خپلي دفاع نه هم مه کينئ څوک چی د خپلی دفاع نه کيناستو

نو هلاک شوي دي او د ظالم لاس د ظلم نه اونيسئ هغه که په غټه طريقه ظلم اوکړی چی ډاکه وغيره او که وړوکي ظالم وی دا حکمونه جاری کول د الله تعالی د نزديکت ذريعه ده . او تصرف د الله تعالی دي نو د حل او حرمت ذمه دار هم صرف هغه دي (۴۰) اي محبوب ! ته داسي خکلي بيان کوی سره د دي هم ځنی ستا د دي نظام مخالفت کوی نو ته غم مه کوه په دوئ الله تعالی د خير اراده نده کړي ته د خپل نظام نه مه اوړه که دوئ هم راشی نو د الله په قانون فيصله کوه ځکه هر دور له الله تعالی خپل نظام ورکړي وو د حل او حرمت هغه نور وو نو په هغي فيصله نه کول کفر ظلم فسق دي اوس دور د قران کريم دي هغي سره نور نظامونه منسوخ شو اوس نورو پسي تلل د اهواء تابعداری ده اوس پدی فيصله نه کول د جاهليت دور واپس کول دی د دي نه خائسته نظام بل نشته نو پدي پسی روان شه (۵۰) دا يهود او نصاری کوشش کوی چی تاسو د دي نظام نه واړوی نو خبردار د دوئ دوستی اونکړئ کوم خلق چی د دنيوی خطرو د وجي دوئ سره دوستی کوی نو صبا به پشيمان وی اي مومنانو خپل دين کلک اونيسئ د الله د محبت ثبوت ورکړئ الله رسول او مومنانو سره دوستی اوکړئ کوم خلق چی ستا دين ، د ژوند نظام پوري ټوقی کوی نو هغه څنګه د دوستئ قابل کيدلي شی (۵۸) د مزيد تسلئ دپاره او د نفرت دپاره لږ د دي خلقو پليتئ اوګورئ نو خپله به مو تسلی اوشی چی دا د دوستئ نه د نفرت قابل دی ، ترغيب ورلره ورکړه چی په دي نظام کښي د دنيا او آخرت خير دي (۶۷) نو اي محبوب ! ته د دي مسئلو دپاره رااليږلي شوي ئی نو حفاظت به دِ الله تعالی کوی ته صاف دوئ ته اووايه چی څوک دا

قران د ژوند نظام نه ګرځوی نو هغه بے دینه دي او څوک چی د الوهیت صفت عیسی علیه السّلام له منی کافر دي او دین کښي د ځان نه بدعات مه کوئ ګنی د مخکښي پشان به په لعنت شئ او د کافرو یهودو د دوستئ نه ځان اوساتئ دا ستاسو دشمنان دی . البته چی کوم تاسو سره نرمی کوی او ستاسو نظام ته غاړه کیږدی نو هغوئ سره نرمی کوئ (۸۶) نو اي مومنانو د ځان نه حرمتونه مه کوئ که قسم مو کړي وی د حلال څیز نه په ځان مو حرام کړي وی نو کفاره ورکړئ او د الله حرام حرام اوګڼړئ چی په هغي کښي د درګاهونو منختی هم دی . البته د حرمت نه مخکښي چی کوم خوړلی دی نو هغه معاف دی . چی کوم الله حرام کړی دی په هغي کښي د حرم او د احرام خکار هم دي د دریاب هغه جائز دي او د الله د عزتمندو عزت کوئ ، چي کله داسی اهمه مسئله بیانیږی نو بے ځایه تپوسونه مه کوئ البته د موضوع مطابق سوال لکه د بحیري او سائبي په باره کښي نو دا صحیح ده د قران مقابله کښي د پلار نیکه خبره مه راخله او د خپلو هم جنسو اصلاح کوئ (۱۰۵) د هر قسم عملی شرک نه ځان اوساتئ یو قسم شرک هغه د غیر الله په نوم قسم کول یا ورکول هم دی نو قسم که خپله کول او غیر له ورکول وی نو صرف د الله تعالی په نوم کوئ ځکه هغه عالم الغیب او متصرف دي نو ځکه د هغه په نوم قسم کوئ عیسی علیه السّلام نه عالم الغیب دي او نه متصرف هغه نه که څه صادر وو د الله په حکم وو د دي پته به قیامت په ورځ اولګی هغه حال لړ مخکښي واورئ چی هغه خپله د الله د علم او د تصرف بیان کوی نو لهذا ټول د هر څه اختیارات د الله تعالی دی نو حرام صرف هغه دی

چی هغه ئی حرام کړی او منخته صرف د هغه په نوم پکار ده نه که د غیر په نوم باندي .

## (لنډه خلاصه)

د سورة النّساء په امور انتظامیه باندي د مکمل پابندئ کولو نه وروستو لږ خیال اوکړئ . د جهاد کولو نه مخکښي او د مشرکانو سره د مخامخ کیدلو نه مخکښي یو ځل په تفصیل د شرک د دواړو قسمونو (عملی او اعتقادی) وضاحت اوکړئ یعنی دوئ پوهه کړئ چی د غیر الله په نوم څاروی مه ذبح کوئ .

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة الانعام)

د هر قسمه شرک او د مشرک رد اوکړه او په عقلی او نقلی او وحی دليلونو سره دوئ پوهه کړه چی څه قسمه شک ئی پاتي نشی نو داسي اووايه ټول صفتونه د خدائتوب (علم ، تصرّف ، عبادت ، دعا) دا صرف د الله تعالی دی دا خبره خو د عقل نه ثابته ده عقلی ثبونه پري شته دي خو دوئ ته چی کوم دليل بيانوی نو دوئ اعتراض کوی نو خپل انجام به اووينی لکه د پخوانو (۶) که دوئ وائی چی په يو ځل ولي نه راځی نو بيا هم اعتراض کوی او دغه شان نور سوالونه کوی نو په پخوانو پسي هم شوی وو ورته اووايه چی لږ د هغوئ نه عبرت واخلئ او د دوئ نه لږ تپوس اوکړه بيا هم نه منی نو ورځ راروانه ده . څومره دليلونه موجود دی نه ګوری شپي او ورځی ته او پيدائش د الله ته او انتظام ته که دوئ بيا هم شرک کوی او تا له دعوت درکوی نو ته ئی په صحيح طريقي سره پوهه کړه او دليلونو سره ورته وحی دليل هم اووايه او بائيکاټ تري اوکړه . د پخوانو نيکان خلق هم دا مسئله منی دوئ نه منی نو لوئ ظالمان دی په آخرت کښي به د خپلو شريکانو نه بائيکاټ اوکړی د ضد د وجي نه نه منی مهرونه پري لږيدلی دی خپله هم او بل هم بندوی د قيامت په ورځ به ئی حال به وی اګر چی نن قيامت نه منی ځکه په دنيا مست دی (۳۲) نو دا تا سره محبوب دشمنی نه ده دا ما سره ده ته خفه کيږه مه او

همت مه بائیله تیرو انبیاء ته هم دا سختئ رسیدلي وی نو بي ځایه زړه مه خوره دوئ کښي انابت نشته دي او سره د دومره دلائلو معجزی غواړی ولي دوئ د دي زنده سر مارغانو نه عبرت نه اخلی خو اصل دا ده چی مهر پري لږیدلي دي ګنی دوئ هم په ځنی حالت کښي د توحید قائل شی (۴۱) د تیرو د حالتونو نه دِ لږ عبرت واخلی چی الله ورسره څه کړی وی (۴۶) ځه لږ د دوئ نه تپوس اوکړه او د عذاب مطالبي کوی نو د پیغمبر اختیار دا ندي منلو کښي خیر دي او نه منلو کښي نقصان (۴۹) دوئ تا نه مطالبي کوی نو ته په طریقي سره دوئ پوهه کړه او جواب اوکړه بیا هم نه منی نو د آخرت یره ورته بیان کړه او د خپلو عاجزانو ملګرو خیال ساته امتحان به راځی دوئ به ټوقی کوي خو د خپلو ملګرو له تسلی ورکوه او بیا بیا مسئله بیان کړه (۵۵) او صاف اووایه چی ځما نه ستاسو د الهو بندیږی ممکن نده که دوئ عذاب غواړی نو ورته اووایه اختیارات هم د هغه الله دی او علم هم د هغه دي هغه تاسو اوده کوی او وژنی به مو هغه ته ورتلل دی او ټولو مصائبو کښي هغه مدد کوی او هغه په عذاب ورکولو قادر دي خو وخت مقرر دي (۶۷) نور د عذاب مستحق دی د دوئ مجالسو کښي مه کینه علاوه د نصیحت ورکولو نه دوئ دین ته ګپ ګوری ځه آخرت کښي به ئي پته اولږی (۷۱) التِه دوئ ستاسو نه مطالبي د شرک کوی نو په خکلي طریقه جواب ورکړه او د عقل دلیل سره د خپل باب ابراهیم علیه السّلام تفصیلی حال او د نورو انبیاء اجمالی تذکره اوکړه که دوئ نه منی الله به نور پیدا کړی ته د دي انبیاء په نقش قدم روان شه (۹۰) سره د دومره خکلي بیان نه دوئ شرک کوی او اعتراضونه کوی نو دوئ د الله

څه قدر اوکړو د قران غوندي کتاب نه انکار کوی التِه دعوي د نبوت او الوهیت کوی نو ځه د مرګ وخت او آخرت کښي به ئی پته اولږی (۹۴) او ولي انکار کوی دومره پدي قدرتونوکښي سوچ نه کوی سره د دي دلائلو بیا هم شرک کوی د دي دلائلو تقاضا خو صرف د یو الله عبادت کول وو د دوئ د قران دلائلو نه عبرت نه اخلی التِه اعتراضونه کوی چی دا تا د چا نه زده کړي ده دیته څه حاجت دي دا تا ته د لوئی الله د طرفنه وحی شوي ده خو دوئ کښي انابت نشته البته ته په ادب او اصولو بیان کوه که دوئ د معجزاتو مطالبه کوی اصل کښي د دوئ په زړه مهر لږدیدلي دي که هر قسمه معجزه راشی نو دوئ نه منی په دوئ شیطان مسلّط دي هغه ورته دا خائسته کوی د قران بهر حال جاری ساته د شیاطینو په وسوسو دوئ قران نشی بدلولي . او دا خبره ئی فضول ده چی تاسو لږ یئ او مونږه ډیر یو دوئ بے دلیله ګمان پسی روان دی (۱۱۷) نو چی کله مو عقیده د شرک نه پاکه کړه نو دغه شان عمل هم د شرک نه پاک کړئ هر قسمه شرکی رسمونه مرګ او تیاره ده د قران په تعلیم هغه پرېږدئ دوئ که دشمنی کوی نو دا زوړ عادت دي ذلیله به شی که انابت پکښي وی نو هدایت به ئی د قران نه اغستي وي نو د قیامت حال دي اوګوری او دنیا کښي هم قومونه تباه شوی دی آخری خائسته انجام د حق پرسته وی (۱۳۵) د غیر الله منختی او د ځان نه حرمتونه سره د دي دومره خکلی بیان کول د دوئ د شرکاء خائسته کول دی او ګمراهی ده دا فصلونه او څاروی خو الله پیدا کړی دی نو بل منل او د بل په نوم حرامول ظلم دي (۱۴۴) د الله حرمتونه دا دی کوم چی په یهودو شوی وو هغه سزا وه دوئ

فضول دليلونه نيسی چی مونږ به الله تباه کړی وي که مونږ په غلطه وي دا ئی فضول دليل دي ته د دوئ پدی اهواء دهوکه نشی اصل خپل دين نظام ورته بيان کړه دغه وحی موسی عليه السّلام ته هم شوي وه او قران هم دغه بيان کوی دوئ مخکښي ارمان کوو اوس انکار کوی نو الله به سزا ورکړی دوئ په منلو کښي د څه د انتظار کوی د مرگ په وخت کښي خو ايمان او توبه نه قبليږی ته د دوئ په قدم مه ځه ځوک چی د ايمان سره نيکی اوکړی نو د الله فضل دي چی په لس به ورکړی نو ته ورته خپله عقيده اودين بيان کړه دا دنيا د امتحان ځائی دي نو عذاب نه ځان بچ کول پکار دی او د مغفرت اعمال کول پکار دی .

## (لنډه خلاصه)

صرف ځاروی نه بلکه په فصلونو ، غلو وغيره کښي هم د غير الله منخته نه کول ځکه چی دا د غير منخته د مرداري د سپي او خنزير پشان حرام ده او د شرک اعتقادی نه هم ځان بچ کړئ ځکه د عقل په دليلونو سره واضح شو .

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة الاعراف)

چی کله مسئله په عقل ، نقل او وحی سره بالکل خکاره شوه نو اوس زړه کښي څه تنګی مه راوله مسئله په بهادرئ اورسوه او دوئ ته اووایه چی کوم قانون د حل او حرمت الله تعالی رالیږلي دي د هغي تابعداری اوکړئ چا چی تابعداری نه وه کړی نو هغه پدی دنیا هم تباه شوی او په آخرت کښي به تري هم تپوس کیږی نو د نیکو والا کامیاب او چا چی د ما انزل تابعداری نده کړي نو هغه تباه دی تاسو ولی تابعداری نه کوئ لږ خپل ژوند ته اوګورئ نو قدر اوکړئ (۱۰) او د نموني دپاره د شیطان نمونه اوګورئ چی د ما انزل تابعداری نه وه کړي نو څنګه ذلیله شو او د آدم بابا نه په هیره کمي شوي وو نو الله ته ئی رجوع اوکړه نو څنګه عزتمند شو (۲۵) اي بنی آدم د شیطان کوشش دي چی تاسو د ما انزل نه واړوی او په جامو کښي درباندي شرک شروع کړو نو د جامو حکمت ته ګورئ او د شیطان تابعداری مه کوئ دا هم د ما انزل مسئله ده چی په بربنډه طواف د شیطان تعلیم دي د عبادت په وخت خپل خائست راواخلئ دا چا حرام کړی دی حرام څیزونه الله تعالی خائی چی دا دی (۳۳) که وایئ چی په دوئ عذاب ولي نه راځی نو وخت مقرر دي اي بنی آدمو د پیغمبرانو ذمه داری هغه ما انزل ته دعوت دي منونکی کامیاب او نه منونکی ناکام دی په اوږدو ئی حالات اوګورئ (۵۳) د ما انزل اهمه مسئله هغه

د توحید ده او ټولو انبیاء کرامو نوح ، هود ، صالح شعیب علیهم السّلام دا مسئله کړی ده ورسره د لوط علیه السّلام د قوم نمونه اوګوره چی د ما انزل تابعداری نه وه کړی نو څنګه ذلیله شو (۹۳) په لنډو دا چی انبیاء کرام الله تعالی رالیږلی او په خلقو کله سخته او کله راحته راغلی وه خو دوئ عبرت وانغستلو نو تباه شو نو دا اوسنی هم که اونه منی نو تباه به شی ته تسلی ساته (۱۰۲) او د تسلئ دپاره د موسی علیه السّلام په واقعه زړه له تسلی ورکوه چی په هغه څومره مصیبتونه راغلی وو د فرعون د طرفنه ، د ساحرانو سره مناظره ، د خپل قوم نه مصیبت ، د سامری د طرفنه مصیبت ، دغه قسما قسم مصائب پری راغلی وو خو کامیابی د هغه وه نو کامیابی به ستا وی او مخالف به تباه شی چی څوک ستا د ماانزل مسئله نه منی لکه فرعونیان ، د سخی بندګی کونکی ، او د خالی والا ، او صاحب چی دنیا ئی غوره کړه او سپي شو نو دغه شان به دا اوسنی هم تباه شی (۱۷۷) استعدادونه الله ورکوی او اخلی چی چا کښي انابت نه وی څه به اومنی ته بیان کوه انابت والا به منی او نور به کله یو اعتراض کوی او کله بل او غواړی دالله نه او بیا ورسره شرک کوی داسي څیزونه شریکوی چی عاجزان دی بس ته خپل کار کښي کمي مه کوه او قران لوله الله یادوه د فرشتو هم دغه مسئله ده .

(لنډه خلاصه)

اي محبوب ! دا مسئله په بهادرئ باندي اورسوه د مخالفینو د طرفنه به تکالیف راځی نو برداشت کړه او د توحید د مسئلي بین مه پرېږده او په رد د شرک اعتقادی او فعلی نقلی دلائل قائم کړه .

سورة الانفال مدنیة — نزولها (٨٨) مصحفا (٨) — رکوعات (١٠) ایات (٧٥)

بسم الله الرحمن الرحیم

(سورة الانفال)

چی کله تا مسئله د توحید بیان کړه په هر قسمه دلیل سره او دا ضدیان او عنادیان نه منی نو اوس ورسره جنګ اوکړه خو اول د غنیمت د وجي نیت خراب نشی او خپلو کښي اختلاف اونکړئ هر مجاهد کښي دي دا پنځه صفتونه وی چی میدان کښي جنګ کولي شی نو قوانین د جنګ زده کړئ ستاسو د کوره ویستونکي او هر قسمه مدد کونکي الله تعالی دي نو چی کله ورکښي دا پنځه صفتونه راغلی نو اوس د پنځو قاعدو خیال ساتئ د هر صفت نه به یوه قاعده راؤځی اوله چی چرته دشمن ته شاه وانړوئ ځکه ستاسو په زړه کښي د الله مقام دي نو مدد به الله کوی (١٩) او چی کله د قران د وجي ایمان ترقی کوی نو تاسو به په هر میدان کښي اطاعت د الله او رسول کوئ . او چی کله مو په الله توکل دي نو چی الله او رسول د جهاد دعوت درکوی نو هغه به منئ د لږ والی فکر به نه وی او چی کله د مونځ پابند یئ نو چرته به ذموارو

کښي خيانت نه کوئ او چی کله مال خرچ کوئ نو تقوی به اختياروئ الله به بري درکوی لکه څنګه چی نبی عليه السّلام د کافرو د فريب نه بچ کړي وو (۳۰) او دا کافر خو د وژلو قابل ځکه دی چی په خپله ئی عذاب غوختلي وو خو څه رکاوټ د عذاب نه وی ګنی د عذاب قابل دی ځکه د الله د دين دشمنی کوی نو که دعوت ئی او نه منو نو اوس ورله تاسو عذاب ورکړئ او جنګ ورسره اوکړئ او چی الله مو مدد اوکړو غنيمت ملاؤ شو نو په قانون د الله ئی تقسيم کړئ ځکه ستاسو جنګونکي او مدد کونکي الله تعالی دي نو چی جنګ کوی او کافرو سره مخامخ شوئ نو کلک شئ (۴۵) او دا آدابو خيال ساتئ لکه د الله او د پيغمبر اطاعت کوئ او اختلاف مه کوئ او د هغه اسبابو نه ځان اوساتئ چی کومو سره مدد بنديږی لکه تکبر ريا سره د شيطان ملګرتيا نصيب کيږی او هغه بنده نيمه کښي پريږدی منافق په مجاهدينو پوري خندا کوی خو چی کله ورته مرګ راځی نو حال به ئی ناشنا وی يواځي دوئ نه څوک چی خبره نه منی نو حال به ئی د فرعونيانو وی ځکه دا ځان خپله خراب کړو چی احکام نه منی نو فرعونيان غرق شو نو دوئ هم ايمان نه راوړی بدتر به تباه شی نو چی کله د وعدو خيال نه ساتی نو شروع پري اوکړه اوو که دوئ د صلحي مطالبه کوی نو صلحه اوکړه الله به دِ مدد کوی هغه کافی دي او مومنان وخت په وخت په طريقو طريقو په جنګ تيزوه او د قيديانو اصول هم ياد کړه نو د دين مدد کونکی په مال او بدن او د مهاجرينو او مجاهدينو مرسته کونکی دا کره ايماندار دی .

(لنډه خلاصه)

او چی کله د دلائل عقليو ، نقليو ، وحيو د بيانولو نه روستو په ضديانو دليل قائم شو او بيا هم دا مشرکان نه منی نو پوهه شه چی دا ضديان او عناديان دی . نو اوس وخت راغي چی تاسو موحدين د دي ضدی مشرکانو سره د جنګ کولو ته تيار شئ او خپله پوره تياری اوکړئ او د جهاد قوانين (او آداب) زده کړئ او چی فتح په جهاد کښي ملاؤ شی او مال غنيمت لاس ته راشی نو په هغي باندي خپلو کښي اختلاف مه کوئ ځکه د خپل مينځ اتّحاد او اتّفاق ډير ضروری دي .

سورة التوبة مدنية — نزولها (١١٣) مصحفا (٩) — ركوعات (١٦) آيات (١٢٩)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة التّوبة)

چی کله مو قوانين د جهاد زده کړل نو اوس اعلان د جنګ اوکړئ خو جنګ چا سره پکار دي او ولي پکار دي نو هغه خلق او وجي اوپيژنئ اول مشرکان دی نو د هغوئ قسمونه زده کړئ او که زړه کښي څه شک راځی چی وعده ده يا جماعت جوړوی يا اوبه حاجيانو له ورکوی يا ځمونږ دشته دار دی نو هغه شکونه ختم کړئ دوئ د دين او ستاسو دشمنان دی نو الله مخکښي هم ستاسو مدد کړي دي بيا به هم کوی نو جنګ ورسره اوکړئ (٢٨) دويم اهل کتاب دی لړ د هغوئ پليتئ اوګورئ چی هغه سره په جنګ کولو کښي مو زړه کښي شک نه وی نو دوئ سره هم اوجنګيږئ

(۳۷) چی کوم برائ نام مومنان د نستونړی ماران تشي دعوي کوی او تاسو سره میدان ته نه اوځی او بهاني کوی لږ د هغوئ د پلیتو نه ځان خبر کړئ او په احتیاط شئ هسي نه ضرر در نه کړی دا د لستونړی ماران الله ته خه معلوم دی او تاسو ته ئی نخي اووئیلی (۹۹) نو اي مومنان د الله حکم ته وړاندي شی لکه د بهادرانو او که به تقاضائے بشریت سستی راغله نو توبه کښي سستی مه کوئ ګنی بیا به قبولیت کښي هم سستی کیږی الله سره د مال او بدن سودا کړی او جهاد کښي په هر عمل ثواب درکوی نو جهاد اوکړئ د نزدی نه شروع کړه او مسئله د جهاد چی د کومي مسئلی دپاره جهاد کیږی هغه یاده لرئ فقل حسبی الله .

## (لنډه خلاصه)

چی کله مو د قوانین جهاد پوره زده کړل او خپل تنظیم او اتحاد برابر شو نو اوس د الله نوم واخلئ او دي معاندینو مشرکانو او کافر سره خه په خکاره د جنګ اعلان اوکړئ .

نزولا (٥١) مصحفا (١٠) سورة يونس مكية ركوعات (١١) آيات (١٠٩)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة یونس)

اوس که دوئ دا بهانه کوی چی تاسو مونږ سره ولي جنګ کوئ مونږ خو شرک نه کوو مونږه خو دوئ ته اِلهه نه وایو بلکه دا ځمونږ سفارشیان دی مونږه ئی دوئ ته وائی او دوئ ئی الله تعالی ته وائی نو د دوئ دا شک او شبه هم ختم کړه او په دلیل ئي

پوهه کړه . چي د حکمتونو ، دليلونو نه ډک کتاب د عظيم الشّان پيغمبر په ذريعه باندي د خلقو د يرولو دپاره او د منونکو د زيری دپاره راغلي دي نو دوئ ته د عقل دليلونه بيان کړه چی مکمل اختيار مند الله تعالی دي څوک د هغه د حکم ته پيغمبر خلاصول نشی کولي د هغه قدرت او محکم نظام ته اوگورئ خو دوئ د دنيا په مينه مست دی او د دي دليلونو نه غافله دی نو اور به ئی ځائی شی او چا چی توحيد اومنو نو د هغوئ ځائي جنت دي (١٠) دوئ به زر عذاب او غواړی خو الله تعالی د حکمت والا ذات دي دوئ د خپل حالت نه عبرت نه اخلی چی تکليف کښي صرف الله تعالی رامدد کوی خو بيا ئي هير کړی نو مخکښي نموني دي اوگوری چی الله تعالی د شرکی عقيدي والا تباه کړی دی اوس ستاسو نمبر دي چی څه کوئ نو تاسو د منلو په ځائی په داعی اعتراضونه شروع کړل او د توحيد دشمنی مو شروع کړه او بهانه دا کوئ چی دا ځمونږ سفارشيان دی نو الله ندي مقرر کړي نو څنگه سفارشی شو ، د عذاب وخت مقرر دي گنی نو د عذاب مستحق دی ، زر به معجزه اوغواړی نو د معجزی علم خو الله تعالی ته دي (٢٠) خو دا ناشکره انسان چی په خوشحالئ کښي د تکليف حال هير کړی لږ دی د الله نعمت او قدرت اوگوری او بيا دي خپل حال ته سوچ اوکړی چي دوئ خپله هم په يو وخت کښي د توحيد قائل شی او شفارشيان ئی هيرشی خو روستو بغاوت شروع کړی دا دنيا د محبت د وجي نو دنيا څه شپي دی د دنيا په ځائی دار السّلام له راشئ او دوزخ د اعمالو نه ځان بچ کړئ د قيامت په ورځ به دغه شفارشيان درنه منکر شی (٣٠) ځه لږ د دوظ نه د دي قدرتونو تپوس اوکړهنو دوئ هم منی چی دا کارونه الله

کوی سفارشی ته حاجت نشته دي نو دوئ ولي شرک نه ځان نه بچ کوی . نو خو دا ګمراهه دی او مهر پري اولګیده او الله تعالی ته به ورځی او دوئ چی چا ته سفارشیان وائی نو هغه د هیڅ مالکان ندی نو دوئ څنګه عاجزانو ته سفارشیان وائی نو دلیل ورسره نشته خو صرف د ګمان تابعداری ده او داسي زبردست کتاب پریږدی او وائی چی دا ئي د ځان نه جوړ کړي دي نو څه د دي غوندي دلیل دي راوړی کنه اصل خبره دا ده چی ضدیان دی نو انجام به ئی راشی الله تعالی پري پوهه دي . په تا ئی څه بوج نشته او د دوئ اسباب د پوهي د دوئ د ضد او عناد د وجي واغستلي شو (۴۴) نو ورځ راروانه ده چی څوک به ئی مدد نشی کولي او دا هم کیدي شی چی دنیا کښي هم څه نا څه عذاب اوڅکی ځکه داعی ورته حق بیان کړي دي چی د عذاب ذکر اوشی نو زر دوئ د عذاب مطالبه کوی نو ورته اووایه چی ماله خو اختیار نشته دي او د عذاب نیټه مقرر ده چی راشی نو تاسو ئی بیا لری کولي نشئ او نه په فدیه او جرمانه خلاصیږئ د خلاصیدلو ذریعه ورځ قران منل دی تاسو د دي منلو په ځائی د ځان نه حلال او حرام ګنړئ نو د تپوس ورځ شته او د هغه نه څه پټیږی نه که تاسو اومنله مسئله او ځان مو د شرک نه بچ کړو نو د الله دوستان به شئ او که څوک نه منی او اعتراضونه کوی نو په دي ستا عزت نشی کمولي ځکه د عزت او مکمل اختیار د الله تعالی دي او دوئ سره په شرک څه دلیل نشته دي د شپي ورځی انقلاب هم د الله تعالی لاس کښي دي خو چرته پوهیږی التّه وائی چی دا نیازولی دی نو توبه د الله نیازولو ته څه حاجت د دنیا د مستو نه روسته د آخرت عذاب حق دي (۷۰) او په دنیا کښي هم

کیدي شی تباه شی لکه د قوم نوح او د ازر او د فرعونیانو بچ کیدل په ایمان او په توحید دی لکه قوم یونس چی بچ شو په ایمان سره خو چی چا کښي ضد او عناد وی نو هغه ته به ته څه ایمان ورکړي دوئ څه د عذاب انتظار کوی چی نه منی ؟ نو په هغي نجات انبیاء او د انبیاء تابعدارو له دي نو صاف ورته خپله عقیده بیان کړه د توحید او د شرک ردونه اوکړه او د قران د منلو دعوت ورکړه که نه منی نو ته تابعداری کوه او د د فیصلی انتظار کوه .

## (لنډه خلاصه)

هنه ! اوس که چرته مشرکان داسي اووائی چی لږ صبر اوکړئ څمونږ په ذهن کښي څه شکونه دی که تاسو مونږ له زړه پوري جواب راکړئ نو مونږ به اومنو مثلًا په هغه شبهاتو کښي یو دا ده چی مونږ کوم د الله تعالی نه علاوه نورو بزرگان رامدد کوو نو د دي وجی نه نه رامدد کوو چی دا حاجت رواه مشکل کشا دی . مونږ صرف دوئ سفارشیان گنړو او رامدد کوو ئي نو اي موحدینو تاسو ورلره جواب داسي ورکړئ چی دا هم شرک دي او دي سره نفی دشرک فی التّصرف هم په دلائل عقلیو سره بیان کړئ .

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة هود)

چی کله د الله د حکم او اجازت نه بغیر سفارشی بل ځوک نشته دي نو اوس د دي قران عظیم الشّان اهمه مسئله دوئ ته اووایه چی عبادت صرف د الله تعالی حق دي نه که د بل چا نو د شرک نه توبه اوباسئ او دا ځکه د هغه حق دي چی هغه عالم الغیب دي په هر څه پوهیږی او خالق دي دا مشرکان د خوشحالئ په وخت کښي ناشکری کوی نو ته د دوئ په اعتراضونو زړه مه تنګوه او مسئله مه پریږده او ورسره کله دا هم وائی چی دا مسئله ته د ځان نه جوړوي نو ځه د قران مقابله دِ اوکړی که نه نو نشی کولي نو تاسو په توحید یقین مضبوط کړئ ځکه دا حق پیغمبر دي او کامیابی د ده ده . او دا مسئله د توحید او د عبادت د الله د ټولو انبیاء مسئله ده او هغوئ رسولي ده لکه نوح ، هود ، صالح ، شعیب علیهم السّلام او هغه الله عالم الغیب دي اوګوره ابراهیم او لوط علیهما السّلام د فرشتو په حال خبر نشو . نو دا مسئلي اورسوه کامیابی ستا ده لکه د موسی علیه السّلام نه منونکی تباه شوی دی او آخرت کښي به هم بدبخته وی منونکی به نیک بخته وی نو د دوئ عقیده او عمل د تباهئ دي پوره به ورته ملاؤ شی نو ته په اصولو کار کوه او کلک شه او په واقعاتو د زړه تسلی کوه او دا مسئلي بیان کړه .

(لنډه خلاصه)

د عقلی دلائلو نه روستو ورته نقلی دلائل بیان کړه او که د مسئلي په بیان کښي تکلیفونه راشی نو برداشت ئی کړه او مشرکانو ته صفا اووایه چی تاسو کافران اوضدیان یئ چی د خکاره مسئلی نه انکار کوئ او صفا او واضحه مسئله نه منئ .

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

## (سورة يوسف)

عبادت او توکل ځکه صرف د الله تعالی پکار دي چی صرف هغه الله تعالی عالم الغيب دي او صرف هغه الله تعالی متصرف دي او ته د الله تعالی حق پيغمبر ئی نو کاميابی ستا ده دا مسئلي ځنګه د واقعي د يوسف عليه السّلام نه معلوميږی لوئی لوئی انبياء دی او عالم الغيب او متصرّف ندی او په يوسف ځنګه امتحانات راغلی وو خو آخر کښي عزت او کاميابی د هغه وه نو دغه شان امتحانات به په تا هم راځی نو کاميابی ستا ده او ته دا ناشنا واقعات بيانوی نو دا تا ته وحی کيږی ته حق پيغمبر ئي (١٠٢) که دوئ اوس هم نه منی نو دا ضديان دی ستا څه کښي نشته دي دوئ دلائل وينی او ايمان نه راوړی او چی کوم ايمان ئي دي نو هغه د نجات دپاره کافی نه دي ځکه هغي سره شرک ګډوي نو دوئ د عذاب نه بچ کيدي نشی نو ته صاف توحيد بيان کړه او دا وائی چی ستا به مونږ منلي وي خو ته انسان ئی نو جواب اوکړه او چی نه منی نو د مخکښي خلقو حال دي اوګوری نو ددي واقعاتو نه عبرت عقلمند اخلی قران د الله تعالی حق کتاب دي خو فائده تري انابت والا اخلی .

## (لنډه خلاصه)

او دي ضديانو ته اووايه چی په هر څه پوهه او د هر څه کونکي صرف الله تعالی دي نه يوسف او نه يعقوب عليهما السّلام او نه بل څوک پيغمبر او نه ولی پير او فقير نو معبودان څنګه شو .

نزولا (۹۶) مصحفا (۱۳) سورة الرعد مدنية رکوعات (۶) ايات (۴۳)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة الرّعد)

هر کله چی غيب دان او متصرف الله تعالی دي نو په حاجاتو کښي صرف الله تعالی رامدد کړئ پدي مسئله دا حق کتاب راغلي دي نو د دوئ د نه منلو وجه څه ده دوئ دي قسما قسم دلائلو ته نه ګوری چی خالق د هر څه الله تعالی دي دوی د منلو په ځائی الټه شکونه او اعتراضونه کوی نودوئ نه ګوری چی عالم او متصرف الله تعالی دي صرف هغه ته دِ رامدد شه اووائي چی نور چا ته څوک رامدد شه وائی نو هغه عاجزان دی څه قبولتيا نشی کولي لږ دی اوګوری هر څيز د الله تعالی تابعدار دي (۱۵) دوئ نه هم تپوس اوکړه او د دوئ د الهو عاجزی ورته په مثالونو سره هم واضحه کړه د منونکو حال دِ په تفصيل سره اوګوری (۲۵) او سوچ دِ اوکړی چی رازق صرف الله تعالی دي دوئ البته اعتراضونه کوی نو انابت والاخبره منی او ضديان انکار کوی خو ته خپله خبره صاف اووايه چی هو ربّی (۳۰) او په معجزو دوئ ايمان نه راوړی خو الله ورله مهلت ورکړي دي هغه هر

نفس ته ګوری نو پته به ورته د خپل عمل د انجام اولګی او دوئ نه منی نو ته څه یواځي نه ئی نیکان عباد هم دا مسئله کوی او که د دوئ څه شکونه او شبهات دی نو هغه ورله ختم کړه او ستا پیغمبری که دوئ نه منی نو ستا ه ضرر نشته ستا د پیغمبرئ الله او ملائک ګواه دی .

## (لنډه خلاصه)

دا څه چی کومه مسئله بیانومه نو دا بالکل حقه مسئله ده او انتهائی واضحه ده څه ګرانوالي پکښي نشته دي چی ګنی د هغي د ثابتولو دپاره ګرانو دلیلونو ته ضرورت دي که دوئ ته پکښي څه پټوالي وی نو د هغي د ختمولو دپاره څه عقلی خبري ذکر کړه چی په خبره خه پوهه شی .

نزوله (٧٢) مصحفا (١٤) — سورة ابراهيم مكية — ركوعات (٧) آيات (٥٢)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة ابراهيم)

چی هر کله مسئله خه واضحه شوه نو اوس د دي عظیم الشّان کتاب په حواله خلق د تیارو د شرک نه رنړا د توحید ته اوباسه او د عبرت دپاره ورته واقعات بیان کړه موسی علیه السّلام هم پدي مشن راغلي وو (٨) او دِ ګوری مخکښي خلقو انبیاء سره په توحید کښي جهګړی کړی وی نو څه حال ئي شو او چی کوم ظاهری نیک اعمال وو هغه ئي پکار رانغلل (١٨) او آخرت کښي به بیا یو بل سره جهګړی کوی او د وضاحت دپاره ورته

بیان د مثالونو اوکړه او زورني ورکړه او عقلی او نقلی دلیلونه بیان کړه(۴۱) او چی اوس نه منی او د حق خلاف تدبیرونه وی نو د آخرت حال دِ خپل اوګوری نو ته خپل کار جاری ساته . او دوئ په توحید پوهه کړه .

(لنډه خلاصه)

په داسي واضحه او ښکاره مسئله کښي چی کوم څه پټوالي وو نو هغه په عقلی خبرو سره ختم شو اوس هم دا ضدیان نه منی نو د تیرو واقعات ورته یاد کړه کیدیشی د تیارو نه رنړا طرفته راشی .

نزولها (۵۴) مصحفا (۱۵) سورة الحجر مكية ركوعات (۶) آيات (۹۹)

بسم الله الرحمن الرحيم

(سورة الحجر)

اوس خو نه منی خو بیا به افسوس کوی اوس اعتراضونه کوی نو ستا د مشن د حفاظت وعده الله تعالی کړي ده دا نه منل د دوئ پخواني خوئی دي اګر که معجزي په سترګو اووینی معجزه ته څه حاجت اوس دِ دي عقلی خبرو کښي سوچ اوکړی (۲۷) او چا چی نده منلي او تکبر ئي کړي دي نو انجام د شیطان دِ اوګوری او د هغه په قدم د تلونکو . او د جنت د حاصلولو کوشش ولي نه کوی (۵۰) او کوم قومونه چی تباه شوی دی پخوانی دی او که اوسنی دی نو هغي نه دِ عبرت واخلی نه منی نو ته مسئله بیان کړه او نیک اعمال کوه چی زړه دِ مضبوط وی .

(لنډه خلاصه)

تنبيهات هم بيان شو او د تيرو قومونو حالات هم بيان شو اوس هم که دا کافر په خپل ضد باندي کلک وی نو دوئ ته اوس صرف دومره اووايه چی اوس وخت دي مسئله د توحيد اومنئ ګنی نو بيا به پښيمانه يئ .

سورة النحل مكية — نزولا (٧٠) مصحفا (١٦) — ركوعات (١٦) ايات (١٢٨)

بسم الله الرحمن الرحيم

(سورة النّحل)

د دومره پوهه کولو نه روستو هم التِه د عذاب مطالبي کوی نو د قحط عذاب به پري مسلّط شی نو اوس دِ د توحيد مسئله اومنی ځکه دي دليلونو ته دِ سوچ اوکړی خالق الله تعالی دي او عالم الله تعالی دي نو معلومه شوه چی اله صرف هغه دي (٢٢) دوئ ضديان دی او نه منی نو د مخکښي خلقو حال دِ اوګوری او د قيامت په ورځ ئی شريکان څه مدد نشی کولي د دي مقابله کښي چی چا د شرک نه ځان بچ کړو نو د هغوئ حال دِ اوګوری نو چی نه منی نو د عذاب انتظار دي نو هغه وخت به څه فائده کوی د منلو په ځائی التِه ځان له جوازونه ګوری (٣٥) د شرک جوازونو ته څه حاجت دي د شرک د رد دپاره خو ټول انبياء کرام راغلی وو خو دوئ ضديان دی غټ مرض ئی د آخرت نه انکار دي نو الله ته قيامت څه ګران (٤٠) که تاسو تنګوی نو کلي ورته پرېږدئ و مسئله مه پرېږدئ الله تعالی به اجر درکوی او که

دوئ وائی چی مونږ به منلي وي خو دا څمونږ غوندي سړي دی نو دوئ د انبياء حقيقت علم نه لری نو د پوهه خلقو نه دِ تپوس اوکړی انبياء ټول سړی وو نو تا ته هم وحی شوي دي ته بيان کوه دوئ نه منی نو د عذاب نه نشی بچ کيدلي او ولي نه منی دوئ نه ګوری چی هر څه د الله تابعدار دی (۵۰) او د دي مسئلي وحی هم شوی ده چی اله صرف يو دي نو دوئ د الله د نعمتونو نه عبرت نه اخلی په تکليف کښي الله رامدد کوی او چی حال پري سم وی نو بيا څه ناقدری کوی او د الله تعالی په ورکړي شوی مال کښي د غير الله حصه ګڼړی او چی کوم څيز يعنی لونړه ځان له نه خوخوی نو هغه الله تعالی له منی د عذاب مستحق دی خو وخت مقرر کړي دي او وجه د عذاب هم دغه ده چی د شيطان اتباع کوی نو ته خپل کار جاری ساته قران سره د دوئ اصلاح کوه (۶۴) او داسي د الله د نعمتونو تذکره ورته کوه چی سوچ اوکړی او د مثالونو چي پوهه شی چی عالم الغيب او متصرف الله تعالی دي نو ستا کار رسول دی دوئ سره د دي نعمتونو د اقرار نه د الله د توحيد نه انکار کوی نو خطرناکه ورځ راروانه ده هغي کاميابی د قران په اصولو باندي (۹۰) نو د قران په رنړا کښي د الله تعالی سره کړي وعدي د توحيد هغه پوره کړئ څوک چی وعدي ماتوی نو خپل نقصان هم دي چی اعمال ئی برباد دی او د غير نقصان هم دي چی نور به پري ګمراه شی د مال او جاه د وجي وعده مه ماتوئ دا خو امتحان دي او نن شته صبا به نوی اصل څيز د توحيد په رنړا کښي نيک عمل دي نو دا د قران نه زده کړئ شيطان مو د دينه په طريقو طريقو اړوی خو ګوري د دي قران په رنړا کلک شئ که مجبور هم شئ نو د شرک خبره

چرته زړه ته کوزه نکړئ نو دا تباهی ده په اصولو د قران مجاهده او صبر کول لوئی د اجر سبب دي او دا چی کوم نه منی د دومره عجیبه بیان نه روستو نو آخرت خو دي خراب خو دنیا کښې پرې هم د قحط عذاب راشی نو خه دا ده چی د عذاب نه مخکښې عقیده هم د شرک نه پاکول او عمل هم د شرک نه پاک کړئ د ځان نه حرمتونه او د غیر نذورنه مه منئ که څه شوی وی د هغې نه توبه اوباسئ چی معاف شئ (۱۱۹) او د شرک اعتقادی او عملی رد اوکړئ په طریقه د ابراهیم باندې او د الله تعالی توحید ته خلق رااوبلئ په اصولو د دعوت سره په مصائبو صبر کوئ زړه مه تنګوئ الله تعالی د داسې محنت کونکې ملګرې دي .

(لنډه خلاصه)

د دومره پوهه کولو نه روسته بیا هم که دعوت د توحید نه منی او الټه دعذاب مطالبه کوی نو اوس ورته اووایه چی دغه دي عذاب د قحط درباندې مسلّط کیږی .

سورة بنی اسرائیل مکیة — نزولها (۵۰) مصحفا (۱۷) — رکوعات (۱۲) ایات (۱۱۱)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة بنی اسرائیل)

چی هر کله عذاب د راتلو دي نو معجزه د اسراء اوګورئ او د شرک د اسبابو نه ځان اوساتئ یو د اسبابو د عذاب نه هغه همیشه شرک کول دی د هغې نه توبه نه کول لکه بنی اسرائیلو چی د

فساد نه توبه نه کوله نو هلاک شو نو د قران په تعلیم د عقل په رنړا کښي د شرک نه توبه اوباسئ د قیامت په ورځ به حساب کیږی په دنیا کښي هم د شرک د وجي ډیر قومونه تباه شوی وو په دنیا څه اعتماد آخرت له د آخرت په اصولو خدمت اوکړئ چی درجات مو اوچت شی نو ظلم مه کوئ ، شرک مه کوئ او احسان کوئ (۳۹) د الله تعالی شرک لوئ ظلم دي ټول کائنات د توحید ګواه دي خو دوئ چرته په قران ځان پوهه کوی د ضد د وجي نه پري مهر راغي او د داعی هم دشمنی کوی اصل وجه دا ده چی د آخرت نه انکار کوی نو ته په طریقه د دعوت د توحید دعوت چلوه او دوئ ته د دوئ د الهو عاجزی بیانوه او د شرک قباحت چی دا سبب د هلاکت دي په دنیا او په آخرت کښي (۵۸) دویم سبب دعذاب هغه د الله د عزتمندو بے عزتی کول دی یعنی د معجزو نه انکار کول او د شعائر الله بے حرمتی لکه ثمودیان چی تباه شو نو دوئ ته هم معجزه د اسراء راغله نو د الله نه خلاصیدلي نشی خو سره د معجزي د لیدو د دوئ طغیان زیاتیږی ځکه د شیطان په تعلیم روان دی او د الله تعالی د نعمتونو ناقدری کوی چی تکلیف تري ختم شی نو بل څه وائی نو د عذاب نه بچ کیدلي نشی نو د الله د احسان قدر دي اوکړی د قیامت ورځ هم د حساب راروانه ده (۷۲) د منلو په ځائي الټه کوشش کوی چی تا واړوی د خپلی مسئلي نه نو خبردار ته کلک شه (۷۵) او دوئ کوشش کوی چی ته مسئله نه پریږدی نو تا د کلی نه اوباسی نو دا ئی بل سبب د عذاب دي ځکه چی حق پرست د کلی نه اوباسی نو دوئ خاده نشی موندلي نو ته په نیکو اعمالو کلک شه ستا وتل به هم د دین د ترقئ سبب او د باطل د ختمیدلو سبب وی . نو په قران

د دوئ علاج کوه ضديان به کوشش کوی چی تا به لايعنی مسئلو کښي لکه د روح حقيقت کښي اخته کړی خو داسي مسئلو کښي مه اخته کيږه د وحی د برکاتو نه به محروم شی دوئ ستا د مشن مقابله نشی کولي هسي فضول مطالبات کوی دا کارونه کول خو د اله کار دي او ته رسول ئي (۹۳) زر به دوئ وائی چی ته څنګه رسول ئي ته خو بشر ئي نو ولي دوئ څه دی که په زمکه ملائک وي نو پيغمبر به ورته هم فرشته راغلي وه نو د دوئ د ضد د وجي پري مهر راغلي دي نو تباه به شی جهنم ئي ځائي دي خو دوئ د آخرت پوري ټوقی کوی نو ولي دوئ د الله تعالی قدرت نه منی خو اصل دا ده چی ضديان دی الله تعالی ته څه ګرانه ده . د هغه خزانو کښي څه کيږی (۱۰۰) نو د منلو په ځائي په تا پوري ټوقی کوی نو دا هم د عذاب سبب دي لکه فرعون چی د دوي وجي تباه شو بس ستا کار دا قران بيانول دی که ضديان نه منی نو حق پرست او انابت والا خلق منی نو د توحيد مسئله بيانوه حاجاتو کښي الله تعالی رامدد کوه په ادب سره او د توحيد صاف بيان کړه د الله تعالی د لويئ سره .

## (لنډه خلاصه)

د قحط والا معمولی عذاب نه روستو لويه معجزه د اسراء دوئ ته خودلي شی چی داسي ناشنا کار په ليدلو باندي دوئ اومنی که د دي نه روستو هم نه منی نو د فرعونيانو غوندي به تباه او برباد شی .

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة الكهف)

نو دا عقيده د توحيد ضروری ده چی ټول صفتونه د خدائتوب د الله تعالی دی قران دا مسئله بيانوی د دنيا محبت مو د دي نه بند نه کړی دنيا ډيره معمولی ده که څوک دا شک کوی چی دا اولياء الله يا انبياء عالم الغيب دی نو ته تسلی بخش جوابونه اوکړه اوګوره اصحاب کهف لوئی اولياء دی د خپل حال نه خبر ندی او جناب رسول الله صلّی الله عليه وسلّم لوئی نبی دي محبوب دي خو د صبا د حال نه خبر ندي نو معلومه شوه چی په علم الغيب او تصرّف کښي د الله تعالی هيڅوک حصه دار نشته دي نو د دي عقيدي ملګرو سره کينه او حق بيانوه د نه منونکو انجام خراب دي او منونکی به په آرام وی (۳۱) د دي حق نه غافله کونکي څيز دنيا ده نو دا به درنه واغستلي شی لکه د باغ والا نه چی باغ واغستلي شو (۴۴) او د دنيا وخت لږ دي او درباندي به وبال شی نو د شيطان په لمسه مه ځئ دا دشمن دي آخرت کښي مو بيا پکار نه راځی د قران په تعليم د پيغمبر خبره د عذاب د راتلو نه مخکښي اومنئ خو دوئی صرف ضديان دی نو مهر پري اولګيدو اوس هم وخت دي الله به ئی معاف کړی ګنی نو د هلاکت وخت مقرر دي (۵۹) او که د دوئ زړه کښي شک وی چی خضر ناشنا کارونه کړی وو نو اوګوره موسی عليه السّلام هم په غيبو نه پوهيږی او خضر عليه السّلام هم وائی ما فعلتُه عن امری (۵۲)

دغه شان ذو القرنين هم د قوم په ژبه پوهه نشو دوئ د حق نه کانړه دی او نیکانو ته متصرّفان وائی نو د دي وجي ئي اعمال تباه دی او چی چا اومنله نو هغه جنتیان دی او د الله علم چرته مخلوق راګیرولي شی نو چی کله مخلوق عالم الغیب متصرف ندی نو عبادت صرف د الله تعالی حق دي نو د هغه عبادت اوکړئ .

(لنډه خلاصه)

اوس که دا کافر وائی چی اودریږئ ځمونږ زړه کښي څه شبهات دی د اولیاء الله ، جنات او بادشاهانو باره کښي نو دوئ ته د دي شبهاتو تسلی بخش جواب اوکړه .

سورة مريم مكية نزولا (۴۴) مصحفا (۱۹) ركوعات (۶) آيات (۹۸)

بسم الله الرحمن الرحيم

(سورة مريم)

لکه څنګه چی نیکان بندګان په غیبو نه بوهیږی نو دغه شان هغوئ ټول الله تعالی ته عاجزان دی اوګوره ، زکریا ، یحیی ، عیسی علیهم السّلام مریم علیها السّلام ، ابراهیم ،موسی ، اسماعیل ، ادریس علیهم السّلام دغه شان ټول انبیاء الله ته عاجزان وو دا نااهلو د توحید مسئله کښي اختلاف اوکړو نو که توبه اوویستله نو جنت به ئی ځائی شی (۶۳) دغه شان ملائک هم الله تعالی ته عاجزان دی نو صرف د الله تعالی عبادت اوکړئ د بل چا نه ، خو دا نااهله او مشرک د الله قدرت کښي شک کوی د

مومنانو پوري توقي کوی نو لکه د پخوانو به تباه شی هغه الهه د دوئ بیا دوئ نشی بچ کولي دا د شیطان په لمسه روان دی او الله تعالی له نیازولی جوړوی حالانکه تول مخلوق الله تعالی ته عاجزان دی نو ته قران بیان کړه نه منونکی به لکه د پخوانو تباه شی .

(لنډه خلاصه)

د دي نه علاوه (کهف والا نه) د نورو شبهاتو جواب هم د قران نه اوکړه چی کوم د دوئ په ذهن کښي د انبیاء کرامو ، اولیاء کرامو ، او فرشتو باره کښي راځی .

نزولا (٤٥) مصحفا (٢٠) سورة طه مكية ركوعات (٨) ايات (١٣٥)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة طه)

نیکان بندیګان لکه چی عاجزه دی نو مصیبتونه پري هم راغلی دی نو قران د لوئ الله تعالی د طرف نه چی خالق ، او عالم دي په لویه مسئله چی توحید ده راغلي دي نو د دي په رسولو کښي مصائب برداشت کړه (٨) اوګوره په موسی علیه السّلام په تبلیغ کښي څومره مصیبتونه راغلی وو د فرعون نه مصیبت ، د ساحرانو نه مصیبت ، د خپلو نه مصیبت ، د سامری نه مصیبت خو زړه ئی نه وو تنګ کړي نو زړه مه تنګوه او په ساحرانو هم مصیبت راغلي وو نو هغوئ څنګه برداشت کړي وو نو برداشت کړئ (٩٨) څوک چی ستا د بیان شوی مسئلی نه انکار کوی نو

دوزخ به ئی ځائی شی ، عزت او بے اجازته سفارشونه ئی نشی خلاصولي خلاصیدل په قران او په توحید دی نو د دي د پوهي او رسولو کوشش کوه او هیره وه مه لکه د آدم بابا علیه السّلام نه چی هیر شوی وو او د الله حکم پریږده مه لکه ابلیس چی پریخودي وو څوک چی د قران نه انکار کوی نو آخرت او دنیا به ئی تباه شی خو وخت مقرر دي (۱۲۹) نو ته صبر او زغم کوه او نیک اعمال کوه چی زړه دي مضبوط وی د دوئ په اعتراضونو پرواه مه کوه وخت به راشی .

## (لنډه خلاصه)

شبهات د مناسبو جوابونو نه روستو مسئله د توحید لکه د موسی علیه السّلام پشان په بهادرئ سره اورسوه او مصائب به برداشت کول غواړی لکه چی موسی علیه السّلام برداشت کړی وو او د آدم علیه السّلام پشان وعده مه هیروه .

نزولها (۷۳) مصحفا (۲۱) سورة الأنبياء مكية ركوعات (۷) ايات (۱۱۲)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة الانبیاء)

چی هر کله په نیکانو بندیګانو مصیبتونه راغلی وو نو اوس په حاجاتو کښي صرف هغه الله تعالی رامدد کړئ کوم خلق چی غیر رامدد کوی نو دوئ د توحید نه غافله دی او ستا باره کښي قسما قسم خبري کوی نو تباه به شی لکه د پخوانو او انبیاء ټول انسانان وو نو دا اعتراض ئی بیکاره دي او خوراک به ئی کولو او د دنیا

نه تلی دی نو خه دا ده چی د قران نه دِ نصیحت قبول کړی ګنی نو لکه د پخوانو به تباه شی او ارمان به کوی نو د عقل او نقل د انبیاء پدي شاهد دی چی اله صرف الله تعالی دي او دوئ چی وائی چی د الله نیازولی دی نو دا دروغ دی هغه خو عاجزان دی (۲۹) نو دوئ ولي د زمکي او آسمان دلائلو ته نه ګوری که دوئ وائی چی مړ به شی نو خلاص به شی نو ولي دوئ به نه مری خو دوئ تا پوري استهزاء ګاني کوی نو تلوار دِ نه کوی وخت به راشی بیا به دوئ څه کولي شی پخوانی هم تباه شوی دی (۴۱) نو د دوئ د شپی ورځ حفاظت څوک کوی د دوئ الهه عاجزان دی څه کولي نشی په مزه مزه توحید خوریږی شرک ختمیږی دوئ به بیا ارمان کوی چی مونږ ته پته نه وه نو ولي دوئ د انبیاء وحی او خبري او حالات نه ګوری د ټولو هم دغه یوه مسئله وه خو دوي پدي مسئله کښي اختلاف کوی نو ماله به راشی (۹۳) نو خه دا ده چی توحید اومنی نیک اعمال اوکړی ګنی نو سره د دي باطلو الهو به دوزخ ته لاړ شی او نیکان به بچ شی او د دنیا کامیابی ه د نیکانو ده او ستا مسئله خو سراسر رحمت دي خو دوئ نه منی نو څه انتظار کوه او د الله نه مدد غواړه .

(لنډه خلاصه)

دا وحی صرف موسی علیه السّلام ته نه وه راغلي بلکه ټولو انبیاء کرام علیهم السّلام باندي هم دا وحی راغلي وه چی د الله تعالی نه علاوه څوک حاجت سر کونکی ، مشکل ختمونکي او رواني سمونکي کارساز نشته دي پخپله په انبیاء کرام علیهم السّلام باندی مصیبتونه راغلی وو نو هغوئ هم صرف الله تعالی

رامدد کړي وو نو د دي وجي نه تاسو هم په حاجتونو او مصيبتونو کښي صرف الله تعالی رامدد کړئ .

نزولها (١٠٣) مصحفا (٢٢) سورة الحج مدنية ركوعات (١٠) اياتها (٧٨)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة الحجّ)

نو عقيده او عمل د شرک نه پاک کړئ د قيامت خطرناکه ورځ راروانه ده ، د شيطان تابعداری تباهی ده د قيامت ورځ کښي شک ندي مناسب ځان ته اوګورئ او زمکي ته اوګورئ نو شک به ختم شی او بي دليله د الله تعالی د توحيد نه خلق مه بندوئ (١٠) او په اخلاص د الله عبادت پکار دي نه کښي د دنيا په لالچ باندي او د غير عبادت او رابلل سراسر تاوان دي او منونکی د توحيد کامياب دی او نه منونکي مشرک که ځان پهانسی کړی هم نو کيږی به هغه چی الله تعالی اوغواړی ، د قران غوندي واضح دليلونه موجود دی او هر څيز د الله تعالی منقاد دي بيا هم په توحيد کښي جهګړي کوی نو دوزخ به ئی ځائی شی او منونکی د توحيد به کامياب شی او د توحيد د مرکز نه بندونکی به دردناک عذاب اودردولي شی (٢٥) نو لهذا د ابراهيم په اقتداء کښي مرکز د توحيد هم دي له جوړ شوي وو نو عمل د شرک نه پاک کړئ حرمتونه د ځان نه مه کوه او منختي د الله تعالی په نوم کوئ که تکاليف راځی نو الله تعالی به مو حفاظت کوی (٣٨) او که د دي شرک د ختمولو دپاره د قتال ضرورت راځی نو اوکړئ د الله دشمنان ختم کړئ د نه منونکو پخوانو حال نه عبرت اغستل پکار

دی نو ته د توحيد اعلان عام اوکړه ضروری نه ده چی ټول به منی ځکه شيطان هم د خلقو زړونو کښي وسوسی غرځوی نو په چا مهر اولګی او انابت والا هدايت اومومی نو د دي مسئلی دپاره جهاد او هجرت اوکړئ الله به ستا مدد کوی ځکه د شپی ورځی تصرف د هغه اختيار کښي دی او د هغه عبادت حق دي نو ستاسو مدد به کوی (۶۲) او ځکه چی دا د توحيد مسئله د عقل موافق ده نو ته صاف بيان اوکړه د دوئ شرک بي دليله دی دوئ د بيان دشمنی کوی نو دوزخ به ئی ځائی شی او د وضاحت دپاره ورته مثال هم بيان کړو او اي مومنانو تاسو نيک اعمال کوئ او د دين خدمت کوئ ستاسو انتخاب هم دي له شوي دي الله تعالی به ستاسو مدد کوی .

(لنډه خلاصه)

په دغه انبياء کرامو کښي ساسو نيکه ابراهيم عليه السّلام خصوصًا د حج د بيت الله په موقع دغه اعلان کړي وو چی د غير الله رامدد کول هم شرک دي او د غير الله منخته کول هم شرک دي او دا اعلان ئي هم کړي وو چی حلال څيز د مخلوق په حرامولو نه حراميږی او حرام څيز د مخلوق په حلالو سره نه حلاليږی .

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة المومنون)

چې توحيد اومنئ او د هغي متعلّق عمل اوکړئ نو دا کامياب دی ځکه توحيد د عقل نه هم ثابت دي (۲۲) او د نقل هم ثابت دي او ټولو انبياء کرامو ته د دي وحی شوي ده چې حلال خورئ او امتونو ته د دي بيان اوکړئ چې د ځان نه حرمتونه مه کوئ دا شرک پريخودل د عقيدي او د عمل د ټولو انبياء کرامو اتّفاقی مسئله ده نو د دي پسي اقتداء اوکړئ خو دوئ غفلت کښي د دنيا په مينه مست دی او د دي مقابله کښي مومنان د الله نه يريږی او د شرک نه ځان ساتی دوئ د مومنانو د اعمالو نه علاوه نور غلط کوی په هغي مست دی د تکليف په وخت کښي چونکيږی او هسي د قران دشمنی کوی او داعی هم دشمنی کوی نو ستا د دعوت نقصان نشته دي د دوئ خپل نقصان دي او د تکليف نه فائده نه اخلی نو ځه پته به ئی اولګی (۷۷) دي دلائلو د عقل کښي ولي سوچ نه کوی د سوچ په ځائی التِه اعتراض کوی او د قيامت نه انکار کوی ځه لږ د دوئ نه تپوس اوکړئ نو دوئ هم د ځنو کارونو اقرار الله له کوی نو د شرک نه ولي توبه نه اوباسی نو چې توبه نه اوباسی نو عذاب پري د راتلو دي ته الله تعالی نه داسي دعاء غواړی او که دعوت کښي به تقاضائے بشريت غصه راشی نو د شيطان د وسوسي نه پناه غواړه . (۹۸) اوس خو دوئ غفلت کوی نو بيا به د مرګ په وخت ارمان کوی او د قيامت په

ورځ به ئی بد حال وی اوس په حق پرستو پوري ټوقی کوی نو هغه به کامیاب شی او دوئ به د دنیا پسي ارمان کوی نو ستاسو څه ګمان دي چی څمونږ نه به تپوس نه کیږی نه تپوس راروان دي نو د الله لویي بیان کړئ او شریک حصه دار نه ئي پاک اوګڼړئ نو کامیاب به شئ ګنی نو ناکام به وی نو د الله نه د مغفرت او رحمت سوال کوی .

## (لنډه خلاصه)

د بزرګ نیکه ابراهیم علیه السّلام د مبارک بیان نه روستو هم د مشرکانو دا حال دي د ځان د تحریماتو نه نه منع کیږی بلکه الټه نوی نوی تحریمات د ځان نه کوی نو که دا خلق د شرک او ظلم نه منع نشو او عدل او احسان ئي کړي وي نو د عذاب نه به بچ شوي وي .

نزولها (١٠٢) مصحفاً (٢٤) سورة النور مدنية ركوعات (٩) ایات (٦٤)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة النّور)

چی کله مو عقیده او عمل د شرک نه پاک شو نو اوس منافقان کوشش کوی چی ستاسو معاشره ګنده کړی نو عظیم الشّان سورت پدي مسئله راغلي دي چی تاسو خپله معاشره د پلیتئ نه پاکه کړئ نو که فاحشه د عمل یا د خلي راشی نو پدي څلور اصولو ئی پاکه کړئ (١٠) دا قوانین جاری کړئ ګنی منافق د مقتداء کور هم نه پریږدی او تهمت لګوی نو د تهمت سزا جاری کړئ چی منافق

منع شی دوئ فحشاء خوروِل غواړی نو د شیطان په قدم روان دی تاسو تري ځان اوساتئ که د یو مومن مخلص نه غلطی اوشی نو معاف ئی کړئ او منافق له سخت عذاب دي ځکه د پلیتو دغه کار وی (۲۶) او که د فحشاء د مخنیوی دپاره دا اووه اداب عملی کړئ چی معاشره مو پاکه شی (۳۴) او مسئله د توحید په پاکه معاشره کښي لکه د نور ترقی کوی منافق د دي مسئله مخنیوی کوی نو په مقتدا تهمتونه لګوی دامسئله خو لکه د نور ځلیږ.ی او په پاک ځایونو کښي د پاکو خلقو نه ملاویږ.ی مقابله کښي د شرک والا د هغوئ هر قسمه اعمال تباه دی تیاره کښي دی ځکه چی دا داسي مسئلی نه انکار کوی چی د کائنات هر څیز ئی منی او د هر څه نه معلومه ده نو د داسي صاف دلائلو نه روستو هم دوئ د قران داسي معاشري ته نه تیاریږ.ی او مومن دیته تیار دی اطاعت کوی نو الله به ورله دنیا کښي هم خلافت ورکړی او کافر د الله نه خلاصیدلي نشی نو اي مومنانو تاسو معاشره پاکه کړه دا اداب عملی کړئ او پیغمبر چی معاشره پاکوی او پدي قوانینو معاشره جوړوی نو تاسو د هغه اطاعت اوکړئ ځکه نافرمانی سبب د عذاب دي نو الله ته واپسی ده او هغه د هر څه نه خبردار دي .

## (لنډه خلاصه)

چی کله مسئله د توحید په عقل او نقل سره واضحه شوه او د مشرکانو د شکونو او شبهاتو جوابونه اوشو . خه په تسلئ سره نو اوس دوئ له پکار وو چی مسئله د توحید ئی منلي وي خو البته دا مشرکان منافقان دومره پلیت دی چی ستاسو په مقتدا محمد مصطفی صلّی الله علیه وسلّم باندي دروغ تهمتونه لګول شروع

کوی د دي دپاره چی جاهل عوام ستاسو د مقتدا نه بد ظنه شی او مسئله د توحید اوریدل پریږدی نو اي مومنانو تاسو ته د معاشري اصول خودلي شی چی تاسو د دغه اصولو پابندی اوکړئ چی بیا څوک په تاسو تهمت اونه لګوی او د مسئلي د توحید خه خوره والي اوشی .

سورة الفرقان مکیة — نزولا (۴۲) مصحفا (۲۵) — رکوعات (۶) آیات (۷۷)

بسم الله الرحمن الرحیم

## (سورة الفرقان)

پدي سره هم ستاسو معاشره او عمل تباه کیږی چی کله تاسو د خیر او برکت ورکونکي غیر اوګنړئ نو عمل د شرک نه پاک کړئ او دا اومنئ چی برکت ورکونکي صرف الله تعالی دي ځکه خالق او مالک هغه دي . دوئ چی کومو ته د برکت ذمه داران وائی نو هغه عاجزان دی دوئ د دعوت او د داعی دشمنی کوی او اعتراضات کوی . نو اصل وجه دا ده : چي دوئ د آخرت منکر دی نو پته به ئی اولګی هغه خپل شریکان به پري خلاف ګواهی اوکړی نو تاسو صبر کوئ امتحان دي دوئ اعتراضونه کوی نو د قیامت په ورځ به ارمان کوی چی کله پري پیغمبر خلاف ګواهی اوکړی دا خو د قران خلاف کوی نو چی چا خلاف کړي وو نو تباه شوی وو هغه نموني اوګورئ خو دوئ باندی د ضد د وجي نه مهر اولګیدلو نو د دوئ او د ځناورو څه فرق چی د داسی عجیب دلائلو نه عبرت نه اخلی او د رحمن ذات برکتونه

نه منی برکتونه د آخرت هم د الله اختیار کښي دی او پدي صفتونو د مومنانو ئی ورکوی نو اومنئ ګنی عذاب به راشی .

(لنډه خلاصه)

چی کله دِ مسئله د توحید په زبردستو واضحو دلائلو سره ښکاره کړه نو اوس ئی د نتیجی نه خبردار کړه چی بي اسبابو د برکاتو ورکونکي د الله نه سوا بل څوک مه منئ پدي باندی عقلی دلیلونه په اوږدو او نقلی په لنډو بیان کړه .

سورة الشعراء مکیة — نزولها (۴۷) مصحفا (۲۶) — رکوعات (۱۱) ایات (۲۲۷)

بسم الله الرحمن الرحیم

(سورة الشّعراء)

قران کریم دا مسئله واضحه بیانوی چی برکات ورکونکي الهدي دوئ بیا هم نه منی نو ته خفه کیږه مه انجام نه به خبردار شی په زمکي کښي د برکت دلائل ښکاره دی خو زیات نه منی نو اوګوره د انبیاء کرامو واقعات چی ټوله دا مسئله کړي ده او چا چی نده منلي نو هغه تباه شوی دی او منونکی بچ شوی دی دا واقعات د ابراهیم ، موسی ، نوح ، هود ، صالح ، لوط ، شعیب علیهم السّلام بیان کړه (۱۹۱) پدي مسئله دا قران راغلي دي پدي دلیلونه ښکاره دی خو دوئ نه منی عذاب به راشی دوئ کله د کهانة او شعر اعتراض کوی نو جواب ورته اوکړه او مسئله بیان کړه په اصولو باندی ظالمان به انجام نه خبردار شی .

(لنډه خلاصه)

اوس پدي شرک فی البرکة باندي نقلی دلائل په اوږدو بيان کړه چې دوئ تير واقعات واوری او فکر اوکړی او د تيارو نه راؤځی د رنړا په طرف باندي او خپل خيالی معبودان برکتی او نه ګنړی

نزولا (۴۸) مصحفا (۲۷) سورة النمل مكية ركوعات (۷) ايات (۹۳)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة النّمل)

پدي مسئله د برکت زبردست کتاب راغلي دي د دي منونکی کامياب دی او نه منونکی ئی په عذاب دا مسئله بيانوی چې برکت ورکونکي صرف الله تعالی ځکه دي چې هغه عالم الغيب دي او هغه سلامتيا ورکونکي دي اوګوره موسی عليه السّلام لوئی پيغمبر وو خو نور الهی ته ئی نار اووي او د همسا نه خبر نشو او اوګوره سليمان وو پيغمبر خو د بلقيس او د هدهد د حال نه خبر نشو (۳۱) او سلامتيا الله تعالی ورکوی اوګوره صالح او لوط عليهما السّلام له سلامتيا الله ورکړي وه نو معلومه شوه چې ټول صفتونه د خدائتوب د هغه دی او دا ځکه چي کائنات کښي متصرف بل څوک نشته دي نو د هغه نه علاوه په غيبو هم څوک نه پوهيږی (۶۵) دوئ التبه د قيامت نه انکار کوی او د عذاب مطالبه کوی الله به عذاب راولی او د دوئ نه خبردار دي خو دوئ په قران د عذاب نه ولي د بچاؤ بندوبست نه کوی اصل وجه دا ده چې د ضد د وجي نه پري مهر لګيدلي دي (۸۱) اوس د داعی

خبره نه منی بیا به د یوي داني خبره اومنی نو خپل انجام د نه منلو دي د آخرت اوګوری اوس دي د دي عقل دلیل کښي سوچ اوکړی ګنی نو د آخرت یره سخته ده نو ته ورته بیان اوکړه چی کله عالم الغیب او متصرف الله تعالی دي نو ځه به صرف د هغه عبادت کوم او دیته به خلق رابلم خو تاسو منئ او که نه الله به خپل قدرت عجائب اوښائی .

## (لنډه خلاصه)

اوس د دي نفی د شرک فی البرکة وجي هم اوخایه چی د الله نه علاوه نه څوک په غیبو پوهه شته او نه څوک کارساز متصرف نو د دي وجي نه بل برکت ورکونکي نشته دي .

نزولها (۴۹) مصحفا (۲۸) سورة القصص مكية ركوعات (۹) آيات (۸۸)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة القصص)

دا قران کریم تا ته د موسی علیه السّلام د واقعی په ذریعه خپل مستقبل خائی په بهادرئ مسئله اورسوه ستا حال پشان د موسی علیه السّلام دي هم په ابتداء کښي هم په آخر کښي د هغي مقابل ډیر ځان اوچت کړي وو نو الله راخلاص کړو او کمزوري ئی اوچت کړو (۶) او الله تعالی ئی مور سره د واپسئ او د نبوت وعده کړي وه لږ د دي خبرو تفصیل اوګوره مور ته واپس شو او چی نبوت الله تعالی ورکوو نو د مصر نه ئی د ویستلو زبردست بندوبست اوکړو او د یو بزرګ صحبت کښي پاتي شو او نبوت

ورته ملاؤ شو چی فرعون خلاف اوکړو نو تباه شو (۴۳) نو ته د الله حق پیغمبر ئي ځکه دا واقعات بيانوي او تا سره چی کوم کتاب دي حق کتاب دي که دوئ نه منی نو نور نيکان خلق هغه منی که دوئ نه منی نو هدايت ستا په اختيار کښي ندي (۵۶) دوئ هسي بهاني کوی او په دنيا مست دی نو د آخرت حال ورته اووايه او مسئله د توحيد ورته په دليلونو بيان کړه او په دنيا دِ نه مستيږی انکار کوی څوک چی په دنيا مست شوی وو نو د هغه انجام دِ اوګوری قارون نو ستا سره وعده ده چی تا به مکي ته واپس کوی نو ته صاف بيان د توحيد اوکړه الله تعالی درله نبوت درکړي دي .

(لنډه خلاصه)

نو اي محبوبه د نفی د شرک فی البرکة والا مسئله د موسی عليه السّلام غونته په بهادرئ سره اورسوه او د مشرکانو تکليفونه برداشت کړه په انبياء باندي دغه شان تکليفونه راځی آخر کښي فتح او کاميابی لکه د موسی عليه السّلام به ستا وی . د دي وجي د دي مسئلی په بيانولو کښی بالکل نرمی مه کوه .

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة العنكبوت)

چی الله تعالی کامیابی درکوی نو امتحانات به برداشت کول غواړی نو امتحان به راځی او څوک چی ستاسو سره ضد کوی او تکلیف درکوی نو هغه به تباه شی (۴) نو چی دا منی چي آخرت شته نو امتحانات برداشت کړه امتحان به د نفس د طرف نه راځی د مور پلار د طرفنه او دغلطو لیډرانو ناکاره ملیانو د طرفنه او امتحان به دومره اوږد وی لکه د نوح علیه السّلام مده د نبوت یعنی که دومره عمر دعوت وی نو ورسره به امتحان وی او داسي به وی لکه د ابراهیم علیه السّلام اور ته دانګل (۲۷) خو چی څوک ستاسو دشمنی کوی او انکار کوی تاسو تنګوی نو هغه به تباه شی اوګوره قوم د لوط ، مدین والا ، عادیان ثمودیان فرعونیان څنګه تباه شو (۴۰) په غیر اعتماد کول داسي دی لکه د جولاګی جالی ته کور وئیل نو مسئله بیان کړه نیک اعمال کوه چی مسئله کښي دِ زړه مضبوط وی دوئ نه منی مطالبه د معجزی کوی نو ولي قران کافی ندي التِه د عذاب مطالبي کوی نو عذاب وخت مقرر دي که بیا هم تنګول کوی نو هجرت تري اوکړه د دنیا عمر باندي څه اعتبار دي (۶۴) دوئ هم یو وخت کښي د توحید قائل شی بیا هم د احساناتو قدر نه کوی نو دوزخ غښ دي او څوک چی په خنده پشانئ سره تکلیفونه برداشت کړی نو الله تعالی ئي ملګري دي .

(لنډه خلاصه)

اي مسلمانانو ! د دعوي د منلو نه روستو به هم مصيبتونه راځی د دي دپاره چی د دروغژن او د ريشتونی جداوالي اوشی .

سورة الرّوم مكية — نزولا (۸۴) مصحفا (۳۰) — ركوعات (۶) ايات (۶۰)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة الرّوم)

چی کله تاسو امتحانات برداشت کړل نو اوس به الله تاسو له خو غلبه درکوی خو هغه چاله به هم غلبه ورکوی چی تاسو د چا په غلبه خوشحاليږئ دا الله تعالی ته څه ګرانه ده دا بي وقوفه صرف ظاهری اسبابو ته ګوری غلبه ورکونکي الله تعالی سره د سازو سامان ئي پخوانی تباه کړی وو . د دنيا انجام ئی هم د تباهئ شو او آخرت کښي ئي هم شريکان پکار نه راځی (۱۹) نو چی کومه مسئله د غلبي ده چی هغه د توحيد ده نو هغه منل غواړی او بيانول غواړی د هغي د دلائلو جال په کائنات کښي خور دي (۲۷) او ستاسو د نفسونو نه هم د شرک بطلان معلوميږی نو چی کله په شرک قومونه تباه شوی دی او توحيد د بچ کيدلو ذريعه ده نو دا خو ستاسو د فطرت سره برابر مسئله ده نو دا اومنئ کنه مشرکانو فطرت خراب کړي دي (۳۲) د دوئ هم کله چی تری ماحول کټ شی نو فطرت ئی بيدار شی او بيا د غير الله نه نااميده شی (۳۶) مال ډيرول د حقانيت نخه نده د عذاب نه د بچاؤ دپاره احسان د غير سره کوئ او ظلم مه کوئ هغه الله خالق دي بل

ورسره حصه دار نشته دي د دي شرک د وجي نه فساد راځی او تباهی نو توحيد کلک اونيسئ چی د عقل موافق دي تير قومونه ځکه تباه شو چی د توحيد نه ئی انکار کړي وو . ولي دوئ سوچ د باران په حال نه کوی نو سوچ به څه اوکړی چی مهر پري لږيدلي دي (۵۳) ځان نه هم عبرت نه اخلئ نو په آخرت کښي به ارمان کوئ قران ښکاره بيان کوی دوئ سره د دي نه منی نو د دوئ اعتراضونه او نه منل دِ تا بي همته نکړی فتح ستاسو ده انتظار کوئ .

(لنډه خلاصه)

که په امتحان کښي په پوره نمبرو پاس شوئ نو کاميابی ستاسو ده .

نزولا (٥٧) مصحفا (٣١) سورة لقمان مكية ركوعات (٤) ايات (٣٤)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة لقمان)

د توحيد مسئله دا زبردست کتاب بيانوی چی د هغي منونکی کامياب او نه منونکی ئی ناکام دی او مسئله ئی د عقل هم موافق ده (۱۱) او د نقل هم چی حکيم الدّنيا دا مسئله د توحيد بيان کړي ده سره د نيکو اعمالو او اخلاقو نه (۱۹) نو ولي د کائناتو نه عبرت نه اخلئ چی هر طرفته د نعمتونو جال خور دي الټه د پلار نيکه غلط تقليد کوی او مضبوط دين د توحيد هغه پريږدئ لږ د دوئ نه تپوس اوکړئ نو دوئ هم خالق الله منی او د کائنات

تصرفات د الله دی نو عبادت حق هم د هغه دي لړ. د کشتئ د خپل حال نه عبرت واخلئ او د قيامت ورځ له تياري اوکړئ په هر څه پوهه هم صرف هغه الله تعالی دي .

(لنډه خلاصه)

آخر کښي ورته بيا مسئأه د توحيد په عقلی او نقلی دلائلو سره تفصيلی په کاملي طريقي سره بيان کړه خپله هم په توحيد کلک اوسيږه ځکه چی کاميابی هم پدی صورت کښي ده چی کله تاسو په توحيد کلک شئ چی هر څه کونکي ، په هر څه پوهه او برکتونه ورکونکي صرف الله تعالی دي .

نزولا (٧٥) مصحفا (٣٢) سورة السجدة مكية ركوعات (٣) ايات (٣٠)

بسم الله الرحمن الرحيم

**(سورة الم سجده)**

عظيم الشّان کتاب غافله خلق خبروی چی د الله د اجازت نه بغير څوک سفارش نشی کولي ځکه هغه کارساز متصرف او عالم الغيب دي دوئ د خپل ځان نه عبرت نه اخلی چی د دوئ د پيدائش په وخت کښي ولي څوک سفارشی وو دوئ التِه د منلو په ځائی د اخرت نه انکار کوی نو آخرت کښي به بيا د دي مسئلی د منلو پسی ارمان کوی نو اوس لکه د دي نيکانو خلقو پشان دا مسئله د قران په حواله اومنی ځکه منونکی او نه منونکی نه دلته برابر دی او نه په اعتبار د انجام سره برابر دی چی د داسي بيان نه انکار کوی نو غټ ظالم دی (٢٢) او دا مسئله د نقل نه هم ثابته

ده موسی علیه السّلام د دي بیان کړي دي او چا چی نده منلي نو هغه تباه شوی دی نو لږ سوچ عالم کښي اوکړئ دوئ سره ټوقي شروع کړی نو ځه د انجام انتظار دِ کوی .

(لنډه خلاصه)

چی کله مو دا یو سبق یاد کړو نو اوس د دي مسئلی نه روستو بله مسئله هم یاده کړئ چی د الله تعالی مخي ته ځوک بي اجازته سفارشی هم نشته دي چی هغه د رامدد کولو لائق دي چی کله دا مسئله هم اومنئ نو مکمل موحدين به شئ .

نزولها (٩٠) مصحفا (٣٣) سورة الأحزاب مدنية ركوعات (٩) آيات (٧٣)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة الاحزاب)

نو اي محبوب دوئ به کوشش کوی چی تا د دي مسئلی د شفاعت قهريه د بیان نه واړوی خو خبردار لکه د دوئ تابعداری دِ تر اوسه نده کړي نو آئنده کښي هم د دوئ د تابعداریٔ نه ځان ساته او د مایوحی تابعداری کوه او دا غلطه عقیده د شفاعت قهری او دا غلط رسم د متبنّی ختم کړه او مومنانو له منل پکار دی ځکه چی هغه په دوئ مئین دي او ته بیان کوه ځکه ستا دا ذمه داری ده او اي مومنانو تاسو د دي غلطي عقیدي او غلط رسم په ختمولو کښي مکمل تعاون د نبی علیه السّلام وکړئ الله به ستاسو داسي مدد اوکړی لکه په احزاب کښي ئي چی کړي وو لکه د منافقانو سستی او یره مه کوئ د نبی علیه السّلام غوندي کلک شئ هغه ستاسو له

نمونه ده او د نیکانو صحابو غونته الله به مدد کوی نمونه اوګورئ (۲۷) او اي محبوب صلّی الله علیه وسلّم د خپل کور هم کامله اصلاح اوکړه او پکار ده چی دا خاص امت هم پدي غلط رسم ختمولو کښي تعاون اوکړی او تابعداری اوکړی نو د ډبل اجر دي عامو مومنانو له هم نافرمانی د ګمراهی ذریعه ده (۳۵) او د خلقو د اعتراضاتو فکر مه کوه چی الله درله جائز کړی وو نو څه فکر او ستا نارینه بچی کوم دی چی انګور دِ وی ته آخری نبی ئی دا ستا ذمه واری ده (۴۰) اي مومنانو که زړه ته څه راغلی دی نو الله تعالی ته توجه کوئ چی ذکر واذکار سره هغه معاف شی او دا د نبی علیه السّلام ذمه داری ده یو څو ضمنی مسئلی هم واورئ چی یقین مو پدي رسمِ باطل ختمولو مضبوط شی د پیغمبر د ایذاء رسانئ نه ځان اوساتئ او د هغه په همت آفرین اووایئ او اي محبوب خپل کور او مومنانو ته دپردي حکم اوکړه چی غیر ته د اعتراض موقع ملاؤ نشی نه منونکی تباه دی چی څوک د مایوحی په ځائي د سردارانو او پیرانو تابعداری کوی . اي مومنانو تاسو اتباع او تکلیف مه رسوئ نو کامیاب به شئ دا ذمه واری تاسو پورته کړی ده نو مشرک او منافق خیانت کوی که د مومنانو نه څه کمي اوشی نو الله به ئی ورته معاف کړی .

(لنډه خلاصه)

د مشرکانو په چال کښي رانشي ځکه د چا په سفارشی وئیلو سره څوک سفارشی غالب نشی جوړیدلي لکه ښځی ته په مور وئیلو سره هغه ځوئ کیږی نه .

سورة سبا مکیة — نزولا (۵۸) مصحفا (۳۴) — رکوعات (۶) آیات (۵۴)

بسم الله الرحمن الرحیم

(سورة سبا)

اوس که د دوئ څه شبهات وی چی نیکان بندیګان سفارشیان کیدلي شی نو د هغي جواب ورته اوکړه چی ټول صفتونه د خدائتوب ځکه د هغه الله دی چی هغه متصرف او کارساز دي او هغه عالم الغیب دی د دوئ د انکار وجه د آخرت نه انکار دي نو آخرت څه ګران هم ندي او فائده پکښي هم شته دي نیکان خلق د دي قران حقانیت منی او چی کوم ضدیان او عنادیان دی نو هغوئ په داعی اعتراض کوی نو د عذاب نه بچ کیدلي نشی او که د دوئ څه شک او شبه وی چی داود او سلیمان به ناشنا کارونه کول نو هغه عاجزان دی چی کوم کمالات وو نو هغه الله تعالی ورکړی وو او جنات هم په غیبو نه پوهیږی دوئ دِ په خپل آسوده حالئ نه د هوکه کیږی سبا والا نه دِ عبرت واخلی نو د مشرک نه دِ متوجّه اوباسی ځکه دوئ چی چا ته رامدد شه وائی نو نه مالکان دی او نه بي اجازته سفارش کولي شی نو په طریقه طریقه ئي پوهه کړه دوئ الټه په داعی اعتراضونه کوی نو خپل د قیامت حال دِ نن

دنیا کښي اوګوری چی بیا به افسوس کوی او مال او دولت د حقانیت او نزدیکت ذریعه نده دا خو د الله تقسیم دي د قیامت په ورځ به د یو بل نه ویزاره وی وی او دوئ سره څه قسمه دلیل نشته دي پخوانی تباه شوی نو دا به هم تباه شی نو په طریقه طریقه دعوت ورکړه او د آخرت د خطرناکئ نه ئی خبروه .

(لنډه خلاصه)

مشرکانو ته په مسئله د شفاعة قهریه باندي څه شبهات دی او شکونه ورته رااوچتیږی نو دوئ ته خه زړه پوری جوابونه د قران په تعلیم ورکړه چی د دوئ هغه راپورته شوی شکونه ختم شی .

نزولا (۴۳) مصحفا (۳۵) سورة فاطر مکیة رکوعات (۵) آیات (۴۵)

بسم الله الرحمن الرحیم

## (سورة الفاطر)

نو چی کله څوک سفارشی نشته بغیر د اجازت نو ټول صفتونه الله تعالی له اومنئ او حاجتونو کښي صرف هغه رامدد کړه او پدي مسئله ورته عقلی دلیلونه بیان کړه د شیطان د وسوسو او د تنوین ته دِ ځان اوساتی او د الله تعالی د تصرف دلیلونو ته دِ سوچ اوکړی نو په به ورته اولګی چی اختیارات صرف د الله تعالی او دوئ چی چا ته رامدد شه وائی نو هغه عاجزان دی او نه بلنه اوریدلي شی نو خپل حاجتونه الله تعالی ته پیش کړئ نو لږ مثالونو کښي سوچ اوکړئ چی معبود حق او معبود باطل څنګه

برابريدلي شی که نه منی نو ستا کار هغه انذار دي او د نه منونکی حال د تباهئ دي نو که ځان بچ کوی نو پدي دلائلو کښي سوچ اوکړئ او د قران نه دِ دا مسئله زده کړی چی کامياب شی او نه منی بيا به ارمان کوی نو دوئ سوچ نه کوی چی عالم الغيب الله تعالی دي د دوئ چی کوم معبودان دی نو هغه عاجزان دی څه نشی کولي نو د تباهئ قابل دی خو وخت مقرر دي .

## (لنډه خلاصه)

اوس چی هر کله ټول شبهات ختم شو او مسئله بالکل واضحه شوه چی څوک هم بي اجازته سفارشی نشته دي نو اوس ورته اووايه چی اي احمقانو ! نو بيا ولي غير الله رامدد کوئ .

نزولها (٤١) مصحفها (٣٦) سورة يس مكية ركوعات (٥) آيات (٨٣)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة يس)

دا قران کريم ستا د رسالت صاف دليل دي خو دا ضديان نه منی عناد کوی چی چا کښي انابت وی نو هغه خبری اومنی او کامياب شی لږ سوچ د پخوانو حال ته پکار دي چی چا د خپل خيال مطابق سفارشيان جوړ کړی وو نو هغه خلق هم تباه شو او هغ سفارشيانو هغوئ بچ نکړل لږ دوئ دي دلائلو کښي سوچ نه کوی د سوچ په ځائی الټه انکار کوی او استهزاء کوی او د قيامت نه انکار کوی نو منونکی به په دغه ورځ کامياب وی او نه منونکی به ناکام وی دنيا کښي هم که د الله اراده اوشی نو تباه به شی نو

ولی ضد او عناد کوی دلائلو کښي سوچ نه کوی الټه نور شریکان جوړوی نو هغه څه کولي شی او د قیامت نه انکار کوی نو ولي انکار کوی د الله قدرت ته نه ګوری نو معلومه شوه چی اختیارات ټول د الله تعالی دی نه ده بل چا نو سفارشی بل چرته دي بي اجازته .

(لنډه خلاصه)

ګورئ نه ؟ چی پخوا وخت کښي کومو خلقو د خپل خیال مطابق سفارشیان جوړ کړی وو نو کله چی مونږ دغه مشرکان تباه کول نو دغه خیالی سفارشیانو دوئ بچ نه کړل نو په دغه تیرو حالاتو دوئ له سوچ کول پکار دی او پدي ځان پوهه کول پکار دی چی دا ستا مخي ته څوک بي اجازته سفارشی نشته دي .

نزولا (٥٦) مصحفا (٣٧) سورة الصّافّات مکیہ رکوعات (٥) آیات (١٨٢)

بسم الله الرحمن الرحیم

(سورة الصّافّات)

دوئ چی چا ته سفارشیان وائی نو که هغه نوری وی ملائک نو هغه عاجزان دی او که ناری وی جنات نو هغه هم عاجزان دی دوئ د قیامت نه انکار کوی خپل حال دي اوګوری د منونکو او نه منونکی او د عذاب وجه د توحید نه او پیغمبرانو نه انکار او که هغه الهه چی دوئ نیولی وی د خاورو پیدا دی لکه انبیاء نو ټول عاجزان دی لږ حال ئی اوګورئ دوئ الټه فرشتو ته د الله لونړه وائی او جناتو ته غلط نسبت کوی حالانکه ټول عاجزان دی

او د قران نه انکار کوی سره د دي نه چی غوختلي ئی وو نو څه ځمونږ داعی او دعوت به غالب شی دوئ به تباه شی نو دا يقين پکار دي چی مخلوق ټول الله ته عاجزان دی او کارساز متصرف صرف الله تعالی دي .

## (لنډه خلاصه)

دا د ده د خيال مطابق سفارشيان مشرکانو له بچ کول خو چرته دی هغه سفارشيان په خپله مصيبتونو کښي ګير شوی وو نو په هر ځائي کښي الله تعالی ته عاجزی کړي وه او کوی که هغه ناری وی که نوری او که خاکی نو اوس اووايئ چی داسي عاجزان بنديګان څنګه بي اجازته سفارشيان کيدلي شی ؟

نزولها (٣٨) مصحف (٣٨) سورة ص مكية ركوعات (٥) آيات (٨٨)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة ص)

داسي زبردست د نصيحت کتاب راغلي دي چی د شک ځائی نه پاتي کوی خو کافر ضد او عناد کوی نو داعی ته کله ساحر وائی کله نور الزامات کوی نو د انکار د وجي مخکښي تباه شوی وو نو اوسنی به هم تباه شی دوئ چی چا ته سفارشيان وائی نو په هغوئ خپله مصيبتونه راغلی دی لکه لږ د نيکانو بنديګانو انبياؤ حالات اوګوره داود ، سليمان ، ايوب عليهم السّلام چی څنګه امتحانات پري راغلي وو نو منلو کښي کاميابی ده او نه منلو کښي تباهی ده دا عظيمه مسئله ده او دوئ تري انکار کوی نو د انکار

والو او تكبر كونكو حال دي اوګورى چى شيطان څنګه ذليله شو نو د دي زبردست نصيحت د انجام انتظار دِ كوى .

## (لنډه خلاصه)

اوهو! د دي كافرانو هغه خيالى سفارشيان عاجزى خو په خپل ځائى دوئ خپله هم الله تعالى د امتحان په طور نيولى وو نو چى كله د دغه سفارشيانو دغه حال دي نو څنګه به بي اجازته سفارشيان شى ؟

نزولا (٥٩) مصحفا (٣٩) — سورة الزّمر مكية — ركوعات (٨) آيات (٧٥)

بسم الله الرّحمن الرّحيم

## (سورة الزّمر)

د الله تعالى زبردست ذات د طرفنه زبردست كتاب پدي مسئله راغلي دي چى كله څوک سفارشيان بي اجازته نشته دي نو عبادت صرف او صرف د الله تعالى حق دي نو صرف د هغه بندګى اوكړئ د كافرو دا غلطه نظريه ده چى دوئ مونږ الله تعالى ته نزدي كوى د فيصلي ورځ راروانه ده . دوئ الله لره نيازولى مقرروى د هغه نيازولو او نائبانو ته څه حاجت هغه خو دا زبردست كارونه يواځى پخپله كوى نو ولي ستاسو حاجات نشى پوره كولي نو د ناقدرئ په صورت كښي به عذاب دركړى دا ناقدره انسان خو خپله هم په ځنو اوقاتو كښي صرف الله رامدد كوى روستو بيا انكار شروع كړى نو د الله عبادت كونكى او مشركان نه په عمل كښي او نه په علم او عقيده كښي برابر دى .

نو کچرته دوئ مو تنګوی نو د الله زمکه پلنه ده ملک پریږدئ خو توحید مه پریږدئ اوصاف ورته اووایه چی دا ما ته د بره نه حکم دي او خلاف نه یریږم چی څوک د یو الله بندګی نه کوی نو هغه مکمل تاوانیان دی او د غیر د عبادت نه ځان بچ کونکی مکمل کامیاب دی نو چرته برابریدلي شی . چی د یو سینه توحید ته پرانستلی وی او بل تور زړي وی نو څنګه به برابر شی قران د دي زبردستی مسئلی داعی نه منونکی به په اور ستی شی . قران زبردست د وضاحت کتاب د توحید زبردست مثالونه بیانوی خو دا ظالمان تکذیب کوی نو دا او رشتیا والا ندی برابر او تالره اله تعالی کافی دي دوئ خپله هم د توحید د خالقیت او د کائناتو د تصرف قائل دی خو بیا هم سفارشیان جوړوی او د توحید مسئله پري بده لګی (۴۵) نو ځه الله ته عاجزی کوه د قیامت په ورځ پته اولګی کچرته زړه کښي ئی څه نرمی راغلی وی نو الله تعالی ته دي عاجزی اوکړی او توبه دِ اوباسی نو الله تعالی به ئی معاف کړی او که ځان اوچت ګنړی نو تباه به شی که چرته ستا نه د څه د غیر د عبادت طمع کوی نو صاف ورته اعلان اوکړه چی ځما نه د جهالت کار نه کیږی او د قیامت د احوالو او نتیجو نه ئی خبر کړه .

## (لنډه خلاصه)

اوس چی کله په واضحه زبردستو دلیلونو سره دا خبره ثابته شوه چی د الله تعالی نه علاوه نه څوک د هر څه کولو اختیار مند شته او نه څوک په پټو پوهه شته او نه برکتونه ورکونکي او نه دهغه

مخي ته څوک بي اجازته سفارشی شته دي نو اوس د غير الله رابلل او عبادت پرېږدئ او فاعبد الله مخلصًا لّه الدّين .

سورة المؤمن مكية — نزولها (٦٠) مصحفا (٤٠) — ركوعات (٩) آيات (٨٥)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة المؤمن)

زبردسته حكم نامه پدي مسئله چی صرف په خپلو حاجتونو كښي يو الله رامدد كړئ د زبردست ذات د طرفنه راغلي ده پدي حكم نامه كښي جدال كونكي كافر دي او د تباهئ والا دي او د دي منونكو له فرشتي دعاګاني غواړی او دري پښته به ئی جنت ته ځی او د دي انكار كونكی به ارمان كوی نو د دي تقاضا او د عقل تقاضا هم دا ده چی صرف او صرف الله تعالی په خپلو حاجتونو كښي رامدد كړئ اګر كه كافر سوزی نو سوزی به

جو جلتے ہے تو جلنے دو جو ہے توحید کے دشمن

نداء وحدت کی قرآن سے گلی کوچوں میں دیتا جا

د دي مسئلی سره الله درجات اوچتوی او د نه منونكو حال د آخرت او د دنيا ډير خطرناك دي لږ د موسی عليه السّلام د بيان نه عبرت واخله چی د هغه نه منونكی څنګه تباه شو نو لكه د موسی عليه السّلام او د رجل مومن دا مسئله په بهادرئ اورسوئ څوک چی نه منی نو د قيامت په ورځ ليډران او كاركنان يو بل سره جنګيږی او د منونكو به الله تعالی په دنيا او آخرت كښي مدد

کوی . دا مسئله په تورات کښي هم وه که دوئ ستا خلاف څه منصوبه جوړوی نو کامیابیدلي نشی او قیامت حق دي صرف هغه الله رامدد کړئ هغه درله حاجات پوره کوی ځکه هر قسمه تصرف د هغه اختیار کښي دي او د دي خلاف کونکی به قیامت کښي راخکلي شی ځکه بي دلیله شرک کوی . کیدي شی دنیا کشي هم تباه شی او معجزات د انبیاء اختیار کښي نه وی د انبیاؤ کار دلیلونه بیانول وی نو بیان کړه که نه منی نو د مخکښینو حال دِ اوګوری د عذاب په وخت به ایمان هیڅ فائده نه کوی .

(لنډه خلاصه)

د فاعبد الله مطلب هم دا دي چی فادعو الله مخلصًا لّه الدّین ځکه چی د عبادت غټه حصه حاجتونه غوختل دی . نو د دي وجي په غائبانه حاجاتو کښي بغیر د اسبابو کارونو کښي د الله تعالی نه علاوه بل څوک مه رامدد کوئ .

سورة حمٓ السجدة مكية — نزولا (٦١) مصحفا (٤١) — ركوعات (٦) آيات (٥٤)

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيمِ

**(سورة حم سجده)**

اوس که دوئ دا وائی چی ځمونږ څه شبهات دی نو دا عظیم الشان کتاب الله تعالی وضاحت له رالیږلي دي چی چا کښي انابت وی نو هغه فائده واخلی خو په دوئ مهر راغلي دي نو اول شبه دا کوی چی مونږ ستا په خبره نه پوهیږو نو ته ورته اووایه چی ځه خو ستاسو غونته بنده یم او داسي صاف مسئله کوم چی د زمکي

او آسمان نه د هغي حقانیت خکاری نو که مخ اړوی نو خپل حال دِ لکه د عادیانو او ثمودیانو اوګوری او آخرت کښي به پري خپله اندامونه ګواهی کوی نو دوئ زر وائی چی مونږ به منلي وي خو مونږ له خوبونو کښي راځی نو ورته اووایه دا شیطان دي او د نه منلو وجه د قران دشمنی ده نو دا دشمنی به ئی تباه کړی . او کوم چی په توحید کلک شو نو هغه د الله تعالی میلمانه شی نو دا خائسته مسئله په خائستو اخلاقو په خکلو دلائلو بیان کړه که دوئ شبه کوی چی دا په عربئ کښي دي نو ته د ځان نه جوړوی نو جواب ورته اوکړه او که دا وائی چی په یو ځل ولي نه راځی نو د موسی علیه السّلام کتاب په یو ځل راغلي وو دوئ تري انکار کړي وو نو منل ئی خپله فائده او نه منل ئي خپل نقصان دي د قیامت په ورځ به د خپلو شرکاؤ نه نااميده شی قیامت خو څه کله دنیا کښي همم نااميده شی نو د الله د حقانیت نخی هر طرفته خوري دی نه منی نو وخت به راشی .

(لنډه خلاصه)

که تاسو ته دا شک وی چی مونږ ته دا بزرګان خوب کښي راځی او مونږ ته وائی چی دا فلانکي تکلیف تاسو ته د فلانکئ ګستاخئ د وجي اورسیدلو نو د دي وجي نه دا فلانکئ شرکی وظیفه کوئ نو دا تکلیف به ختم شی یا د فلانکی بزرګ په نوم منخته اوکړئ نو تکلیف به ختم شی نو د دي جواب دا دي چی اصل کښي دا شیطان تاسو نیسی بزرګان خوب کښي نه راځی .

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة الشّوری)

اوس که دا شبه کوی چی ته پدي مسئله کښي يواځي ئي دا ستا نه مخکښي چا نده کړي نو ورته اووايه داسي د توحيد مسئله مخکښي انبياؤ ته وحی شوي ده او د دي منونکو له فرشتي دعاګاني غواړی سره د دي دوئ نور حاجت روا جوړوی نو ته دوئ ته د قران په ذريعه دعوت ورکړه انابت والا به اومنی او که دا شبه کوی چی په مخکښينو کتابونو کښي ستا خلاف عبارتونه ملاويږی نو ورته اووايه چی د دي فيصله په قران کوو الله داسي ذات دي چی نه ذات کښي او نه صفت کښي مثل لری او پدي مسئله انبياء راغلی دی که دوئ وائی چی مليان ستا خلاف دی نو ورته اووايه چی دا باغيان دی نو چی کله دوئ داسي شبهات کوی او ستا مسئله بدنامول غواړی نو ته صاف دعوت د قران په ميزان ورکړه نه منونکی په آخرت کښي تباه شی او روزی به الله تعالی درکوی ټولو له نو حق اومنئ پدي سره دنيا کښي کمي نه راځی دوئ چی د قران مقابله کښي نور عبارتونه او مليان منی نو ولي دوئ هغوئ له د شريعت سازئ حق ورکړي دي شريعت مقررونکي خو الله تعالی دي ظالمانو ته به د خپلو کړو سزا ميلاؤ شی او منونکي به کامياب شی ورته اووايه چی ځما خو پکښي خپل مقصد نشته تاسو الله ته نزدي کول غواړم زر دوئ وائی دا ته د ځان نه جوړوي ناقدرئ نه دِ توبه اوباسی نو معاف به شی که

دوئ وائی چی الله دومره مهربان دي نو مونږ له روزی نه راکوی نو پدي حکمت الله پوهیږی د هغه یووالي د هر څه نه معلوم دي که کوم تکلیف تاسو ته رسیږی نو دا ستاسو د خپل عمل نتیجه ده او د الله نه خلاصیدلي نشی نو اومنئ او په دنیا مه نازیږئ د آخرت نعمتونه ډیر بهتر دی او هغه پدي زبردستو اعمالو ملاویږی او ظالمان نه منونکي به بیا د خلاصی ځائی ګوری خو چرته به وی نن ناقدری کوی او د الله د قدرت نه انکار کوی خو عظیم الشّان ذات دي څه هر چا سره خبري نه کوی تا ته ئی دا عظیم کتاب وحی کړی دي نو د دوئ شبهات ختم کړه .

## (لنډه خلاصه)

که تاسو ته دوئ وائی چی مونږ ته د مشرانو په تیرو کتابونو کښي مسئله د غیر الله د رابللو داسي نوري مسئلی لیکلی ملاویږی نو د دي جواب دا دي چی اصل کښي دا شرکی وغیره مسئلی په دغي کي باغیانو لیکلی دی . نو دا روستنو خلقو له دلیل کیدلي او بهانه کیدلي نشی .

نزولا (٦٣) مصحفا (٤٣) سورة الزخرف مكية ركوعات (٧) آيات (٨٩)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة زخرف)

داسي زبردست کتاب د لوئی شان والا نه دوئ انکار کوی دا خو د دوئ پخواني خوئی دي خو دي چی کومه مسئله د توحید کوی نو څه شاخونه خالقیت وغیره خو دوئ هم منی چی د داسي

قدرتونو والا ذات دي سره د دي د منلو بيا هم بنديگان حصه دار کوی او دليل دا وائی چی مونږ د مشرانو منو نو مشر خو د دوئ ابراهيم دي دغه شان نور انبياء (۴۵) او موسی عليه السّلام نو د هغوئ په دين کښي خو د غير بلنه او عبادت نشته زر د عيسی عليه السّلام نه شبه کوی نو د هغه اصل دين د توحيد دي شرک خو باغيانو راويستلي دي نو منلو سره به ئی جنت ځائی وی او که نه منی نو تباه به شی ته ورته انتظار کوه زر وائی چی مونږ منو خو ځمونږ شبه ده هغه دا چی مونږ دوئ ته مالکان نه وايو بلکه سفارشيان وايو نو جواب وکړه چی بي اجازته سفارش مِ نشی کولي نو د انکار د انجام نه به خبر شی .

## (لنډه خلاصه)

که اوس تاسو ته دا وائی چی مونږ غير الله د حاجت روا او مشکل کشا په نيت باندي نه رامدد کوو بلکه ځمونږ سفارش د الله تعالی په دربار کښي پيش کوو نو مونږ دوئ سفارشيان گنړو او رامدد کوو ئي نو د دي جواب دا دي چی دوئ له بي اجازته سفارشی گنړل هم شرک دي .

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة الدّخان)

عظیم الشّان کتاب د خیر او برکت په شپه کښي الله تعالی رالیږلي چی د دوئ شبهي ختموی چی دوئ وائی چی څه څمونږ بلنه خو اوری که پیش او که نه پیش کوی نو جواب ورته اوکړه چي بي اسبابو اوریدونکي صرف الله تعالی دي نو دا مسئله د توحید اومنئ ګنی نو ارمان به کوئ عذاب به راشی لکه په فرعونیانو چی راغلي وو دوئ د منلو په ځائی د آخرت نه انکار کوی نو الله ته څه ګران دی نه منونکی به په آخرت کښي تباه شی او منونکی کامیاب نو د قران په حواله مسئله بیان کړه چی کیدیشی نصیحت قبول کړی .

### (لنډه خلاصه)

که تاسو ته دا وائی چی څه مونږ ئي بي اجازته سفارشیان نه ګنړو بلکه دا وایو چی مونږ ئی ځکه رامدد کوو چی دوئ د لري او نزدي نه وینی او څمونږه هر خبر اوری بیا د الله دربار کښي څمونږه خبره پیش کوی بیا د الله خوخه ده که قبولوی او که نه نو جواب دا دي چی دا هم غلطه ده ځکه د هر چا نګرانی او د هر چا خبره د لري او نزدي نه اوریدل صرف او صرف د الله تعالی صفت دي .

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة الجاثية)

د لوئی ذات د طرفنه زبردست کتاب راغلي دي چی په توحید باندي عقلی دلائل پیش کوی خو دوئ څنګه د الله د نخو نه انکار کوی او د الله تعالی د آیتونو نه ځان معتبر کوی نو دوزخ به ئي ځائي شی ځکه د واضحه مسئلی نه انکار کوی او دا مسئله خو د نقل نه هم ثابته ده دوئ الټه شبه کوی چی دا ځمونږ د پلار نیکه طریقه ده جواب ورته اوکړه چی د الله تعالی د شریعت تابع شی د دي مقابله کښي د بل چا منل د خواهش منل دی نو قران له راشئ او خواهشات پریږدئ پدوئ الټه مهر لږیدلي دي نو زماني ته نسبتونه کوی او د قیامت نه انکار کوی نو اختیارات د الله تعالی دی د قیامت په ورځ به پړمخي پراته وی ذلیله ځکه چی د زبردستی مسئلي د توحید نه انکار کوی .

(لنډه خلاصه)

که تاسو ته اووائی چی څه صحیح ده چی دا ځمونږ خیالی سفارشیان څه نشی اوریدلي خو مونږ دوئ پدي امید رابلو چی کیدیشی الله تعالی دوئ ته اطلاع ورکړی نو دوئ د الله په دربار کښي مونږ له دعا اوکړی نو جواب اوکړه چی دا هم غلطه ده ځکه شریعت کښي عقلی او نقلی دلائل بیان شوی دی د دي نه علاوه ټول د باغیانو لیکلي شوی دی .

بسم الله الرحمن الرحيم

**(سورة الاحقاف)**

عظیم الشّان کتاب راغلي دي او مسئله ئی عقل موافق ده دوئ چی کوم څه رامدد کوی نو دوئ سره پري دلیل نشته دي نو بي دلیله غیر په حاجاتو کښي بغیر د اسبابو رامدد کول لویه ګمراهی ده او دا به ورله په آخرت کښي وبال شی نو د منلو په ځائی قران ته جادو او پیغمبر ته د دروغو نسبت کوی نو ته ورته اووایه چی ځه خو نوی مسئله نه کوم او عذاب ځما اختیار کښي ندي او د دي مسئلی د حقانیت دلیل موجود دي د پخوانو نه نو دوئ نه منی او عذر دا کوی چی دا زاړه دروغ دی دا غلطه خبره ده ځکه دا زاړه رشتیا دی د موسی علیه السّلام کتاب ئی دلیل دي نو بختور دی منونکی اګر که د مور او پلار یا د مشرانو په خبره اومنی او چا چی د داسي مشرانو انکار اوکړو نو تباه به شی او آخرت کښي به ورته سخته سزا ملاؤ شی او دا مسئله هود علیه السّلام هم کړي وه او د هغه نه منونکی اګر که دنیا کښي برابر وو خو تباه شو دوئ زد وائی چی ځه مونږ چی کوم رامدد کوو نو دوئ بلنه د برکت نه خالی نده نو جواب اوکړه چی پخوانی ئی ولي نه وو بچ کړی نو اومنئ لکه جناتو چی منلي وه که نه منی نو ته زغم او برداشت کوه مسئله رسوه دوئ به تباه شی .

**(لنډه خلاصه)**

کچرته تاسو ته اووائی چی څه مونږ دا هم منو چی الله تعالی اطلاع نه ورکوی خو د دي رسيدلی بزرگانو نو سپل او د دوئ د نوم وظيفه کول د برکت نه خالی ندی مونږ د دوئ د نومونو وظيفه کوو نو دا د برکت نه خالی نده او څمونږه کارونه کيږی او مونږ د مصيبتونو نه بچ کيږی نو جواب ورکړه چی دا خبره غلطه ده ځکه چی مونږ کله دا عقيده لرونکی مشرکان تباه کول نو دغه خيالی سفارشيانو دوئ د عذاب بچ نکړل او نه ورله دغه وظيفه پکار راغلي .

نزولها (٩٥) مصحف (٤٧) — سورة محمّد مدنية — ركوعات (٤) آيات (٣٨)

بسم الله الرّحمن الرّحيم

## (سورة محمّد)

هر کله چی مسئله داسي واضحه شوه او دوئ تري انکار کوی او نور خلق تري بندوی نو د دوئ چالونه نشی کاميابيدلي نو په محمد صلّی الله عليه وسلّم چی کوم کتاب نازل شوي دي نو د دي منونکی دي پاسی او نه منونکی سره دِ جنگ اوکړی که شهيدان شی نو اجر بسيار او چی کله تاسو د الله تعالی د دين مدد کوئ نو الله تعالی به ستاسو مدد کوی ځکه هغه ستاسو مددگار دي او د دوئ نه مضبوط الله تباه کړی دی ځکه دوئ به خپل خواهش پسي روان دی نو اوجنگيږئ قسما قسم باغات به الله درکړی په دوئ جهاد مسئله ناشنا لږی او نه منی نو قيامت کښي به اومنی څه ؟ نو دا مسئله د توحيد کلکه زده کړه او د دي دپاره اوجنگيږئ لکه د منافقانو بهاني مه کوئ دوئ کافرو سره کټ جوړوی په دنيا مئين

دی تاسو دنیا د الله تعالی دپاره قربان کړه نو جهاد مالی او بدنی دواړه اوکړئ که دا نه کوئ الله تعالی به نور پیدا کړی چی دا به اوکړی .

## (لنډه خلاصه)

کله چی د توحید مسئله په عقلی او نقلی او وحی دلیلونو سره او واقعاتو او علتونو د بیان سره د الله د نعمتونو د یادولو سره د مرګ نه روستنی حالاتو یادولو سره یعنی په هره طریقه بیان شوه بیا چی د دوئ په ذهن کښي څه شبهات راتلل نو د هغي جوابونه څه زړه پوري اوشو او دوئ چهپ کړي شو اوس هم نه منی نو معلومه شوه چی دا ضدیان صرف په خپل ضد کلک دی او مسلمانان په ناحقه تنګوی نو اوس د دغي خلقو دا علاج دي چی دوئ اووهئ او ذلیله ئي کړئ نو جهاد ورسره اوکړئ .

نزولها (١١١) مصحف (٤٨)　سورة الفتح مدنية　ركوعات (٤) آيات (٢٩)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة الفتح)

مونږ د جهاد نه روستو تا ته د کامیابئ زیري درکوو د مومنانو د زړه د تسلئ دپاره او د ایمان د کلک والی دپاره ، د دي نتیجه دا چی مومنان به جنتیان شی او نه منونکی به دوزخیان مومنان هغه بختور دی چی هغوئ تا سره په جهاد بیعت کړي دي او منافق د مال او اهل د مصروفیت نه فارغ ندی صرف د مال او دولت دپاره جنګ کوی او مومنان د الله تعالی د رضا طالبان دی نو الله

تري رضا دي او دنيا فتحي او غنيمتونه به ورلره هم ورکړی کافر تاسو سره جنګ نشی کولي الله تعالی به ستاسو مدد کوی او چی د حديبيه په موقع جنګ بند شو نو دا نه چی دوئ حقدار نه وو حقدار وو خو د الله تعالی حکمتونه وو پکښي او خوب به الله تعالی رښتيا کړی خو الله تعالی خپل دين خورول غواړی په ذريعه د نبی عليه السّلام او د داسي مرد ميدانانو چی د هغه سره ملګری دی .

(لنډه خلاصه)

آخر به فتح ستاسو وی نو خوشحاله شئ جهاد اوکړئ او سستی مه کوئ .

نزولها (۱۰۶) مصحفا (۴۹) سورة الحجرات مدنية ركوعات (۲) آيات (۱۸)

بسم الله الرحمن الرحیم

## (سورة الحجرات)

مومنانو دخپل جماعت دمنظم کیدلو خیال اوساتئ۔ او هغه پدې کیز.ی چه تاسو د ادابو لحاظ اوکړئ۔ د ادابو د لحاظ سره به تنظیم مضبوط شی۔ او خپلو کښې به اختلاف نه وی او چه هرکله خپلو کښې اختلاف نه وی نو مسئله دتوحید به ترقی کوی۔

(لنډه خلاصه)

البته د جهاد نه مخکښي منظم متّحد او متّفق اوسيدلو دپاره اداب زده کړئ او خبل مقتداء پيغمبر عليه السّلام باره کښي اداب زده کړئ .

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

## (سورة ق)

الله تعالیٰ خالق دي دټولو اشیاؤ او عالم په ټولو څیزونو او څه پدې سټرې شوې ندې نو څه وجه ده چه کافر وائی چه قیامت به نه راځی ؟ لکه چه الله تعالیٰ دغه کارونه کړی نو تعجب ته حاجت نشته ۔ قیامت به راځی منکر دقیامت به دشرک دوجې تباه شی لکه چه دنیا ئې تباه وه۔ او منونکی به جنت ته لاړ شی ۔ ته ددوی په اعتراضونو صبر کوه او توحید بیانوه او قرآن بیان کړه۔

(لنډه خلاصه)

جهاد صرف د دي وجی نه نه چی دوئ شرک بلکه دوئ د شرک سره سره د قیامت نه هم منکر دی د دي وجي نه دوئ ته دا مسئله هم اوخایئ چی د مړ کیدلو نه روستو یو ورځ ژوندی کیدل دی د دي وجي نه د قیامت نه اویریږئ او توحید اومنئ .

## (سورة الذّاريات)

شواهد او دلائل ددې خبرې موجود دی چه " انما توعدون لصادق وان الدين لواقع " نو دا اومنئ که مو اونه منله نو تباه به شئ لکه دا پنځه قومونه چه تباه شوی او آخرت کښې به هم تباه شی نو خه داده چه دخپل پيدائش مقصد اوپيژنئ او ددنيا نه الله تعالیٰ طرف ته اوزغلئ نو جنت به مو ځائې شی۔او کامياب به شئ۔

(لنډه خلاصه)

او صرف د قبرونو نه پاسيدل ندی بلکه حشر به وی چی په هغي کښې به سزا او جزاء له جمع کيدل دی .

## (سورة الطّور)

کوم خلق چه دپيغمبر ، توحيد اوقرآن او قيامت نه انکار کوی نو نقل وحی او عقل دليل پدې موجود دې چه د دوئ نه به عذاب واپس نشی او تباه به شی او کوم خلق چه اومنی توحيد او دپيغمبر نو داخلق به کامياب شی او دا به د دوی د کاميابئ سبب شی۔

(لنډه خلاصه)

بيا به دغه ځائی د مشرکانو نه يو تن هم د آخرت د عذاب نه بچ کيدلي نشی په چور دروازه هيڅوک نشی وتلي .

بسم الله الرحمن الرحیم

## (سورة النّجم)

دپیغمبرعلیه السلام دصداقت نخې څکاره موجود دی نو هغه چه کوم دعوت درکوی نو اومنئ نیکان بندیان عاجزان او فرشتې نو دګمان او خواهش په اتباع کښې دې عاجزانو ته الهه مه وایئ ـ راشئ دقرآن اتباع اوکړئ او ایمان راوړئ دا مسئله صاف ده ګنی تباه به شئ آخرت راروان دې نو تیارې ورله اوکړئـ

## (لنډه خلاصه)

او نه په دغه ځائی کښې څوک بې اجازته سفارشی دوئ خلاصولې شی .

بسم الله الرحمن الرحیم

## (سورة القمر)

چه قیامت راروان دې نو دقرآن بیان شوې مسئله چه خیر او برکت الله تعالیٰ په لاس کښې دې دا اومنئ تکذیب او انکار مه کوئ چه چا تکذیب کړې وو نو دنیا ئې هم تباه شوه او آخرت کښې هم تباه او فریادونه کوی او چه چا اومنله نو دالله تعالیٰ

ميلمانه به شی نو دقرآن د نجات او خلاصون كتاب دي نو نصيحت ترې واخلئ او اومنئ۔

(لنډه خلاصه)

د غير الله رامدد شه ځکه منع ده چی د الله نه علاوه بل څوک په هر څه پوهه او د هر څه کونکي نشته او نه رواني سمونکي .

نزولها (۹۷) مصحفها (۵۵) سورة الرحمن مدنية ركوعات (۳) ايات (۷۸)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة الرّحمن)

مهربان ذات قرآن راليږلې دې او دپوهې طاقت ورکړې دې نو راشئ ددې قرآن بيان شوی دلائل دعقل په تله اوتلئ نو دا فيصله به اوکړئ چه دخير اوبرکت مالک صرف الله تعالیٰ دې ـ ځکه هغه ذات باقی دې او نور مخلوق باندې فناء راځی نو هغه دخير او برکت مالک کيدلې نشی نو دا اومنئ کچرته اومو نه منله نو دوزخ به مو ځائې شی او چه مو اومنله نو جنت او بشارتونه خوشحالئ ځکه د خائسته عقيده چه " تبرک اسم " ده دهغې نتيجه او بدله هم خائسته وی۔

(لنډه خلاصه)

دغه شان د الله نه علاوه بل برکت ورکونکي نشته دي .

نزولها (۴۶) مصحفها (۵۶) سورة الواقعة مكية ركوعات (۳) ايات (۹۶)

بسم الله الرحمن الرحیم

## (سورة الواقعة)

قیامت حق دراتلو دې او په هغې به دخلقو درې قسمه جوړ شی ـ دوه کامیابو یو دناکامو دټولو تفصیل واورئ ـ دا دمسئلې دتوحید او رد دشرک فی البرکت دوجې مه چا منلې وه او چا نه وه منلې نو دا مسئله خو بالکل واضحه ده خو ضدیان ضد کوی او زبردست کتاب په حواله کیږی نو دلائل ،موجود دی او کتاب هم زبردست نو اومنئ چه " فسبّح باسم ـــ "

(لنډه خلاصه)

نو د دي وجي پدي صفت د برکت کښي هم الله تعالی د شریک نه پاک اوګڼړئ .

نزولها (٩٤) مصحفا (٥٧) سورة الحديد مدنية ركوعات (٤) آيات (٢٩)

بسم الله الرحمن الرحیم

## (سورة الحدید)

مسئله دتوحید صاف مسئله ده نو ددې دترقئ دپاره مال اولګوئ دا مالونه الله درکړی دی نوخرچ ئې کړئ او پاتې کیږی به درنه نو ولې نه خرچ کوئ او څه قرض ئې ورکړئ چه ډیر درکړی دنیا بې حقیقته څیز دې نو فائده ئې داده چه آخرت پرې اوګټه او که دا غم وی درسره چه مصیبت وخت کښې به پکار راشی نو دافضول

ده مال مقرر شوې مصيبت نشی دفع کولې نو خه داده چه مال خرچ کړئ دا به درله نور شی او چه چا خرچ نه کړو نو نور پسې به ارمان کوی مال دجهاد دترقئ دپاره نو جهاد اوکړئ ۔ دااصل رهبانيت او ملنګی ده دا ملنګی نه ده چه ګوټ کښې کينه ۔ پاسئ جنګ اوکړئ نو ډبل اجر به درکړی۔

(لنډه خلاصه)

او چی څوک دا مسئله نه منی الټه منونکی تنګوی وهل ټکول کوی نو هغوئ سره جهاد اوکړئ او د جهاد دپاره انفاق فی سبيل الله تعالی اوکړئ چی انتهائی ضروری دي .

نزولها (١٠٥) مصحفها (٥٨) سورة المجادلة مدنية ركوعات (٣) آيات (٢٢)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة المجادلة)

مومنانو خبردار شئ منافقان ستاسو مينځ کښې فساد غورځوی نو چه کوم د اعتراضونو او طعن ځائې وی لکه رسم باطل نو دا ختم کړئ او خپل جماعت منظم اوساتئ په ادنیٰ سطح هم او په اعلیٰ سطح هم منافقان ستاسو خلاف جرګې کوی او غلطې خبرې کوی او ستاسو دشمنانو سره دوستی کوی لهذا تاسو د قواعد لحاظ اوکړئ او منافقانو دجماعت نه لرې کړئ او بائيکاټ ترې اوکړئ نو په دنيا و آخرت به کامياب شئ او هغوی په دنيا او آخرت تباه دی۔

(لنډه خلاصه)

په جهاد او انفاق کښي کمي کونکي کټر منافقان ته زورني واوره .

سورة الحشر مدنية — نزولا (١٠١) — مصحفا (٥٩) — ركوعات (٣) — آيات (٢٤)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة الحشر)

دتوحيد مسئلې نه منکر هغه که هر څومره مضبوط دی تباه به شی لکه يهود چه تباه شوچه کوم مال حاصل شی هغه محض دالله تعالىٰ احسان نو دالله د قانون تقسيم کړئ او په محتاج خلقو دمومنانو مال اولګوئ چه دوی دفقر نه بچ شی او مجبوره نشی کوم چه تاسو کښې منافقانو نو دهغو پليتو انجام ته اوګوره نو تاسو آخرت له تياری اوکړئ لکه دهغوی ځان له د فائدو نه مه محرومه کوئ ـ قرآن زبردست کتاب راواخلئ او دهغې نه مسئله دتوحيد زوته کړئ او بيان کړئ او دې له جهاد او انفاق اوکړئـ

(لنډه خلاصه)

په جهاد او انفاق کښي سستی کونکي دواړه منافقانو ته هم زورني واوره .

نزول (۹۱) مصحف (۶۰) سورة الممتحنة مدنية رکوعات (۲) آیات (۱۳)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورةالممتحنة)

مومنانو کافرانو دالله تعالیٰ دشمنان دی او ستاسو هم دشمنان دی نو هغوی سره تعلق مه ساتئ۔ابراهیم علیه السلام او دهغو ملګرو ته اوګورئ چه کوم کار ورله مناسب وی نو هغه کوئ نامناسب نه ځان اوساتئ۔

## (لنډه خلاصه)

په جهاد او انفاق کښي کمی کونکی کمزوری مومناتو ته هم زورني واوروه .

نزول (۱۰۹) مصحف (۶۱) سورة الصف مدنية رکوعات (۲) آیات (۱۴)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة الصّف)

مومنانو داسې مه کیږئ چه خبره کوئ چه جنګ به کوو او چه بیا موقع راشی نو کوئ نه دالله تعالیٰ مبغوض به شی لکه دقوم موسیٰ علیه السلام نران شئ کافران دمصدّق او مبشّر دانبیاء دپیغّبر نه انکار کوی او ددین خلاف سازشونه جوړوی ـ نونران شئ جنګ اوکړئ محبوب دالله به شئ دین به غالب شی او جنت به

مو ځائې شی بیا په کافرو به زوراور شئ او نصرت به مو الله تعالیٰ اوکړی۔

(لنډه خلاصه)

په جهاد او انفاق کښي کمی کونکی ډیر کمزوری مومنانو ته هم زورني واوروه که تاسو د الله تعالی محبوب جوړیدل غواړئ نو جهاد اوکړئ په دنیا کښي فتح او آخرت کښي به همیشه جنت ملاؤ شی .

(سورة الجمعة)

دتوحید مسئله حق ده حق پیغمبر پرې حق کتاب بیان کړې دې اوس هم څوک نه منی نو مثال به ئې دخر شی او رادِ شی چه سره دحق منلو انکار کوی نو مباهله دِ اوکړی چه نه کوی نو جنګ ورسره اوکړئ او دمرګ نه مه یریږئ او اجتماعاتو ته حاصل شئ ۔ دا مسئلې دجهاد او انفاق زده کړئ او خورې کړئ دنیا ته دآخرت په مقابله کښې توجه مه کوئ۔

(لنډه خلاصه)

اي مومنانو! د نبی علیه السّلام سره تعاون کوئ د مرګ نه مه یریږئ د مرګ نه خلاصي نشته دي انفاق فی سبیل الله کوئ او د

جمعي خطبي کښي راځئ . او د انفاق وغيره باره کښي هدايات اورئ.

نزولا (۱۰۴) مصحفا (۶۳) سورة المنافقون مدنية رکوعات (۲) ايات (۱۱)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة المنافقون)

منافقان مو اوليدل ځومره ناکاره خلق دې او تاسو سره ځومره نفاق لری او بغض او حسد لری او ستاسو باره کښې څه څه خبرې کوی نو شابئ پاسئ په خپلو محتاجو رونړو باندې خرچ اوکړئ چه غير ته دداسې خبرو موقع ملاؤ نشی او دمنافقانو محتاج کيږئ مه۔

### (لنډه خلاصه)

تاسو چی د جمعی په خطبه کښي د انفاق کوم مسائل اوريدلی دی نو په هغي د زړه نه عمل اوکړئ انفاق اوکړئ ګنی ارمان به کوئ اوګورئ خزاني د الله اختيار کښي دی هغه به درکوی د مال او اولاد يري نه انفاق مه پريږدئ .

نزولا (۱۰۸) مصحفا (۶۴) سورة التغابن مدنية رکوعات (۲) ايات (۱۸)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة التّغابن)

ځلورو واړو مقاصد هغه اومنئ چه ددنیا او دآخرت دعذاب نه بچ شئ او خوشحالئ مو په برخہ شی او ددې دپاره که مصائب راشی برداشت کړئ په الله تعالیٰ توکل اوکړئ او دالله او رسول داطاعت نه مو دنیا بند نه کړی۔ دجهاد دپاره په کهلاؤ زړه خرچ اوکړئ الله تعالیٰ به اجر درکړی۔

### (لنډه خلاصه)

هر کله چی متصرف ، عالم الغیب او برکتونه ورکونکي الله تعالی دي او د هغي مخي ته څوک بي اجازته سفارشی نشته دي او نه د هغه څوک شریک ، نائب ، مدد کونکي نه وزیر نظیر او مشیر نو امنوا بالله ورسوله والنّور الّذی انزلنا ، او د کافرانو نه مه یریږئ په الله تعالی اعتماد کوئ او خپلو کښي متّحد اوسیږئ او انفاق کوئ الله تعالی به اجر درکړی .

نزول (۹۹) مصحف (۶۵) سورة الطلاق مدنیة رکوعات (۲) آیات (۱۲)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة الطّلاق)

نظم ونسق برابر کړئ ۔ خصوصاً دکور تفرقه عداوت په خپله مینځ کښې رانشی۔نو جهاد کښې به سستی نه راځی۔او دکافرو مقابله به خه په خکلی انداز کیږی۔او دا نظم او نسق ددې دپاره دی چه دا مقاصد ترقی اوکړی ۔ څوک چه دا نه منی نو دنیا او آخرت کښې تباه دی او چه چا اومنل نو هغوی له جنتونه دی۔

(لنډه خلاصه)

خپلو کښي متّحد اوسيږئ د بي اتّفاقئ کارونه مه کوئ .

سورة التحريم مدنية — نزولها (۱۰۷) مصحفا (۶۶) — رکوعات (۲) ایات (۱۲)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة التّحريم)

چه په ځان تنګی مه راولئ که قسمونه مو کړی وی نو هغه مات کړئ او دامير راز مه فاش کوئ۔ دپيغمبر نافرمانی مه کوئ تاسو دهغه اطاعت اوکړئ۔او دهغه اطاعت کښي جهاد او انفاق اوکړئ داور نه بچ شئ نور به درکړی نو جهاد اوکړئ او دقرابت څه لحاظ نشته ۔ تکاليف برداشت کړئ لکه چه امرأة فرعون برداشت کړی وو او کوشش مجاهده اوکړئ لکه چه مريم مجاهده کړې وه۔

(لنډه خلاصه)

او د خپل پيغمبر اتّباع کوئ اسـں مـيں نجـاتـ ہے د ايمان نه بغير د نسب تعلق څه فائده نشته ځان او اولاد د اور نه بچ کړئ .

سورة الملك مكية — نزولها (۷۷) مصحفا (۶۷) — رکوعات (۲) ایات (۳۰)

بسم الله الرحمن الرحيم

**(سورة الملک)**

دملک او قدرت او خلقت او دعلم ددلائلو او دآسمان او زمکې او دفضاء او دانسان خپل حالات او دزمکې دمینځ حالات هغه پدې دلالت کوی چه " تبرک الذی ـــ " چه خیر اوبرکت اختیار دیو الله تعالیٰ دې نو ددې نه منکر به دنیا اوآخرت کښې تباه شی او چه چا اومنله نو هغه به کامیاب شی او دعذاب نه به بچ شی۔

(لنډه خلاصه)

او نفی د برکتی شرک هم کوئ .

سورة القلم مكية — نزولا (٢) مصحفا (٦٨) — ركوعات (٢) آيات (٥٢)

بسم الله الرحمن الرحيم

**(سورة القلم)**

اې محبوب د دنیا یو هوښیار تا ته مجنون نه شی وئیلې ته حق پیغمبر ئې او ستا مشن اوچت مشن دې مخالفین به تا د مشن نه بندوی په عجیب طریقو نو خبردار بند نه شې سست نه شې ستا په مسئله نه منونکو به د دنیا او د آخرت عذاب راشی خو انتظار کوه تلوار مه کوه او کار جاری ساته۔

(لنډه خلاصه)

او د کافرانو د تکلیفونو د وجي نه د مسئلی په بیان کښي سستی مه کوئ .

## (سورة الحاقّة)

قیامت حق دي څوک چه توحید ، رسالت نه منی او شرک فی البرکة کوی او انفاق نه کوی نو په هغوی دنیا کښې او اخرت کښې عذاب حق دې او د دې منونکی به بچ شی د عذاب نه ـ

### (لنډه خلاصه)

بلکه د قیامت د عذاب د یري د وجي نه د شرک فی البرکة نه خپله هم بند شئ او نور هم بند کړئ .

## (سورة المعارج)

دا نا اهله کافر عذاب غواړی نو انتظار کوه او تسلی ساته او دوی دې عبثو کښې پریږده دا ورځ خطرناکه اوږده خامخواه د راتلو ده بیا به نجات نه وی دوی له نجات په نیکو اعمالو دې او هغه ددوی سره نشته دې نو څه به نجات اوموميـ

(لنډه خلاصه)

او د عذاب نه د بچ کیدلو په اسبابو کلک شئ .

نزولا (٧١) مصحفا (٧١) — سورة نوح مكية — ركوعات (٢) ايات (٢٨)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة نوح)

کافران دي د دنیا د عذاب نه بې یرې کیږی نه الله تعالیٰ نوح علیه السلام په دې مسئله رالیږلې وو هغه زبردست بیان کړې وو په طریقو طریقو او په ترغیب او تخویف او په دلائلو خو قوم نه وو منلې هغه تباه او برباد شو نو دوی به هم تباه او برباد شی---

(لنډه خلاصه)

د نوح علیه السّلام هم دا عقیده وه د دي مسئلی دعوت ئي خپل قوم ته ۹۵۰ کال ورکړي وو .

نزولا (٤٢) مصحفا (٧٢) — سورة الجن مكية — ركوعات (٢) ايات (٢٨)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة الجنّ)

اوګوره جناتو حنګه خپل قوم ته د قرآن کریم او رد د شرک دعوت ورکړې دې او د توحید ترغیب ورکړې دې او د خلاف نه ئې یرولی دی نو راشئ صرف الله تعالیٰ رامدد کړئ بل څوک

کارساز متصرف او عالم الغيب نشته دي دد نه انکار هغه د تباهئ سبب دي۔

(لنډه خلاصه)

پيريانو هم دا مسئله د نبی عليه السّلام د خلي نه واوريدله او خپلو نسبيانو پيريانو ته ئي اوخودله .

نزولها (٣) مصحف (٧٣) سورة المزمّل مكية ركوعات (٢) آيات (٢٠)

بسم الله الرّحمن الرّحيم

## (سورة المزّمل)

اې محبوب قرآن کريم صاف صاف بين کړه د شپې بيان کړی مضمون به هم ياد شی او ورځ ملګری غريبانان دی کيدې شی فارغ نه وی او د مخالفينو فکر مه کوه هغه ما ته حواله کړه ځه به ئی خبر واخلم۔۔۔

(لنډه خلاصه)

نو اي نبی عليه السّلام ته هم د قران کريم پدي دعوی باندی کلک اوسيږه لااله الّا هو فاتّخذه وکيلًا .

نزولها (۴) مصحفا (۷۴) سورة المدثر مكية ركوعات (۲) ايات (۵۶)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة المدّثّر)

اے د شرک او د درگاهونو ختمونکيه او د دعوت په فکر کښې ځان په ځادر کښې بندونکيه ! پاسه په اصول د دعوت سره دعوت ورکړه او دخپل رب بيان کړه ډيره خطرناکه ورځ راروانه ده ددين دشمن د آيتونو سره ضد او عناد کونکی به په خطرناک اور سيزلے شی چې د هغے انتظاميه د زورورو او طاقتورو فرشتو سره ده د اعتراضونو په ځائ نصيحت اغستل لکه د سپوږمئ خو چے په بدر کښې اوځليږی او ستا د تکليفونو شپه به صبا شی نو بيا به ستا په مشن پسے ارمان اوکړی خو وخت به تير وی نن دقرآن نه لکه د خرونو تختی او اعتراضونه کوی خو دا د نصيحت کتاب وو نصيحت ترې اغستل پکار وو ، پکار ده چه د الله تعالیٰ نه اويريږی چه هغه ئ معاف کړی.

(لنډه خلاصه)

او نورو ته ئي هم اووايه قُم فاَنذِر .

نزولها (۳۱) مصحفا (۷۵) سورة القيمة مكية ركوعات (۲) ايات (۴۰)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة القيامة)

دوئ ستا د دعوت نه انكار ځكه كوی چي دوئ د آخرت نه نه يريږی او د هغي نه انكار كوی نو د قيامت ورځ حقه ده په دوئ كښي خپله د قيامت د منلو نخي شته دي خو دوئ د ټوقي په طريقه د قيامت باره كښي تپوسونه كوی نو هغه خو ډيره خطرناكه ورځ ده د هغي حالات دِ اوګوری بيا به ئي د تيختي ځائي نه وی او په هيڅ عذر به خلاص نشی او الله ته لكه چي دا كارونه آسان دی چي ستاسو هډوكی غونډ كړی او ستاسو اعمال راجمع كړی نو هغه ستا په سينه قران هم جمع كولي شی خو د نه منلو وجه دا ده چي په دنيا مئين دی او د آخرت تياري نه كوی نو انتهائی خطرناكه ورځ راروانه ده خو چي دوئ د توحيد ، پيغمبر او قران نه انكار كوی نو تباه به شی .

(لنډه خلاصه)

او پدي ئي هم پوهه كړه چی قيامت راتلو والا دي د دي نه اويريږئ او توحيد اومنئ قيامت خو راځی .

سورة الدهر مكية — نزولا (٩٨) مصحفا (٧٦) — ركوعات (٢) آيات (٣١)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة الدّهر)

قیامت حق دی خپل خلقت او پیدائش ته اوګوره عبرت واخلئ ـ منکر دقیامت له سزا ده څوک چه دقیامت نه یریږی تیارې کوی نو دهغوی خوشحالئ اوګورئ نو قرآن راواخلئ او دا مسئلې دآخرت او دتوحید بیان کړئ دنیا ته توجه مه کوئ۔

### (لنډه خلاصه)

او بیا به حشر هم وی پدې د یقین کولو دپاره د نمونې په طور د انسان پیدائش ته هم اوګورئ .

سورة المرسلٰت مكية — نزولا (٣٣) مصحفا (٧٧) — ركوعات (٢) آيات (٥٠)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة المرسلات)

دقیامت په راتلو شواهد موجود دی او دا عالم به فنا شی او دلائل د قدرت دالله تعالیٰ موجود دی نو قیامت اومنئ که نه منئ نو غرق او تباه به شئ هم په دنیا او هم په آخرت کښې نو راشئ شریک پریږدئ۔ او پدې قرآن ایمان راوړئ۔

### (لنډه خلاصه)

او د دي نه علاوه د عذاب نموني واورئ .

سورة النبا مكية — نزولا (٨٠) مصحفا (٧٨) — ركوعات (٢) ايات (٤٠)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة النّبأ)

كافران ددومره غټې خبرې باره کښې تپوسونه او انکار کوی او اختلاف کوی دوی دالله قدرتونو اودې مشترک نظام ته نه ګوری یوورځ خامخوا د جدایئ راروانه نو دوی به دخپلو کړو سزا ملاؤ شی او چه چا منلې وه هغه ته به خوشحالئ جدائی به راشی او داخیال غلط دې ما به څوک خلاص کړی په منلو به خلاصیږی نو راشئ تیاری اوکړئ ګنی ارمان به کوئ۔

### (لنډه خلاصه)

او بیا د دي دلائل په تفصیل سره واورئ .

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة النّازعات)

په دنیا کښې لکه چه فرشتې دسختئ او نمئ مسلط دی نو دغه شان په آخرت کښې به هم نو استهزاء ګانې مه کوئ ـ دالله تعالیٰ دعذاب نه اویرېږئ که سرکشی مو اوکړه نو لکه دفرعون به تباه شئ او دالله دقدرت نه څه قیامت بعید نه دې نو اتباع نفس پرېږدئ د الله تعالیٰ تابعداری اوکړئ ګنی ارمان به کوئ۔

### (لنډه خلاصه)

او بیا دا هم سوچ اوکړئ چې د قیامت په ورځ فرشتې مقرر وی چې خو سره به نرمی کوی او بدو سره د سختئ سلوک .

(سورة عَبَسَ)

اي محبوب دومره حرص مه کوه قرآن نصیحت دي نو منیب ته بیان کړه او غیر منیب سره د دلائلو انکار کوی نو وخت به راشی او دخپل انکار انجام به معلوم کړی۔

(لنډه خلاصه)

نو بیا به په دغه ورځ څوک په کار نه راځی بلکه ځان ځانلی به وی او ټول به د یو بل نه تختی .

(سورة التّکویر)

خطرناک حالات دقیامت نه مخکښې او روستو راروان دی او دهر انسان ملاقات به دخپلو اعمالو سره کیږی نو راشئ دا دنیا د فناء ده آخرت کښې ځان له کور جوړ کړئ او دقرآن او دپیغمبر وینا بالکل حق ده ۔ ددې نه تیخته مه کوئ۔

(لنډه خلاصه)

بیا به نیغ خپلو خپلو ځایونو ته ځی او په دوئ څو قسمه حالات راځی .

(سورة الانفطار)

دا آباده دنیا به تباه شی نو اې انسانه د رب خپل چه ستا خالق دې د هغه نه غفلت مه کوه او دقیامت تکذیب مه کوه اعمالو سره به ملاؤ شې هلته دې بیا څوک هم مدد کولې نشی۔

(لنډه خلاصه)

بیا به دوئ د خپلو خپلو ځایونو نه نشی وتلي .

(سورة المطفّفین)

دحقیر څیز په نقصان خفه کیږئ او دآخرت نعمتونه پریږدئ تکذیب او استهزاء پریږدئ او ایمان او نیک عمل سره جنت حاصل کړئ ګنی تباه به شئ او د دیدار الهی نه به محروم شی۔

(لنډه خلاصه)

بلکه د وتلو دپاره د یو سفارشی سفارش هم نه چلیږی .

سورة الانشقاق مکیة

بسم الله الرحمن الرحیم

## (سورة الانشقاق)

دنیا به ختم شی نو نیک اعمال اوکړئ چه عمل نامه درته په خی لاس ملاؤ شی او داسې نه چه بیا دګس لاس والا شئ او خوشحالئ مو ختم شی دا حالات به راځی نو ولې دقرآن نه انکار کوئ معذب به شئ چه ایمان راوړئ او نیک اعمال اوکړئ نو هغه کامیاب وی۔

(لنډه خلاصه)

بیا په تاسو مختلف قسمه حالات راځی .

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

## (سورة البروج)

شواهد موجود دی چه دوئ چه دموحدینو دشمنی کوی او سزا ګانې درکوی نو الله تعالیٰ پرې احاطه کړې ده سزا به درکړی لکه چه نورو لره مو کړې ده۔

### (لنډه خلاصه)

بیا به د هغه ځائی نه تختیدلي نشئ .

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ

## (سورة الطّارق)

په تاسو نګهبان موجود دې او دقیامت راتلل دخپل پیدائش او د باران اوفصل ختمولو نه معلومیږی څه ګپ ندې که اوس هم نه منی نو عذاب به راشی۔

### (لنډه خلاصه)

بلکه د هر یو په سر به یو ساتونکي فرشته مقرر وی .

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة الاعلی)

الله تعالیٰ دشريکانو نه پاک اومنزه اوګڼرئ ځکه هغه خالق دهرڅه دې او عالم په هرڅه دې چه دا دوه خبرې اومنه دوه انعامه به درکړی او قرآن او جنت او چه قرآن ئې درکړو نو اوس بيان کړه او ستا بيان سره به دوه ډلې شی دا ځکه چه ځنې آخرت په ځائې دنيا خوخوی نو دوی له دنيا پريخودل پکار دی او آخرت ته توجه پکار ده او دا دټولو آسمانی کتابونو مضمون دې۔

(لنډه خلاصه)

د دي وجي دنيا پريږدئ او توحيد اومنئ .

سورة الغاشية مكية — نزولا (٦٧) مصحفا (٨٨) — ركوعات (١) ايات (٢٦)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة الغاشية)

توحيد اومنئ او دنيا پريږدئ چه چا داسې اونکړل نو هغه به ذليله او خوار وی او چه چا اومنله نو هغه ته زبردست انعامات او درجات ملاؤ شی او د درجات څه بعيد نه دی۔ دنيا کښې هم دهغې مثالونه شته دې نو ته بيان اوکړه او ته څه په دوئ داروغه نه ئې چه منی نو انجام ئې بد دې۔

(لنډه خلاصه)

او د عذاب د آخرت نه اویریږئ .

سورة الفجر مكية — نزولها (١٠) مصحفا (٨٩) — ركوعات (١) آيات (٣٠)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة الفجر)

چه اې انسانه دقیمتی اوقاتو نه فائده واخله چا چه نه وه اغستې څه انجام ئې شو په مال کښې عزت مه ګڼړه قیامت کښې دا نه پکاریږی عزت دالله تابعدارئ کښې دې نو راشئ اطاعت اوکړئ چه کامیاب شې۔

## (لنډه خلاصه)

او د دنیا د میني د اسبابو نه مخ واړوئ او نیک اعمال کوئ چی د زړه نه د مال مینه اوځی .

سورة البلد مكية — نزولها (٣٥) مصحفا (٩٠) — ركوعات (١) آيات (٢٠)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة البلد)

انسان مشقت له پیدا دې نو په ځائې دې مشقت اوکړی چه کامیاب شی دا نه چه ناکامه شی۔

(لنډه خلاصه)

او مال په صحیح ځایونو اولګوئ چی د زړه نه مو د مال محبت اوځی.

نزولها (۲۶) مصحفا (۹۱) سورة الشمس مكية ركوعات (۱) ايات (۱۵)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة الشّمس)

دپاک اعتقاد والا او پلیت اعتقاد والا ندی برابر  لکه دا شپږ ځیزونه  ندی برابر پاک اعتقاد والا کامیاب او د پلیت اعتقاد والا ناکام دي لکه ثمودیان شو۔

(لنډه خلاصه)

ګورئ موحد او مشرک برابر ندی .

نزولها (۹) مصحفا (۹۲) سورة الليل مكية ركوعات (۱) ايات (۲۱)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة الّيل)

لکه چه پاکه او پلیته عقیده برابر نه  وو نو دغه شان نیک او بد عملونه  هم ندی برابر لکه شپه او ورځ او نر او اوښځه چه ندی برابر د هر عمل اثر جداجدا دي نو د نیک عمل چه په شرطونو برابر وی نو دهغې اثر جنت دي او دبل چه شرطونه  نه  وی نو

اثر جنت دې نو په دنیا نازیږئ او ځان له پرې آخرت اوګټئ لکه د متقی او د پرهیز ګاره .

(لنډه خلاصه)

نیک او بد هم برابر ندی .

سورة الضحى مكية — نزولها (١١) مصحفا (٩٣) — ركوعات (١) ايات (١١)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة الضّحى)

اې محبوبه تسلی ساته وحی کله بنده شی کله راشی لکه دشپې او دورځې ـ تاله الله تعالیٰ یو لوئې مقام تیار کړې دې دربه کړی نو تا باندې الله تعالیٰ انعامات کړی دی نو دهغې بدل کښې ته هم په خلقو شفقت کوه او خپله ذمه واری سر ته اورسوه۔

(لنډه خلاصه)

اې پیغمبره د الله ته تسلی ساته .

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة الانشراح)

دمال نعمتونو ته توجه مه کوئ اصل نعمتونه هغه دادی نو کار جاری ساتئ او دعوت ورکړئ ـ

## (لنډه خلاصه)

او د نبی عليه السّلام صحابه دِ هم تسلی ساتی .

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة الثّين)

مسئله دتوحيد په نقل ، وحی او عقل ثابته ده ددې منونکی هغه کامياب دی او چه نه منی ذليله شیـ نو لکه ددې انبياء کرامو دا په بهادرئ سره اورسوئ ـ

## (لنډه خلاصه)

دنيا هيڅ څيز ندي .

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة العلق)

انسان په انسانیت عام مخلوق کښې عزتمند شوې دې او په قرآن سره به په عام انسانانو کښې عزتمند شی نو قرآن راواخلئ چه اکرام درکړی او چه ددې قرآن لار اونیسی نو دوزخ به ئې ځائې شی نو دداسې خلقو پرواه مه کوه او کار جاری ساته۔

(لنډه خلاصه)

قران لوئی دولت دي قران وایه اوروه که منی او که نه منی .

نزولها (٢٥) مصحفا (٩٧) سورة القدر مكية ركوعات (١) آيات (٥)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة القدر)

قرآن راواخلئ او اولولئ بیان کړئ چه الله تعالیٰ برکت درکړی او رحمت لکه چه په شپه کښې برکت اچولې دې۔

(لنډه خلاصه)

دا قران خو هغه دي چی د برکت په شپه کښي د دي نازلیدل شروع شوی دی .

نزولها (١٠٠) مصحفا (٩٨) سورة البيّنة مدنية ركوعات (١) آيات (٨)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة البيّنة)

دټول خلقو کتاب او پيغمبر ته حاجت دې نو په شرطونو برابر پيغمبر او کتاب راغلل ـ نو شابئ عقيده صحيح کړئ او دبدن او دمال عبادت الله تعالیٰ له اوکړئ او لکه داختلاف کونکو اختلاف مه کوئ ـ چاچه نده منلې نو هغه بدتر دمخلوقاتو دی او تباه شو او چاچه اومنله نو هغه کامياب شو۔

## (لنډه خلاصه)

او پدي قران کښي د توحيد د مسئلی بيان دي او دا مسئله ټولو ته ميلاؤ شوی ده .

سورة الزلزال مدنية — نزولها (٩٣) مصحفا (٩٩) — ركوعات (١) آيات (٨)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة الزّلزال)

دقيامت هيبت ډير خطرناک هيڅ عمل مو پټيدلي نشی نو راشئ اوس انقياد دالله تعالیٰ اوکړئ۔

## (لنډه خلاصه)

په آخرت کښي هر يو نيک او بد د خپلو کړو بدله مومی.

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة العاديات)

د اسانو نه عبرت واخلئ دمال محبت پریږدئ اخرت رایادکړئ او د رب تابعداری اوکړئ۔

### (لنډه خلاصه)

خو افسوس چی د قران غونتي ناڅاپی ملاؤ شوی نعمت باوجود بیا هم کافر قدر نه پیژنی .

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة القارعة)

دقیامت هیبت ډیر خطرناک او جهنم هم ډیر خطرناک نو اوس نه ورله تیارې اوکړئ۔

### (لنډه خلاصه)

نو د دي داسي ناقدرو به د قیامت په ورځ بد حال وی البته نیکان به خوشحاله وی .

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة التّكاثر)

ددنيا محبت د مقصد اعلیٰ نه غافله كړئ داسې نده پكار ځكه دا دنيا به درباندې وبال شی او ددې دنعمتونو باره كښې جواب ده يئ۔

### (لنډه خلاصه)

اوس كافر د دنيا په مينه كښي دهوكه دی .

نزولها (۱۳) مصحفا (۱۰۳) سورة العصر مكية ركوعات (۱) ايات (۳)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة العصر)

دانسان عمر دانسان په خسران شاهد دې كه ځان بچ كول غواړی نو دا څلور اعمال دِ اوكړی چه بچ شی۔

### (لنډه خلاصه)

خو دا د دنيا مينه به ئی تباه كړی .

سورة الهمزة مكية

بسم الله الرحمن الرحيم

**(سورة الهمزة)**

د حق پرستو پسې خبرې کونکې او کنځلې کونکې تباه دې مال ئې نشی بچ کولې خطرناک اور به ئې ځائې شی۔

(لنډه خلاصه)

چی کوم د مال په مينه مست دی .

سورة الفيل مكية

بسم الله الرحمن الرحيم

**(سورة الفيل)**

باطل پرست چه دشعائرالله بې عزتی کوی او هر څومره مضبوط وی او هر څومره منصوبې جوړې کړی خو کاميابيدلې نشی۔او ناکام به شی۔

(لنډه خلاصه)

دومره سوچ نه کوی چی د هاتيانو والو څه انجام شو .

سورة قريش مكية

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة القريش)

دمال دپاره ځومره ځان کړوئ او دالله تعالیٰ عبادت او دبیت الله خدمت پرېږدئ داسې نده پکار۔

### (لنډه خلاصه)

اي قریشو ! تاسو د دي بیت الله د وجي عزت ملاؤ شوي دي نو تاسو ته پکار وو چی صرف الله مو رامدد کولي .

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة الماعون)

ددنیا محبت بنده دغلطو اوصافو ته راکاږی چه بیا نه دخالق خیال ساتی او نه په مخلوق شفقت کوی نو تباه شی۔

### (لنډه خلاصه)

خو په دوئ افسوس چی د عقیدي نه علاوه د دوئ معاشره هم خرابه ده که یتیمان او مسکینانو باندي د خرچ کولو په ځائي چاله صرف یو ځیز د استعمال دپاره هم نه ورکوی .

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة الكوثر)

مال او بدن ځما کړه نو لوئي خیر به درکړم او دشمن به دې تباه کړم۔

### (لنډه خلاصه)

خه ! اې پيغمبره د الله تعالی تا ته قران ملاؤ شوي دي نو ته د خپل د شرک اعتقادی او فعلی په رد کښې مصروف اوسيږه .

سورة الکفرون مکية — نزولا (١٨) مصحفا (١٠٩) — رکوعات (١) ايات (٦)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة الكافرون)

اې كافرو! ماخپل مال او بدن دالله رب العزت دپاره سپارلی دی ځه پديکښې دبل معبود برخه او طريقه نه  منم نو ستاسو دمعبودان باطلو او طريقې باطلې نه ځما اوس هم بائيکاټ بيا هم بائيکاټ كه تاسو نه  منئ نو مه منئ ځه به خپل بيان او مشن جاری ساتم۔

### (لنډه خلاصه)

او د كافرو نه بائيکاټ كوه .

سورة النصر مدنية — نزولا (١١٤) مصحفا (١١٠) — رکوعات (١) ايات (٣)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة النّصر)

کاميابی ستاسو ده خو بيا هم په مشن کلک اوسيږئ ـ

## (لنډه خلاصه)

الله به ستا مدد کوی .

نزولها (٦) مصحفا (١١١) سورة اللهب مكية ركوعات (١) آيات (٥)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة اللّهب)

چه دحق پرست دشمن که نر که ښځه نو تباه به شی هم دنیا هم په آخرت کښې او دهغه مال دولت او مکرونه به ورله فائده ورنکړی۔

### (لنډه خلاصه)

او کافر به هلاک کړی .

نزولها (٢٢) مصحفا (١١٢) سورة الاخلاص مكية ركوعات (١) آيات (٤)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة الاخلاص)

چه الله په ذات او صفات کښې یو اوګنړئ نه دهغه څوک نائب شته او نه ده چا نائب دې او نه څوک برابر ټول مخلوق دهغه په هرڅه کښې محتاج دې ۔

### (لنډه خلاصه)

او ته د کامل توحید اعلان اوکړه .

نزولها (٢٠) مصحفا (١١٣) سورة الفلق مكية ركوعات (١) آيات (٥)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة الفلق)

چه دتوحيد دعقيدې د حفاظت دپاره دالله رب العزت پناه او مدد حاصل کړه دهر قسم شر نه ـ

### (لنډه خلاصه)

ته په خپله هم پدي کلک اوسيږه او د دي تبليغ کوه او د دنيا آفتونو نه د بچ کيدلو دپاره د الله تعالى په فناء کښي راشه .

نزولها (٢١) مصحفا (١١٤) سورة الناس مكية ركوعها (١) اياتها (٦)

بسم الله الرحمن الرحيم

## (سورة النّاس)

د الله تعالیٰ چه رب دې او مالک دې او اله دې د هغه مدد او پناه حاصله کړه او دشيطان د شرونو نه پرې ځان محفوظ کړه ـ هغه خطرناک دې او که دانسانانو شيطان وی که دجناتو نو زړه درله خرابوی نو مدد الهی حاصل کړه۔

### (لنډه خلاصه)

او د آخرت او ديني آفتونو نه د بچ کيدلو دپاره د الله فناء کښي راشه.

نزولها (٥) مصحفا (١) سورة الفاتحة مكية ركوعها (١) اياتها (٧)

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

## (سورة الفاتحة)

اې انسانانو اوپيريانو ! دخدائې توب صفات صرف الله تعالیٰ له اومنئ هغه خالق اورب او رحمٰن او رحيم يعنی برکت غورځونکې او اختيارمند دې نو صرف هغه له عبادت کوئ۔او په حاجاتو کښې صرف هغه رامدد کوئ۔دا يو خکلی او مضبوطه عقيده ده پدی دکلکيدلو دعاګنی کوئ چه الله ددې عقيدې دعمل کونکو او علم لرونکو سره مو يو ځائې کړی او کوم چه سره دعلمه نه منی او يا دهغوی علم خراب شوې دې دهغوی د ملګرتيا نه مو اوساتې۔

(لنډه خلاصه)

او دا اووايه چې مونږ صرف د الله تعالی نه مدد غواړه او آئنده کښې به تري هم غواړو .

سبحنک اللهم وبحمدک اشهد ان لّا اله الّا انت استغفرک واتوب اليک .